# زهر او ادب

(د جبران خلیل جبران ادبي هڅې)

Ketabton.com

امید حیران

۱۳۹۴ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژهر او اوبه

امید حیران

۱۳۹۴ ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

## کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: زهر او اوبه

لیکوال: امېد حيران

خپروندی: د افغانستان ملي تحريك، فرهنګي څانګه

وېبپاڼه: www.melitahrik.com

کمپوزګر: خپله ليکوال

ډيزاينګر: ضياء ساپی

پښتۍ ډيزاين: فياض حميد

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپکال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحريك د خپرونو لړ: (۳۹)


يادونه: د چاپ حقوق له ملي تحريک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسوليت ليکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


| ګڼه | سرلیک | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۱ | د سر خبرې | ۱ |
| ۲ | ژوند لیك | ۴ |
| ۳ | د جبران خلیل اثار د منځپانګې له پلوه | ۱۴ |
| ۴ | هنري نثرونه، لنډې کیسې او ادبي ټوټې | ۱۶ |
| ۵ | جبران او ګوهر | ۱۸ |
| ۶ | د جبران خلیل ویناوې | ۲۳ |
| ۷ | د ګل سندره | ۲۴ |
| ۸ | د جبران خلیل ځینې غوره هنري..... | ۲۷ |
| ۹ | څلور شاعران | ۳۵ |
| ۱۰ | مورې | ۵۷ |
| ۱۱ | دوه ماشومان | ۶۶ |
| ۱۲ | لومړی نظر | ۷۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۱۳ | د واك ترېي | ۷۱ |
| ۱۴ | د قبرونو کړيکې | ۷۲ |
| ۱۵ | زهر او اوبه | ۸۷ |
| ۱۶ | لنډه کیسه | ۹۴ |
| ۱۷ | جبران؛ د لبنان وياړ | ۱۱۲ |
| ۱۸ | د شاعر ژوند | ۱۲۰ |
| ۱۹ | قانون | ۱۲۳ |
| ۲۰ | انصاف | ۱۲۵ |
| ۲۱ | خپلواکي | ۱۲۷ |
| ۲۲ | ژوند او ښځه | ۱۲۹ |
| ۲۳ | ماخذونه | ۱۳۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سر خبرې

جبران خلیل په شرقي لیکوالو او شاعرانو کې یو پېژندل شوی نوم دی او دعربي هېوادونو د هنر، فلسفې، نقاشۍ، نظم او نثر په ډګر کې یو ټاکنده او رغنده رول لري، ما ځکه (د جبران خلیل جبران ادبي هڅې ) د مونوګراف موضوع په توګه وټاکله چې زده کړیالان پدې وپوهېږي چې نړۍ ادبیات هم یو مهم مضمون دی او په راتلونکې کې د مونوګرافونو موضوعګانې ترې چمتو کړي.

او زموږ فکري او ذهني پراختیا باید یوازې د خپلو ادیبانو په پېژندنه، څېړنه او سپړنه کې محدود پاتې نشي، موږ باید د نورو تجربو، فکر او خیال څخه خبر شو، ریښتیا ووایم زه ددې مونوګراف په لیکلو، ترتیب، سمونه او راټولونه کې زښت زیات ستړی شوم، علت یې داوه چې ما د نورو ژبو لکه اردو، پارسي او انګلیسي نه ځینې مواد راواخیستل، ځکه پښتو کې دا مواد کم او په ځینو برخو کې نه وه، خو دې کار ماته یو ډول ځواك او قوت راکړ، چې زه باید دده او نورو په اړه خپله ژباړه وکړم، ځکه نورو ملتونو پدې برخه کې ډېر کار کړی، موږ باید د نړۍ د نورو ملتونو غونډې په هره برخه کې هر اړخیز او جامع اثار ولرو لکه په دین، سیاست، حقوقو، روغتیا، اروا پوهنه، نړۍ ادبیات، کولتور، هنر او نورو برخو کې ، که ډېر لوی کارونه نه وي نو لږ تر لږه باید هغه هم معاصر ژوند د اړتیا وړ اثار خو باید خپلې ژبې ته وژباړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه پخپله ډېر وګرځېدم، خو زموږ په ژبه کې د جبران خلیل پشان د یوه لیکوال چې په نړۍ کې پرې لسګونه کتابونه لیکل شوي خو زموږ په ژبو کې یې اثار په نشت حساب دی، حال دا چې، د انټرنېټ یوازې په You Tubeپاڼه کې شل ویډیوګاني په ایراني ژبه وې چې هره ویډیو نژدې نیم ساعت راتله، خو په پښتو او دري کې داسې څه نه و. زما د ټولو لیکوالواو ژباړونکو څخه دا هیله ده، چې د نړۍ ادبیاتو لپاره ډېر کار وکړي، ژباړې وکړي، لږ تر لږه د ختیځ او عربي خلیج د هېوادونو لیکوالان او شاعران او نورې ادبي څټې د لومړیتوب حق لري، ځکه ما په سترګو دغه تشه ولیده، زه پخپله هوډ لرم چې پدې برخه کې کار وکړم، نو تاسې درنو نه هم ورته هیله لرم.

له مودو راهیسې مې د جبران خلیل جبران د ادبي پنځونو ځینې غوره بېلګې لوستې، د نوموړي د شهکارې لنډې کیسې په نوم مې پښتو ته یو ژباړل شوی کتاب ولوست، د نثر له خوږلنیو څخه مې یې خوند واخیست، لېوال او مینه وال یې شوم، هوډ مې وکړ چې د جبران په اړه به نور څه لولم، په پښتو کې مې یې د نوموړي د اثارو یوازې دوه ژباړې پیدا کړې، هوډ مې وکړ چې نور به یې په اړه هم پلټنه کوم، لولم به او پخپله به یې ژباړم، نو ددې لپاره مېد لوړو زده کړو وزارت د لایحې سره سم ما هم وغوښتل چې د پوهنتون پای سمستر کې د مونو ګراف موضوع وټاکم، نو هماغه و چې ما د لارښوود استاد سره په مشورې د جبران خلیل د ادبي هڅو تر نوم لاندې د مونوګراف موضوع واخیسته، ما مخکې د تېرو فارغینو د دفاع په سیمینارونو کې برخه اخیستې وه.

تر ډېره پکې د مونوګرافونو موضوعات کلیشه یي وو او ډېرې یې د محلي شاعرانو د ژوند او فن په اړه و، ډېر کم پکې څېړنیز مونوګرافونه وه، په نړۍ ادبیاتو کې خو بېخي چا نه اخیسته او نه څوك ورسره بلد وه حال داچې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نړۍ ادبيات هم يو معتبر مضمون دی، نو ماهم دغه تشه احساس کړه او ومې غوښتل چې تر يوه حده يو نادر مونوګراف وليکم..

همدا وه چې ما د جبران خليل جبران په اړه چې د عربي خليج يو ستر مفکر، فيلشوف، شاعر او ليکوال دی، مونوګراف واخيست، نو دروند استاد ولي الله فاضل ته مې دا نوم وړانديز کړ، استاد په دې اړه ځانګړې لېوالتيا وښوده او هوکړه يې راسره وکړه، ماهم په ډېره مينه کار پرې وکړ، پدې مونوګراف کې ماله بېلابېلو اثارو، انټرنېټ پاڼو، مجلو او خورو ورو ليکنو څخه ګټه اخيستې او دغه مونوګراف مې تيار کړ، چې بېلابېل موضوعات لري، لکه د جبران خليل ژوند ليك، دنوموړي، د نظم او نثر منځپانګه، زده کړې، دندې، د ليکوال سفرونه، اثار يې، په فکري لحاظ د ليکوال ځانګړنې او د ادبي پنځونو بېلګې د مونوګراف موضوعګانې دي، زه پدې برخه کې د خپل لارښوود استاد، د بې دريغه مرستې او په ورين تندي لارښوونو نه يوه نړۍ مننداوی يم. چې د ښه بختنه ياده هڅه دادی تاسې په کتابي بڼه لولئ.

په درنښت

**امېد حيران**

۱۳۹۱ ل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژوند لیك

جبران خلیل جبران وتلی شاعر، لیکوال او د ادبي نړۍ پېژندل شوې څېره ده، چې په ۱۸۸۳م کال کې د لبنان په بشره ښار کې زېږېدلی دی. په ملت عرب او په مذهب عیشوی و، د فلسفې، تاریخ، هنر او ادبیاتو په برخه کې د زیاتې مطالعې او تجربې څښتن و.

د خپل ۴۸ کلن عمر په موده کې یې ډېر قیمتي اثار لیکلي چې د نړۍ په نوموتو ژبو ژباړل شوي، د ژور استعداد ، نوښت، حوصلې او نه ستړې کېدونکې جذبې څخه برخمن و، که زما په نظر د منډېلا، ګاندهي او باچاخان غوندې جبران خلیل هم د خلیج په هېوادونو کې د عدم تشدد یو فعال لاروی پاتې شوی. نو ځکه یې په ادبي پنځونو کې عدم تشدد او نه زورزیاتی ډېر ښه لیدل کېږي.

جبران خلیل جبران دلبنان په شمالي غرنۍ او ښکلې سیمه (البشري ) کې نړۍ ته د (ماروني) په نوم مسیحي کورنۍ کې سترګې وغړولې ، چې په خلیل جبران سره مشهوره وه.
دهغه مور کامله رحمه نومېده ، په هنر او انځور ګرۍ کې یې لوی لاس درلود . دوو خاوندانو یې لاره بېله کړې وه او د جبران پلار خلیل جبران دهغې دریېم خاوند و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دجبران پلار یو مست او بې مشوولیته انسان و ، چې ټوله کورنۍ یې خپله په لوی لاس ،دستونزو ګردابونو ته ورټېل وهلې وه ، ده یو بل ورور هم لرلو ، چې پیټر نومېده او شپږ کاله له ده نه مشر و ،د ماریانه او سلطانه په نوم یې تر ده دوې کشرانې خویندې وې ، چې ټول ژوند یې یو له بل سره تړلی و .

دجبران ژوند له ډېرو لوړو ژور او ستونزو ډك دی او په یوه اغزن چارپیریال کې رالوی شوی دی .دی له رسمې زده کړو پاتې شو او په یوه لرې پراته کلي کې دیوه کشیش سره اوسېده ، له دغه کشیش سره یې منظمې لیدنې کتنې درلودې ، دمذهب اصول ، انجیل ، شوري او عربي ژبې یې ترې زده کړې.

دی لا اته کلن و، چې پلار یې جبران خلیل دمالیاتو دنه ورکړې په سبب په زندان کې ولوېد او عثماني حکومت یې ټوله شتمني ترې واخیسته ، له خپل هېواد نه یې کډوالۍ ته مجبور کړ ، چې بالاخره دهغه مور مجبوره شوه ، څو خپل اولادونه او کورنۍ امریکا ته بوزي.

دامریکا په لور :

همغه و چې د ۱۸۹۵ کال دجون په میاشت کې چې جبران لا دوولس کلن و له مور ، ورور او دوو خویندو سره یې له خپل پلارني وطن لبنان نه مخه بنه وکړه ، هلته لرې دامریکا په باستن کې یې ژوند پیل کړ.

دده بد خویه پلار چې په همغه مهال له زندان نه خوشې شوی و ، ددغه سفر سره مخالفت درلود او نه یې غوښتل ، چې کورنۍ یې امریکا ته لاړه شي .همغه و چې له کورنۍ نه یوازې په لبنان کې پاتې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جبران په باستهن کې ښوونځي ته لاړ او ډېر زر يې خپله پوهه او ذکاوت څرګند کړ ، هلته يې په دوولس کلنۍ دانګليسي ژبې په زده کړه پيل وکړ.

د ۱۸۹۶ کال په وروستيو کې د باستهن هنري مرکز بنسټګر دينوسن هاوس دخپل يوه ملګري په مرسته له جبران سره آشنا شو او له هغه يې وغوښتل ، چې دده هنري مرکز ته ور شامل شي .جبران يې خبره ومنله ،خو يو کال وروسته هلته زړه تنګی او خپل ټاټوبي ته راستون شو ، څو په عربي ژبه خپلو زده کړو ته دوام ورکړي ، دی هلته يوې مدرسې ته لاړ، داخلاقو او مذهب په زده کړه يې پيل وکړ.
جبران په امريکا کې انځورګرۍ ته مخه کړه او په ۱۹۰۸ کال کې يې په پاريس کې فرهنګي کړيو او محفلونو کې ګډون وکړ او د (اګوست رودن) تر روزنه لاندې يې درشونه وويل ، رودن ان هغه مهال دجبران لپاره ديو ښه او ځلانده راتلونکې وړاندوينه کړې وه.

که څه هم ګڼې ښځې دهغه ژوند ته راغلې ، خو تر ټولو نه دمهمې هسکل او شارلوت تيلر نوم اخيستلای شو ، دغه دوې ښځې په ځانګړې ډول (هسکل )شايد له هغه مهمو ښځو نه وي ،چې دجبران په ژوند کې يې مهم رول درلود او دهغه دفرهنګي ، هنري او حتی اقتصادي ژوند ګڼې چارې يې مخ ته وړې دي.
جبران په ۱۸۹۸ زيږديز کال کې بېروت ته راستون شو او د ( مدرسه الحکمه ) په نامه مدرسې ته ولاړ ، ده په دغه دوره کې انجيل په عربي ژبه ولوست او دخپل نږدې ملګري يوسف

(c) ketabton.com: The Digital Library

حواييك سره په ګډه يې د (المنار) په نوم خپرونه پيل کړه ، چې ددواړو ليکنې او دجبران نقاشۍ يې خپرولې.

دی په نولس کلنۍ کې يو ځل بيا باستهن ته روان شو او دا ځل نو ناڅاپه له (جوزفين پی بادي ) نومې نجلۍ سره دهغه داړيکو کيسې هم خورې شوې ، دغه نجلۍ په پوهه ، هنر او فرهنګي ذوق سمبال نجلۍ وه او له زړه نه يې ورسره عاطفي پيوند واخيست .خو دا هغه مهال و، چې دده مور، خور او ورور د سل (توبرکلوز) ناروغۍ په سبب له دې نړۍ نه سترګې پټې کړې. ماری هسکل دباستهن دښوونځيو مديره وه ،چې دجبران دساتنې او روزنې مشووليت يې په غاړه واخيست او دی يې دويم ځل ښوونځي ته روان کړ.

**لومړۍ خپرې شوې ليکنې:**

جبران هماغه دځوانۍ له مهاله دشعر ، هنر او ليکوالۍ ډګر ته راوتی و ، په پنځلس کلنۍ کې د الحقيقه په نوم مهالنۍ خپرونې مدير شو او په شپاړلس کلنۍ کې يې لومړۍ سندره د (جبل) په نوم ورځپاڼه کې خپره شوه او په اولس کلنۍ کې يې دخپل نقاشي هنر په مرسته د څو پوهانو لکه عطار ، ابن سينا ، ابن خلدون او نورو ليکوالو او حکمپانو څېرې وکښلې.

دی دخپلو رسمې زده کړو له پای ته رسولو نه وروسته دنقاشۍ په برخه کې دخپلو زده کړو دبشپړولو لپاره پاريس ته لاړ او په فرانسه کې يې دخپل دوه کلن ژوند په جريان کې دنقاشۍ دبيلابيلو هنرونو له مکتبونو سره اشنايي پيدا کړه او د( الارواح المتمرده) يا سرکې اروا په نوم کتاب يې وليکه چې له بيروت نه خپور شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

جبران په ۱۹۰۵ زیږدیز کال کې دخپلو لیکنو یو غورچان ،چې دموسیقۍ په اړه یې کړې وې ،په (المهاجیر) ورځپانه کې خپرې کړې او له دې نه وروسته یې دخپلو لیکلو سندرو یوه برخه په عربه ژبه په ( ژړا ، خندا او توپانونه ) کتاب کې خپرې کړې ، چې دا کتاب بیا انګلیسي ژبې ته د (خوب ، توپان او محبوب ) په نامه وژباړل شو .

جبران دخپلو لنډو داستانونو لومړۍ ټولګه په ۱۹۰۶ کال کې د "spirit Brides"یا ددښتې ناوې ګانې په نامه خپره کړه او له دې نه یو کال وروسته یې بیا ددغه ټولګې دویم ټوك د "spirits Rebellious"په نامه خپور کړ، چې دلوستونکو له تاوده هر کلي سره مخ شوه .دی په همدې مهال په پاریس کې دنقاشۍ دزده کړې سره لېونۍ مینه کې ډوب و او په فرانسه کې دڅو کلنو زده کړو نه وروسته بېرته باستن ته راستون شو.

جبران په پنځه دېرش کلنۍ کې په انګلیسي ژبه خپل لومړی کتاب (The mad man یاني لېونی سړی پای ته ورساوه او دده دمینه والو لاس ته ورسېد .

هغه وخت چې دخپلې خور ، ورور او دمور دناروغۍ نه خبر شو، خپل وطن ته راستون شو او په خپل وطن کې له دوو کلونو تېرولو وروسته ، دنقاشۍ سره لېونۍ مینې بېرته دپاریس په لورتګ ته اړ کړ، ځو دهغه ټاټوبي له هنرمندانو په ځانګړي ډول له رودن نه دانځورګرۍ لطیفه فون او نور تخنیکونه زده کړي .رودن چې دجبران په وجود کې دسرود او نقاشۍ پیاوړی ځواك حس کړ ؛ نو ده ته یې داتلسمې پېړۍ انګلیسي نقاش ویلیام

(c) ketabton.com: The Digital Library

بليك ور ياد كړ ، له هغه سره اشنا شو او په جبران يې ( دپيړۍ ويليام بليك ) نوم کېښود .

دا ځل په دغه سفر کې جبران د روستاند ، دبوسي او مترلينګ په نامه لويو پوهانو سره اشنا شو ، دهغوی له ذوق او اندونو يې پوره ګټه واخيسته.

**امريکا ته دويم سفر :**

جبران په ۱۹۱۰ زيږديز کال کې يو ځل بيا امريکا ته لاړ او د نيويارك ښار په لسمه کوڅه کې يې يو دفتر پرانست ، چې دکلونو کلونو لپاره دليکوالو ، دده دعرب ملګرو هنرمندانو او امريکايي مينه والو د راټولېدو او مجلشونو ښه ځای و.

ده په امريکا کې ددغه يو ويشت کلن ژوند په بهير کې دخپل ژوند تر ټولو غښتلې او پخې سندرې او نقاشۍ وپنځولې او نړيوالو ته يې دکتابونو او بېلا بېلو ننداړتونونو په بڼه وړاندې کړې ، چې دی يې په خورا کم وخت کې دشهرت اوج ته ورساوه .

ده په دغه کلونو کې د ( دخيال ها خوا ) ټولګه خپره کړه او په ۱۹۱۲ زيږديز کال کې يې دمينې په اړه تر ټولو لوړ داستان ( مات وزرونه) په عربي ژبه له نيويارك نه خپور کړ .

خو ددې ټولو ليکنو او هنري هڅو سره سره لاجبران په ټولنه کې ديوه اغېزمن ليکوال په توګه خپل موقعيت او مقام نه و موندلی ؛ تر څو چې په ۱۹۲۳ کال کې د ( پيغمبر ) کتاب په خپرولو سره په ټوله نړۍ کې دشهرت لوړو پوړيو ته ورسيد ، دلته يې خپل هنري او ادبي موقف تر لاسه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دمېرمن هسکل او جبران بېلتون :**

په همدې کال کې مېرمن مرى هسکل ،چې له جبران سره يې ژورعاطفي تړاو درلود ، له ده څخه دامريکا دجورجيا په لور سفر وکړ ، ځو په بشپړه توګه دجبران له ژوند نه ووځي ، وروسته له دې نه دخليل جبران نوم په ټوله نړۍ کې وپېژندل شو، دشهرت اوازې يې خورې شوې او ليکنو يې همغسې دوام درلود
.

دجبران خپاره شوي اثار :

له جبران نه په انګليسي او عربي ژبو کې شپاړلس کتابونه راپاتي دي ، چې دخپرنيز کال په ترتيب په لاندې ډول دي :
الف – په عربي ژبه:

١ .موسيقي
٢ .ددښت ناوې ګانې
٣ .سر کښه اروا
۴ .اوښکې او موسکا
۵ .مات وزرونه
۶ .کاروانونه او توپانونه
٧ .تازه خبرې او تازه ټکې
ب – په انګليسي ژبه
٨ .لېونى
٩ .ليکونه
١٠ .شګې او ځګونه
١١ .مخکښ
١٢ .دځمکې خدايان

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳ .سرگردان
۱۴ .مسیح، دانسان زوی
۱۵.پیغمبر
۱۶ .دپیغمبربڼ

دغه ستر لیکوال په ۱۹۳۱کې د ۴۸ کلنۍ په عمر له نړۍ نه سترګې پټې کړې ، دی په امریکا کې دسرطان ناروغۍ له امله ومړ او جسد یې په یوه بېړۍ کې د دغه دوصیت سره سم پلارني هېواد لبنان ته راوړل شو او دخپل مېنه ناك ټاټوبي د البشرې کلي په ګلورینو غونډیو کې خاورو ته وسپارل شو .خو لیکنې یې تر ننه په سراسر نړۍ کې د اوچت شعر ، فلسفي ، حکومت او هنر مېننانو ته په مېراث ورپاتې دي .

ده ته د اروپا او منځني ختیځ په ادبیاتو او شعر دیوه اغېزمن لیکوال په سترګه کتل کېږي ، دی خپله عیشوی دی او په ماشومتوب کې یې په کللك مذهبي چارپیریالل کې ژوند کړی.
دده لیکنې دهغو ټګو مذهبي مشرانو له غندنې ډکې دي ،چې خپل ناوړه کارونه د مذهبي مشرۍ تر چپنه لاندې پټوي ؛ خو یوه ته هم په ذات کې سپکاوی نه کوي.

دهغه دنثر یوه بېلګه:

**دوه قفشونه:**

زما د پلار په بڼ کې دوه قفشونه وو، د یوه قفس په منځ کې یو زمری و، چې د پلار غلامانو مې د نیننوا له صحراګانو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوړي و او په دويم قفس کې د يوه خواره غر لړونکی مرغه اوسېده چې هېڅکله له نغمو ویلو نه ستړی کېده .

الوتونکي به هره ورځ سهار په زمري غږ کاوه او هغه ته به يې په سلام ويلو ويل:

"سهار پخير زما زنداني ملګريه!

(۳، م ۱۳۷۹)

## زده کړې يې:

جبران خليل لومړنی، منځنی ښوونځی او لیسه د لبنان په بشره ښار کې ولوسته او لوړې زده کړې يې د ښکلو هنرونو، نقاشۍ او مجسمه جوړونې په برخه کې په پاريس کې وکړې.

جبران په ادبياتو، سياست، فلسفې او نقاشۍ کې ډېره ژوره، پراخه او هر اړخيزه مطالعه درلوده.

د جبران خليل اثار:

د جبران خليل اثار په عربي او انګليسي ژبو ليکل شوي خو د نړۍ په ډېرو ژبو ژباړل شوي دي.

د جبران خليل ځينې اثار په اردو، پښتو، پاړسي، هندکو، فرانشوي، پرتګالي، جاپاني، هندي او دري ژبو ژباړل شوي. په اصغر احساس، حميدالله بهيجد، انعام الله ګوهر، ګل رحمان رحماني او نورو ژباړلي دي.

د جبران خليل پښتو ژبې ته ژباړل شوي اثار:

- زېړه پاڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ځك او اوبه
- ښځه او ژوند
- د جبران خليل شهكارې لنډې كيسې
- باد او باران
- دوه ښارونه
- د انسان بچى
- پيغمبر
- د موسيقۍ رساله
- او ښكه او موسكا
- مات وزر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د جبران خلیل اثار د منځپانګې له پلوه

جبران خلیل ډېر نظمونه ، غزلې، ادبي ټوټې او لنډې کیسې لیکلي.
لیکنې یې یوازې د لیکنې له اړخه نه، بلکې د موضوع له اړخه هم ممتازې دي.
که یو ځای د شونډو، رخسار او زلفو خبرې کوي، بل خوا بیا د انساني همدردۍ جذبې راویښوي، د ظالمانو تېري د انسانیت لار په ګوته کوي.
او د نېکۍ او بدۍ پایلې منعکشوي، د عدم تشدد په لارویانو کې د منډېلا، ګاندي او پاچا خان نومونو تر څنګ د جبران خلیل نوم هم یادولای شو نو ځکه یې په نظم او نثر کې عدم تشدد ډېر ښه ښکاري.
د جبران خلیل اثار انتقادي، عاطفي، اخلاقي، سیاسي، اصلاحي، عشقي، رومانټیکې او ټولنیزې برخې لري. نظم او نثر یې ساده، روان او بې غوټې دی او په لنډو کیشو کې یې په حکومت نیوکه کړې او د هغوي ظلمونه، ستمونه او بې انصافۍ یې غندلي دي.
دده په اثارو کې بغاوت ډېر لیدل کېږي او په یوه دیکتاتور نظام کې د غریب ا وبېچاره ترخنګ ودرېږي، خو په شعرونو کې یې عشقي او رومانټیکې برخې هم ډېرې قوي دي، لکه د مات وزر په اثر کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سفرونه او دندې:

جبران خليل د ځوانۍ عمر په لبنان کې او نور ټول عمر يې په بهر هېوادونو کې تېر کړيدی.
نوموړي د ښوونځي د فراغت نه وروسته امريکا ته ځي، بيا پاريس، مصر، ترکيې او فرانسې ته سفرونه کوي او هلته نوې تجربې حاصلوي او د خپلې نقاشۍ او هنر د ځلا لپاره نندارتونونه جوړوي، جبران خليل سربېره د منځنۍ اسيا هېوادونو او امريکا سربېره ټوله اروپا هم ليدلې او بېلابېلو هېوادونو ته يې سفرونه کړيدي.
دده نظم ، نثر او نقاشي د ټولې نړۍ د پام وړ وګرځېد ، په ځانګړي ډول امريکا کې يې ډېر شهرت وموند .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هنري نثرونه، لنډې کيسې او ادبي ټوټې

## د جبران خليل د ادبي پنځونو ځينې بېلګې:

د مور په نوم د ليکوال يوه ليکنه

مور:

د نړۍ د جنت په خوښوونکو ترانو کې هغه راښکون نشته او نه له ربابه څخه وتونکې نغمې هغه خوږوالی لري.د غرييزو ابشارونو اواز دومره خوښوونکی نه دی او نه سمندري بادونو کې هغه نرمې شته، د ځوارلسمې سپوږمۍ ځلا دومره زړه راښکون شته.

دې مينه ګرکې نوم سره د کايناتو ناز او اداګانو نه پرته کښني او ټوله جادو يې د مور د سپېڅلې موسکا په وړاندې داسې ده لکه يوه وزه چې د لمر په مخ کې هېڅ ښکاري، د نړۍ ټوله خوشي په هم دې يوه کليمه کې راغونډه شوې او ټوله مهرباني په همدې تورو کې رانغښتل شوې ده.

د ټولو نېکيو غونډ همدا سپېڅلې هستي ده او د ژوند په مجلس کې يې شتون له هغې نغمې څخه کم ندی، چې په خاموشه او تيارو شپو کې د هر چا پام د ځان په لور اړوي او له سره يو نوی ژوند وربښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور نعمت دی، کم پیداکېدوونکی نعمت! بیا بیا مونډل یې امکان نه لري. د ځمکې غېږ د داسې غمیو د بیا موندنې څخه بې وسه ده او اسمان هم داسې پرښتې بیا نه رالېږي، هغه خلك ډېر بختور دي چې د داسې نعمت لرونکې دي، په سرونو یې د مور سپېڅلی سیوری او د هغې په خوږو ساګانو کې رانغښتل شوی جنت ورته یوه لویه پېرزوینه ده.

خو د هغه بد نصیبه به څه یادونه وکړم، چې د مور له مهربانۍ څخه بې برخې وي او د ژوند په پسرلي یې له وخته مخکې خزان تېرې کړې وي.

(۱، م ۲۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جبران او ګوهر

جبران خلیل جبران هغه څوک و، چې د ټولنیزو دردونو تر څنګ شخصي ژوند هم ډېر دردونه ورکړل، د هغه ژوند د اقتصادي کمزورۍ له کبله له ستونزو سره مل پیل شو، د کورنۍ څو غړي یې ترې ناروغیو د تل لپاره بېل کړل، مسافرۍ یې په نصیب شوې، زده کړې یې په غیر منظم ډول وکړې... پلار یې له کوره بې پروا و، مور خور او ورور یې ناروغیو ترې بېل کړل، عثماني حکومت زندان ته د ننه کړ، امریکا ته وکوچېد... او د ژوند په دوره کې ډېر ودرېد.

د جبران نغمې په ټول عالم خپرې شوې، په ټوله نړۍ یې د هغه فریادونه وویشل، د هغه درد د ټول بشر درد و، د هغه پیغام د ټول بشر لپاره و؛

د نغمو غوندې خپاره شوو، په عالم د بې دردۍ کې
یو څه وخته خو زمونږ هم د احساس کوڅه کې کور و
**استاد پسرلی**

دې دردونو او ستونزو د جبران هنر او تخلیق ته اوږد او داسې ژوند ورکړ، چې د نړۍ په څنډه، څنډه یې خلك له نوم سره بلد شول.

هغه زمانه چې جبران پکې اوسېده، داسې وه، چې د نړۍ نفوس شا و خوا شپږ میلیارده و، په هره برخه او هر ځای کې د عالمانو شمېر زیات وو، په ځانګړي ډول دې زمانې خو ادب و هنر ته داسې څېرې ورکړې، چې په تېر تاریخ کې کمې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جبران چې په عربي او انګلیسي ژبه لیکل کړي دي، دا وخت یې اثار د نړۍ ګڼو ژبو ته اړول شوي، چې په دې کې له نیکه مرغه پښتو هم شامله شوې، ډاکتر خالق زیار، زبیر شفیقي، زینب سالك، ډاکتر عبدالحمید بهیج، عصمت الله زهیر او نورو درنو لیکوالانو او ژباړنو پښتو ژبه د جبران په مرغلرو هم پسې ښکلې کړه، او زموږ ملګري شاعر انعام الله ګوهر د ژباړې پیل د نړۍ د دې ستر لیکوال د لیکنو په ژباړه وکړ.

جبران له ژوند سره په تړاو را ته ډېر څه وایي، په دې نثري ټوټو او تاثراتو کې یې هم د ژوند سره تړلې مسایل را اخیستي، په دې اثر کې د جبران کېسه ییز نثرونه لولو، چې د ژوند یو اړخ به راته بیانوي او دا بیان په داسې ډول دی، چې انسان سترپا ته نه ورکوي، په زړه پورې تصویرونه، ښکلې تشبیهه ګانې، ښکلي پیغامونه، رواني خبرې لکه شعرونه، فلسفیانه تصورات، عاطفي او مینه ناك خیالونه، د انسان دوستۍ بېلابېل اړخونه او نور ډېر داسې څه را اخلي، چې د ډېرو انسانانو د ژوند مشترکات یې بللای شو.

د دې اثر په ژباړه هم ډېره خواري شوې، انعام الله ګوهر چې د لومړي ځل لپاره ما ته وویل((د جبران اثر مې نیمایي ژباړلی، هیله من یم، چې ژر یې پای ته ورشوم)) هغه وخت یې نیمایي راته وسپاره، بیا له هغه وروسته زه یو څه وخت غم ترې بېل کړم، بیا یې یوه مېاشت وروسته بشپړ کتاب راته وسپاره، چې نوم یې په((هندارو کې ارواوې)) ورته اېښی و.

د دې اثر د لیکوال او ژباړن تر منځ یو مشترك ټکی چې زه یې باید دلته یاد کړم، هغه ستونزمن ژوند دی، جبران هم له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستونزو سره غاړه، غړې ژوند کړی او ګوهر هم چې زه څومره پېژنم، ډېر درد پېدلی.

اوس چې دا ليکل کوم، يوه خاطره يې راته يادېږي، يوه ورځ د ګرديز ښار په يو دوکان کې ناست وم، ګوهر مې له لرې وليد، زنګ مې پسې وکړ، راته ويې ويل؛ زما خواته راشه، ضرور کار درسره لرم، په بېړه ورغلم، ستړي مه شي يې په چوپه خوله را سره وکړه، لومړۍ خبره يې دا راته وکړه، ورور مې مړ شوی، زه ځم، يوازې مې ته خبرولې.

د ګوهر په څېره د غم خړه پرده غوړېدلې وه، تر ډېره چوپه خوله سره روان وو، ورور يې په ځوانۍ کې ترې بېل شو، کورنۍ يې اوس هم د مهاجرت په دېار دېره ده، دی چې کله چېرته، کله چېرته د مسافرۍ شپې سبا کوي او د کور دروند پېټی يې په اوږو دی، ما ته د جبران ژوند را يادوي، هغه هم خپل پلرنی ټاټوبی بېروت پرېښود، په امريکا او نوره نړۍ را وګرځېد او د ژوند پېټی يې چېرته، چېرته يووړ، ګوهر هم تر دمه را ته داسې ستړی مسافر ښکاري، الله ج دې نور زموږ دا دوست د اشوده او شوکاله ژوند څښتن کړي.

زموږ نسل ته هم روانو حالاتو او ستونزو په ادب کې لوړ هنرونه ورکړل، الله ج خو مهربانه دی، دا ستونزې به په نړۍ کې زموږ د نيکنامۍ او وياړ داستانونه وګرځوي، ګوهر غوندې ملګري به په نړۍ کې يو وخت د جبران په څېر د نوم څښتنان وي، الله ج دې وکړي.

په دې کتاب کې مې هم ډېر داسې څه ولوستل، چې خپلې ټولنې ته يې په زړه پورې پيغامونه بلللای شو، د ليك په نوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی کېسه چې د انسانانو د بېل مخلوق په ژبه د انسان د چلندونو په اړه شوې، موږ ته له جنګه نفرت راکوي، موږ ته د یو شوله ییز ژوند بلنه راکوي او دا پیغام راکوي، چې د انسانانو له جنګه نور مخلوقات هم تنګ شوي، نور مخلوقات هم بد پرې وایي.

په لیك کې ښاپېری د یو ځوان سرتېري د جسد ننداره کوي، د هغه په جېب کې لیك را اخلي، هغه لولي، بېرته یې په جېب کې ورته ږدي ...او وروستی برخه یې په دې ډول ده؛))

ښاپېری هغه لیك بېرته د ځوان په جېب کې لکه څنګه چې ایښی ؤ،کېښود. او بیا ټولې په ډېره خواشیني او پټه خوله د ځوان سرتېري له جسده روانې شوې،دوی ټېټ سر روانې وې، له لږ مزل وروسته یوې وویل:

»دا د انسان زړه خو تر ډبرې او زموږ تر هغه د بوټا هم سخت دی.((«

د ګوهر د ژباړې په اړه باید دا ووایم، چې د دې کتاب مفاهیم تر ډېره په سم ډول پښتو شوي، دا چې ګوهر صاحب، په انګلیسي او اردو دواړو ژبو حاکمیت لري، نو دا اثر یې هم له انګلیسي را ژباړلی او له اردو ژباړې سره یې پرتله کړی، چې دې کار یې د مفاهیمو له سمې رسېدا سره مرسته کړې، بل دا چې د دې اثر ژباړه په ساده او روان ډول شوې، زه خو یې له لوستو سره ستړی نه شوم، بلکې خوند مې ترې اخیست، بل دا چې د جبران لیکل شاعرانه او عاطفي دي، ګوهر هم شاعر دی او هم عاطفي انسان دی، نو کوم کلمات چې جبران په اصلي ژبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې ورته لري، ګوهر يې په پښتو کې ورته پيدا کوي، دا ژباړل شوی اثر به ځينې نيمګړتياوې او خامۍ هم ولري، خو ما به نه وي ليدلې، نور ګوهر صاحب! ته د نورو داسې ژباړو، ښو شعرونو ليکلو او ښه ژوند هيله، تاشو ته دې دا کتاب مبارک وي، الله ج دې وکړي، چې زموږ د نيکمرغيو پيل د دې کتاب له چاپ سره وشي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د جبران خلیل جبران ویناوې

د هغه امت په حال افسوس دی چې ...

د هغه امت په حال افسوس دی چې له دین څخه مذهب، له بیدیا څخه کوڅې او له حکمت څخه منطق ته رجوع وکړي.

د هغه امت په حال افسوس دی چې هغه جامې چې د دوی په لاسونو نه وي اوبدل شوې، اغوندي او هغه خواړه خوري چې دوی نه وي کرلي.

د هغه مغلوب امت په حال افسوس دی چې د خپل قاتل وربښمیني جامې کمال او د هغه توندي ښکلا وګڼي.

د هغه امت په حال افسوس دی چې په خوب کې له ظلم څخه بېزار او په ویښه ورته تسلیم وي.

د هغه امت په حال افسوس دی چې د جنازو تر شا خپل غږ پورته کوي او د هدیرې په مینځ کې ویاړي او یوازې هغه مهال سرغړاوی کوي چې غاړې یې د تورې لاندې او د دار په سر باندې راشي.

د هغه امت په حال افسوس دی چې خپلو اتلانو ته په سازونو او سندرو هر کلی وایي او په نارو شورو یې بدرګه کوي ترڅو په همدې ډول د بل اتل هرکلي ته ولاړ شي.

د هغه امت په حال افسوس دی چې عقلمن یې ګونګی، ځواکمن یې ړوند او مشکلکشا یې زیاتې خبرې کوونکی او اپلتې ویونکی وي. د هغه امت په حال افسوس دی چې هره کورنۍ یې امت وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ګل سندره

(ادبي ټوټه)

زه هغه کلمه یم چې فطرت پخپله ژبه وویله، بېرته یې واخیسته، د زړه په تل کې یې پټه کړه او بیا یې وویله.
زه هغه ستوری یم چې د هسك له شنډو د ځمکې پرشین شادر رانښکته شوم، زه د عناصرو د سترګو نور یم چې نطفه یې د ژمې په رحم کې منځ ته راغله، د پسرلي له ګېډې راووته، د دوبي ګرمیو یې روزنه وکړه او د خزان لاس ویده کړه.
زه د میینانو ډالۍ یم
زه د خوښیو و تاج یم

زه مړي ته د ژوندي له لوري اخرۍ ډالۍ یم
زه سبا یې وخته د نورو راتګ د خبرتیا پر وخت د نسیم مرستیال یم او ماښام یې د مخه ښې پر وخت د الوتونکو ملګری، زه په میدانونو کې پخپلو خوځېدو سره هغوی ته ښکلا وربښم او په هوا کې د ساه پر اخیستلو هغه خوشبویه کوم.

زه له خوب سره نښتي یم د شپې بې شماره سترګې پر ما خوربېږي او د وینبتیا به غوښتنه کوم چې د ورځې د سترګو سره خپلې سترګې وجنګوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه د پرخـې شـراب ښبنـم، د بلبـل نغمـې اورم او د شـنو وښـو پـر چکچکو نڅېږم، د نور د ليدو لپاره مې تل سترګې د هسك په لـور نيـولې وي، زه خپـل سـيوري تـه هېڅ نـه ګـورم او دا هغـه حکمت دى چې تر دې دمه د انسان زده کړې نه دي.
(۱،م ۸۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د متلونو هنر

راز ساتنه د مصريانو هنر دی
هوډ د کلدانيانو هنر دی
نظم او همغږي د يونانيانو هنر دی
درناوی کول د چينايانو هنر دی
ستونزې زغمل د يهودانو هنر دی
ځان ښودنه او مبالغه د عربانو هنر دی
سينکار او شيك پوشي د ايرانيانو هنر دی
د قت او ظرافت د فرانشويانو هنر دی
ښکلا د ايټاليويانو هنر دی
لوړ پروازي د جرمنيانو هنر دی

د خلکو په مينځ کې:

د خلکو په مينځ کې داسې قاتلان شته چې هېڅکله يې يو ځاځکی وينه هم نه ده توی کړې، داسې لوټماران او غله شته چې هېڅکله يې غلا نه ده کړې او داسې دروغجن شته چې تل يې رېښتيا ويلي دي.

د دروازې د سر ليکنه

د کور د دروازې پر سر مې وليکل تقليد بهر پرېږده او بيا دننه راشه! نو پس له هغه مې پوښتنې او ليدنې ته هېڅوك رانغلل (۵،م ۱۳۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د جبران خلیل جبران ځینې غوره هنري نثرونه او ادبي ټوټې

## غم او ښادي:

ستاسې ښادي ستاسې غمونه دي. هغه چېنه چې تاسې ترې د خندا اوبه څښئ، ستاسې له ګرمو اوښکو نه ده ډکه شوې، ایا له دې پرته نور څه هم شته؟

کله چې د غم تېره غاښونه ستاسې په بدن را کوزېږي، ورسره مو د زړونو په تل کې خوښې دوه چنده کېږي. ایا ستاسې د شرابو جام هم یوه ورځ د اور په بټۍ کې نه و ویلې شوی؟

هغه نغمه چې ستاسې روح ته ارامې وربښي، هماغه لرګی نه دی چې یوه ورځ د تېشې په وسیله له ونې راپرې شو؟ نو هر وخت چې خوښ شوی، د خپل زړه ژورو ته ښکته شئ، هلته به وګورئ، څه چې تاسې خپه کړي یاست، اوس به تاسې ته خوښي درکوي.

هر وخت چې د غم لښکري درنه تاو شوې، یو ځل بیا مو د زړه تل ته ښکته شئ، درته معلومه به شي، چې تاسې د هغه څه لپاره ژاړی چې تاسې یې په ځمکه کې د خپلې خوښۍ پیدا کوونکې بولی.

ستاسې له منځه ځینې وایي چې ښادي له غم نه غوره ده. بله ډله دا خبرې نه مني او وایي چې هېڅکله هم نه، غم هېڅکله له ښادۍ نه غوره نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خو زه تاسې ته وايم چې غم او ښادي رښتيا هم يو له بل سره تړلي دي، جوړه راځي او جوړه بېرته ځي او که چېرته له دې دواړو يو ستاسې د د دسترخوان ځنګ ته راځي، نو دا د حيرانتيا خبره نه ده، تاسې پوه شئ چې بل يار يې هلته ستاسې پر بستر پروت دی.**

**هو! په رښتيا چې تاسې د غم او ښادۍ د تلې دوې خواوې ياست، تل لاندې او باندې کېږۍ، له حرکت نه، نه لوېږۍ، خو هغه وخت چې خالي او سپك شی.**

**که چېرته د ژوند خزانه دار تاسې د سيم او زر د تللو لپاره په کار وګوماري، نو ستاسې د غم او خوښۍ پيمانه په يوه حالت نه پاتې کېږي.**

# مرګ:

د کاروان د اوښانو د ګونګړيو غږ شوکه شوکه لري کيږي. کرۍ ورځ ګرځېدلې توتکۍ سترې ستومانه د خپلې ځالي په لوري وخوځيږي.

او د سمندر له څپو سره په جګړه بوخته کښتۍ هم بالاخر تر غاړې پورې راورسيږي خو...

خو اې مرګه !! ته په وخت لاسبری يې او د راتګ لپاره دې هيڅ يوه ګړۍ نه ده ځانګړې.

د پسرلي رنګين سهار وي او که د مني سپېره غرمه وي ، ته يې هيڅ پروا نه لرې او پخپلو کارونو بوخت يې!

(c) ketabton.com: The Digital Library

مړاوی برېخړ، سترې ماښام او خاموشه شپه هیڅکله ستا د راتګ خنډ نه شي کېدای.

ته د هیڅ چا او هیڅ شي په کیسه کې نه یې!
که د وریځو پنډونه خولې خلاصې کړي او د مځکې د تندې ختمولو لپاره په شېبو شېبو ووریږي او یا هم د مځکې وچې شونډې یوې قطرې اوبو ته په تمه وي، ګلان د خپلو پاڼو په رنګ، رنګ وربښمو کې پټ وي او که د خزان تبې وهلي وي.......لنډه دا چې یو موسم هم ستا د لارې خنډ نه ګرځي، ته په هر شي بر یې.

د سمندر په ژوره اوکراره غېږه کې هم له تا خلاصی نشته ! د سپېدار د ونې تر سیوري لاندې هم ستا له لاسه څوك په كراره نه شي کېناستلی او په میدانونو کې خو هسې هم ستا واك دی.
مختصر دا چې له تا هیڅ ځای خوندي نه دی، ستا د باز غوندې له سرو سترګو نه هیڅوك هم پناه نه دي او ستا ساړه او زیږ لاشونه هر وخت د غېږې ورکولو لپاره خلاص دي!!

***

ملګري ته مې وویل :

»هاغه پورې ښځه وینې !....هغه چې اوس د بل چا پر څنګل ورپرته ده...پرون یې بالکل همداسې زما په څنګل سر ایښی ؤ.«
ملګري مې ځواب راکړ : «او سبا به زما په څنګل خوب کوي.«
ومې ویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

»اې ! ته خو لږ ورته وګوره !! څومره نژدې ورناسته ده،د دوی وجودونه له یو بل سره لګیږي...پرون ماته همدومره نژدې راناسته وه.«

ملګري مې وویل : « او سبا به بیا زما خوا ته همدومره نژدې ناسته وي.«

ما ورته وویل : « اوه..هو...وګوره دواړه له یوې پیالې نه څښناك کوي...پرون یې زما پیاله له خپلو شونډو سره لګوله.«
ملګري مې ځواب راکړ : « او سبا به ته ګورې چې له ما سره وي او له یوه ساغره یې څښو.«

ما بیا ورته وویل :

»وګوره د هغه سړي خوا ته څومره په مینه ورګوري...په سترګو کې یې اقرار او اظهار له ورایه ځلا کوي.«

ملګري مې وویل : « او سبا به ماته هم داسې په مینه راګوري.«

ورته ومې ویل : « ته ورته وګوره لکه څنګه چې اوس د هغه سړي په غوږ کې د مینې سندري وایې همداسې یې پرون زما په غوږ کې د مینې زمزمې کولې.«

»او بله ورځ به بیا زما په غوږ کې د مینې دا نغمې زمزمه کوي»، ملګري مې ځواب راکړ.

ورته ومې ویل :

»هلته وګوره....لکه اوس چې یې څنګه هغه ته غاړه ورکړې پرون کټ مټ همداسې ماته راتر غاړې وته.«

ملګري مې راته وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

»ته به ګورې سبا به بيا ماته داسې غېږه راکوي.«
ملګري ته مې مخ وروګرځاوه،ورته ومې ويل :
»آه.. داڅومره عجيبه ښځه ده.«!

خو ملګري مې ځواب راکړ:

»هغه بالکل د ژوند په څېر ده چې ټول خلك ترې برخمن دي....د مرګ په څېر پر هر چا بريالۍ ده ....او د ابديت په څېر يې ټول په خپله غېږه کې نيولي...له هغې پرته ژوند امکان نه لري....هغه ژوند دی.«

***

## وروستی سوغات

د اته ويشتمې شپې تکې ژېړې سپوږمۍ په اوښلنو سترګو او چوپه خوله د مځکې لور ته کتل، کټ مټ د هغه مريض په څېر چې نور له خپل ژوندنه سترړی وي او هر اشوېلی يې لکه د دېوالـه ګړۍ ټك ټك مرګ ته شېبې شماري.

پيکه رڼا به يې کله کله د نارنج د ونې په شنو پاڼو ولګېده، نژدې د يوه بلبل له شوزه ډك غږ به د شپې چوپتيا ماته کړه،له فرياده ډك غږ به يې ازانګې وکړې او فضا به نوره هم وېرونکې شوه، خو د فطرت په منګولو کې زنداني سپوږمۍ بې وسه وه او د پنډو وريځو د سپينو ټوټو په منځ کې داسې ښکارېده لکه په سپين کفن کې د کوم ځوانيمرګ پېچلی جسد!

ځلېدونکو ستورو هم په ډېره مايوسۍ خپل ملګري ته کتل ؛ له سپوږمۍ سره له يوې مياشتې ساتېري او وخت تېرولو وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس د هغې فراق ته اند یښمن وو او په یوه ژور چرت کې لاس تر زنې ناست وو.

له بلې خوا سپوږمۍ چې له ډېره غمه په ځان نه پوهېده ،شوکه شوکه د اسمان په شنو څنډو کې پناه کېده، د هغه وریځې په څېر چې لـه وربېدو وروسـته رو،رو پـه فضـا کـې ورکیـږي. ټول کاینات د یوې هیبت ناکې خاموشۍ په ټیکري کې نغښتی و، د سپېدار ونې یوې او بلې خوا ته ښوربدې ته وا له ډېره غمه لاشـونه مـږي او د بـدن سـتړیا لـرې کـوي، اوږده سـیوري یـې د شیشکو په څېر وېرونکي ښکارېدل، کله نا کله به په اسمان کې یـوه پیکـه سـتورى د وچ ګـلاف غونـدې ترسـترګو شـو او د سپوږمې زګېروو به په هوا کې ازانګې وکړې.

شـپه ورو،ورو پـه ختمېـدو وه او د اسـماني څـراغ روښـانه شـغله شوکه،شوکه مخ په مړه کېدو وه.

پـه دې وخـت کـې یـو دم یـوه ځلېـدونکي سـتوري پـه اسـمان کـې لاندې د مځکې په لور منډه کړه او د مځکې پـه بې پایانـه ژورو کې ورك شو. ماته دا ننداره داسې ښکاره شوه لکه لـه ژونـد سـره د تل لپاره د خدای پاماني اخیستونکي مسافر وروستی

وغـات...........خپلې ملګرې مځکـې تـه د انـډیوالۍ وروسـتۍ نښـته....د سـپوږمۍ لـه اند یښـمنو ډکـو سـترګو څخـه څڅېـدلې اوښکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لومړی مچکه

د مینې د ستر دیوتا په لپه کې دا د ژوند د اوبو لومړی غړپ دی چې مین ته یې ورکوي.

دا غړپ د شك، بې باوري او یقین تر منځ د بېلتون لومړی کرښه ده....شك او بې باوري...چې اروا ورسره نارامه کیږي او زړه خواشینی کوي.......او یقین چې زړونه او ارواوو ته خوښۍ وربښي.

دا د ژوند د پیلامې لومړی سندره ده او د « یوه ارماني او حقیقي انسان» د ډرامې لومړی رول دی.

لومړی بوسه د نابلدې ماضي او روښانه راتلونکې تر منځ یو تړون دی ، د احساساتو د خاموشۍ او نغمو تر منځ یو مزی دی.
لومړی مچکه یو سپېڅلی لفظ دی چې د څلور شونډو له یو ځای کېدو څخه راپورته کیږي او خوریږي.

زړه خپل تخت اعلانوي، محبت پاچا وي چې په سر یې د وفا تاج ایښی وي.

دا د ګلاب په پستو شونډو د نسیم د تنکیو ګوتو هغه پوست لمس دی چې یو شوږ اشوېلی زېږوي او زړه ته کرار او روح ته سکون ورکوي.

لومړی بوسه د جادويي اهتزاز هغه لومړنۍ شپه ده چې مین د دې مادي نړۍ د زمان او مکان له قیده خلاصوي او د خیالونو او خوبونو دنیا ته یې بیایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د دوو معطرو ګلونو پیوستون دی چې د دواړو د خوارږه بوی له یو ځای کېدو څخه یو دریمه اروا پیدا کیږي.

لکه څنګه چې د محبوب لومړی نظر هغه تخم دی چې دیوتا یې د انسان د زړه په کرونده کې کري، په همدې توګه لومړۍ مچکه هغه لومړنی ګل دی چې د ژوند د ونې په ښاخونو رازرغونیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلور شاعران

د مېز په سر ایښي د شرابو تر یوې پیالې راګرځېدلي و. یو شاعر وویل:

«زه په خپل تېز شاعرانه نظر او درېم حس د دې شرابو ښایسته بوی داسې احساسوم لکه د مارغانو یوه ډله چې د کوم زړه راښکونکي ځنګل په سر پروازونه کوي.»

دویم شاعر سر راپورته کړ، ویې ویل : « بالکل سمه خبره دې وکړه. زه د خپل زړه په غوږونو د دې خیالي مارغانو خوږې نغمې اورم ! د دوی خوږو نغمو زما زړه له هرې خوا داسې ګیر کړی لکه د کوم سپین ګلاف پاڼې چې د شاتو مچۍ په خپله پسته غېږ کې ونیسي.»

درېم شاعر سترګې پټې کړې، لاشونه یې په هوا کې داسې پورته کړل ته وا چاته ټینګه غېږ ورکوي، ویې ویل :
«همداسې ده ! ما پخپلو لاشونو د دوی پستې وزرې لمس کړې او داسې احساس مې وکړ لکه کومه ښایسته ښاپېرۍ چې د ناز په درانه خوب ویده وي او اشوېلي یې زما له ګوتو سره غاړه غړۍ شي.»

څلورم شاعر د شرابو پیاله ورپوته کړه، ویې ویل:
«آه ! افشوس ملګرو !! زه بېخي بد ذوقه یم ! زما د لیدلو، اورېدلو او لمس قوه بېخي کمزورې ده ! زه خو نه د دې شرابو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه راښکونکی بوی،نه خوږه نغمه او نه هم پستې وزرې احساشولی شم ! زه یوازې په دې پوهېږم چې دا شراب دي او بس ! نو د دې لپاره چې پنځه حواسه مې ستاشو په څېر قوي شي او د لوړ تخیل څښتن شم، باید دا شراب وڅکم.«

بیا یې د شرابو پیاله په غاړه واړوله،یو څاڅکی یې هم نه شو پاتې، ټول یې وڅکل.

پاتې دریو شاعرانو ورته حیران، حیران کتل ، خولې یې وازې پاتې شوې او په سترګو کې یې یو غیر شاعرانه او تریږی نفرت له ورایه ښکارېده!

## خزان

بیا تر ټول کاینات د خزان سپېره لاشونه تاو دي، ګرده فضا یوه وېرونکې ساه اخلي، مارغان پخپلو ځالو کې غلي ناست دي او په تنکیو څانګو کې شنې پاڼې د کومې غمژنې پېغلې د اننګو په څېر تکې ژېړې اوښتې دي.

د خزان سپېره باد ځپلې ژېړې پاڼې یوې او بلې خوا ته الوځي، له کړپا یې یوه ویرژلې نغمه پیدا کیږي ته وا د غم دیوتا پخپلو مړاوو ګوتو سیتار وهي.

آف !! د ظلم او استبداد خونړۍ خیرې مخ په وړاندې درومې، داسې بربښې لکه د ګردې نړۍ شیطانان چې یو ځای شوي وي او خپلې منحوسې وزرې رپوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هوا ساړه ،ساړه اشوېلي کاږي او ورو،ورو مخ په وړاندې روانه ده. زه لرې، یوې خوا ته ګوښه ناست یم او ددې خواشینونکې سانحې په تماشه یم، زړه مې د وېربېدلې توتکۍ په څېر مړاوی دی او روح مې د ناروغ د زګېروو په څېر خفه خفه!
د خزان دې سپېرو لاشونو د سلګونو زړونو غوټۍ تر غوړېدو وړاندې ورژولې.

سمندر په وراخطایۍ له ساحل سره ځان ووهي، هغه ته زارۍ کوي او د هغه مریض په څېر ستړې ستړې اشوېلي کاږي چې د ژوند په وروستي پړاو کې وي او د ځنګدن سلګۍ وهي....آسمان بې نوره او بې جلوې دی، د مځکې څېره د نارنج په څېر تکه ژېړه اوښتې ته وا د ټول کایناتو په نبض کې د وینې تګ،راتګ درېدلی.

اف !! زما اوښلنې سترګې د دې غمژنې ننداري د لیدلو توان نه لري...په دې تریخ او زهرجن چاپېریال کې مې سمه ساه بندیږي، ترك زره مې چوي....له درده ډکې نارې مې په فضا کې یوې او بلې خوا ته ستړې پروازونه کوي.
اُف خدایه !! دا سپېره خزان !! دا بې نوره او خواشینونکی خزان !!

***

د شپې په ژوره خاموشۍ کې چې سیوري اوږده شي او دشیشکو غوندې په دېوالونو یوې او بلې خوا ته ښوري.....په داسې حال کې چې د چنارونو ونې یو بل ته غږې سره وربېرته

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي او غال مغال پيل کړي.....زېړبخونده سپوږمۍ په کفن کې د پېچلي جسد په څېر ښکارېږي او هغه وخت چې ستورې د وريځو پلو له مخه لرې کړي او غلي غلي لاندې راګوي..........په دې وخت کې زما اروا د خيال په کاواکو لارو تګ ته بې ارامه شي او په نابلده درو کې ستا په لټه سرګردانه ګرځي.

خو حيف !! چې هغه ستا په پيدا کولو کې پاتې راشي او نه هم ستا د پښو کومې نښې مومې چې ستا درك وروښيي.

آه !! زما روح خفه،مايوس او ستړی ستومان راستون شي.

بيا هغه وخت چې د خوب ملکه ما پخپله پسته غېږ کې واخلي ،فکر وکړم چې د يو څه وخت لپاره به مې د دنيا ستړياووي او لوړې،ژورې له ياده ووځي...... خو افشوس چې هغه وخت هم زما اروا ستا په لټه داسې سرګردانه ګرځي لکه کومه مسافره توتکۍ چې د شپې تېرولو ځای نه لري.

هغه د خيال د نړۍ په ګوټ ګوټ کې لالهانده په تا پسې ګرځي خو په هيڅ ځای کې تا ونه مومې او نه هم ستا کوم يادګار تر سترګو کېږي.....په دې وخت کې هغه د خپل خوار نصيب له لاسه داسې بې سکونه شي لکه د سيتار په خاموشو تارونو کې چې له شوزه ډکه نغمه غږېږي.

بېرته زما روح ماته ستړی او مايوسه راشي......ستا په خوږو يادونو ځان مشغول کړي او ستا د راستنېدو په تمه ځان خوشاله کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په څپو کې انځور

د پسرلي په يوه رنګينه ورځ ،غم او خوشالي د يخو اوبو د يوې شنې چينې په غاړه يو ځای شول.له روغبړ وروسته هم هلته کېناستل او پخپلو کې يې خبرې پيل کړې.

خوښي د دنيا د ښايستونو،په غرونو او ځنګلونو کې د ژوند پر ورځنيو جالبو پېښو او همدا راز د سهار او ماښام تر منځ د مستو نغمو په اړه خبرې کولې.غم د خوښۍ له ټولو خبرو سره همغږي وښوده او په پسرلي کې د شنو فصلونو او تازه هواګانو په اړه يې تفصيلي خبرې وکړې.

د دوی دواړو خبرې تر ډېره اوږدې شوې ، دواړو لوريو د يو بل خبرې او نظريات تايد کړل.

د چينې په هغه بله غاړه دوه ښکاريان تېرېدل، د چينې په پاکو اوبو کې يې وکتل،يوه وويل :

»يره ! زه حيران يم چې هغه دوه کسان به څوك وي او هلته څه کوي !؟«

بل ښکاري وويل : «کوم دوه کسان !! زه خو يوازې يو کس وينم ،په اوبو کې هم يوازې يو تصوير انعکاس کوي.« لومړي ورته وويل : « نه ياره !! دوه کسان دي، په څپو کې هم دوه انځورونه ښکاري.«

دويم ښکاري بيا ورته وويل : « زه خو يوازې يو کس وينم.« لومړي ورغبرګه کړه : « زه ښه ښکاره وينم چې دوه کسان دي.« له هغې ورځې رانيولې تر ننه پورې دا يو ښکاري وايي چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

»زما د ملګري په نظر کې فرق راغلی،یو شی ورته دوه ښکاريږي.«

او دا بل يې بيا وايي:

»زما د ملګري نظر کمزوری شوی،شيان سم نه ويني.«

***

# ليك

ختيځ لور ته له شنو جزيرو د راګرځېدلي ستر سمندر په هغه ژوره برخه کې چې هر وخت له ملغلرو او ګوهرو ډك وي، د يوه ځوان جسد پروت و.

په خوا کې ورسره سمندري ښاپېرۍ ناستې وې، ښايسته شنې سترګې يې د ځوان په مړي کې خښې کړې وې او په خپلو کې يې په سندريز غږ خبرې کولې.

د دوی خبرې سمندر واورېدې...سمندر څپو ته وسپارلې....څپو پرخپلو اوږو تر ساحله راوړې او د نسيم پاسته باد زما تر غوږونو راورشولې.

يوې ښاپېرۍ وويل :

- دا سړی پرون هغه وخت دې سمندر ته ...زموږ نړۍ ته....راغی چې د سمندر څپې تورو نورو ورځو يو څه کمې وې..

بلې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ ځېې کمې نه وې خو دا انسان چې ځان پر مځکه د خدای خلیفه بولي،په یوه خونړي جنګ کې ښکېل دی او دومره وینې یې توی کړې چې دا دې اوس یې د سمندر اوبه هم تکې سرې کړې.ماته داسې ښکاري چې دا ځوان هم د دې خونړي جنګ د قربانیانو له جملې څخه دی.

درېمې ښاپېرۍ وویل:

ـ زه خو دا جنګ منګ نه پېژنم چې دا د کومې بلا نوم دی البته انسان پېژنم . انسان پر مځکه تر واك خپلولو وروسته اوس په دې لټه کې دی چې په څه چل پر سمندر هم برې تر لاسه کړي،په دې سلسله کې انسان د سمندر د ځېو په سر یو حیرانوونکی شی ځغلوي. د ده په دې حرص سره زموږ سمندري مشر ...زموږ دیوتا ډېر په غصه شو....اوس زموږ د دیوتا د خوشالۍ په موخه انسان دده په خدمت کې شوغات او قربانۍ راوړاندې کړلې. دا اوس چې ستاشو په مخ کې کوم جسد پروت دی، دا د انسانانو لخوا زموږ مشر ،دیوتا ته یوه ډالۍ ده.

څلورمې وویل:

ـ زموږ مشر دیوتا څومره سپېڅلی شخصیت لري خو اوس څومره سخت زړی شوی....که چېرته زه د دې سمندر واکمنه وای ما به هیڅکله د انسان دا پېشنهاد نه وای منلی......ښه ،خیر !! اوس راځئ چې د انسانانو لخوا د رالېږلې ډالۍ خوا ته ورشو،کېدای شي موږ د انسانانو په اړه یو څه جالب مالومات تر لاسه کړو.

دوی ټولې د جسد خوا ته ورغلې. یوې یې د ځوان د زړه خوا ته نږدې جېب ته خپل سپین لاس وراوږد کړ،یو لیك یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

راویوست،نورو ښاپېریو ته یې په زوره ولوست،په لیك کې کښل شوي و:

»زما ګرانه..! دا دې شپه نیمه تېره شوې او زه تر اوسه ویښه ناسته یم....په داسې ترخوشېبو کې هغه څه چې ماته ډاډ راکوي،یوازې زما اوښکې دي چې ستا په فراق کې مې لپې لپې په مخ راروانې دي...په یوه شي مې هم زړه نه کرارېږي ،یوازې دا خبره سکون رابښي چې ته به د جنګ له خونړیو خپړو بېرته روغ رمټ زما غېږې ته راځې...ستا هغه یو څو جملې چې د تلو په وخت دې ماته کړې وې،تر اوسه له ما څخه نه دي هېرې شوې او په غوږونو کې مې ګرځي،راګرځي.هغه چې تا ویل :(هر انسان د اوښکو یو امانت او خزانه لري چې یوه نه یوه ورځ یې حتماً بېرته ورسپاري.(

ـ ګرانه !! نه پوهېږم چې څه درته ولیکم !!! زړه مې غواړي چې دا خپل زړه او روح په دې کاغذ کې درته ونغاړم....هغه زړه چې ستا په فراق کې بې ارامه،بې سکونه دی، خو ستا مینه دردونه په خوند او ارام بدلوي....او غمونه په خوښیو او خنداګانو بدلوي.....هغه ورځ چې زموږ زړونه د مینې په برکت یو له بل سره غاړه غړې شول له هغې ورځې راهیسې په دې تمه یم چې د لوی څښتن په فضل به زموږ وجودونه هم یو شي او یو روح به په کې پرواز کوي....خو بیا د جنګ ډاروونکې نغاره پیل شوه او تا د خپلې دندې او وطن د مینې په خاطر د جنګ دې نغارې ته ښه راغلاست ووایه او دجنګ ډګر ته روان شوې....

ـ افف !! دا څنګه دنده او وطن دی چې دوه مین زړونه له یوه بله بېلوي . .مېرمنې کونډې کوي او ماشومان یتیمانوي....دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکله هېواد پالنه چې جنګونه راپاوري او په وږو وږو خبرو کلي او وطنونه ورانوي!....
دا ښکـلـه دنـده ده چـې غریـب کلیوالـ خلـك د خپلـو ظالمـانو بـادارانو د واکمنـۍ لپـاره خپـل ژونـد قربـاني کوي...کـه چېـرې دنده د قوموتو تر منځ د شولې تباه کـول وي او همدا راز هېـواد پالنه د انسان د ژوند شوکالي او ارام لـه منځه وړل وي نـو داسـې دندې او هېوادپالنې ته خو له ورایه دوه لاسې سلام!.....
نه،نـــــه ،نه ...! زما ګرانـه ..! زمـا پـه خبـرو پسـې مـه ګرځـه!... زړور شـــه او خپـــل هېـــواد تـــه وفـــادار او ایمانـــدار اوســـه!..
د یوې ځوانې جینۍ په خبرو پسې سر مه خوږوه ، د چـا سـترګې چې مینې ړندې کړې او په عقل یې د فـراق پـرده پرتـه ده ....تـه خپلې دندې تـه وفـادار اوسـه....کـه مینـې تـه اوس زمـا تـر غېـږې روغ،رمټ نـه راورشـولې نـو پـه راتلونکې نـړۍ کـې بـه مـو حتمـاً سره یو ځای کړي....
د خدای په امان!
ستا محبوبه ..د تل لپاره ستا«
ښـاپېرۍ هغـه لیـك بېرتـه د ځـوان پـه جیـب کـې لکـه ښکـه چـې ایښـې ؤ،کېښـود. ټـولې پـه ډېـره خواشینـې او پټـه خولـه د ځـوان سرتېري له جسده روانې شوې،دوی ټیټ سر روانې وې.له لږ مزل وروسته یوې وویل:
»دا د انسان زړه خو تـر ډبـرې او زمـوږ تـر هغـه دیوتـا هـم سـخت دی.«

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښکلا

هر څوك ښكلا ته له خپل ليدلوري ګوري.

څورېدلي او ژوبل وايي:

ـ ښکلا د حياناکې او مهرباني ښځې په څېر ده... چې په ډېر ويارۍ او عظمت زموږ تر منځ تېرېږي په داسې حال کې چې لېمې يې له حيا ډکې وي او ښکته ګوري.

يوه بل جذباتي کس بيا داسې وويل:

ـ نه ! داسې نه ده ! حسن د طوفان په څېر وېرونکی او زورور دی چې تر پښو لاندې مو مځکه خوځوي او په سر مو آسمان. سترې او ستومانه خلك بيا وايي:

ـ ښکلا يوه پسته نغمه ده چې زموږ په اروا کې ګنګوسه کوي او زموږ د ذات په چوپه نرۍ کې رو، رو انګازې کوي لکه د ډېوې تته رڼا چې له خپل سيوري څخه ډارېږي او سترګې پټې،پټې کوي.

هغه چې لالهانده دي د ښکلا په اړه داسې وايي:
ـ موږ د غرونو په منځ کې د ښکلا نارې واورېدې او ورسره سم د اشونو د پښو ترپا ، د ښکاري مارغانو د وزرونو شور او د زمريو غړمبهار هم تر غوږو شو.

د ښار څوکيدار نيمه شپه له ځانه سره وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ که خدای کول ښکلا به سهار له لمر سره یو ځای له ختیځ لورې راوخېږي.

په سره غرمه کې مزدوران او مسافر بیا وایي:

ـ ښکلا مو ولیده چې په لوېدیځ کې د لمر د پرېوتو له کړکۍ څخه د مځکې په لور راکوزه شوه.

هغه چې په ژمي کې د واورې له تورولو ستړي شوي،وایي:

ـ هغه ده ښکلا له سپرلي سره یو ځای د غرونو او درو په منځ کې په نڅا را روانه ده.

او هغوی چې په سره اوړي کې د غنمو لو کوي، وایي:

ـ مورږ ښکلا ولیدله چې د مني له ژېړو پاڼو سره یو ځای راروانه ده ، په وېښتانو کې یې د واورې بڅرکي هم نښتي.

دا ټول هغه خبرې چې تاسې د ښکلا په اړه وکړې په حقیقت کې بیا هم ښکلا دې ته نه وایي دا خو ټول یوازې ستاسې نه پوره کېدونکي تمایلات او اړیتاوې وې او ښکلا خواهش او اړتیا نه ده..هغه خو یو کیف دی!

ښکلا خو نه د کوم تږي وچ شونډان دي او نه هم د فقیر غځېدلي لاس......ښکلا خو د وریت شوي زړه او مین روح نوم دی.

ښکلا داسې یو انځور نه دی چې ته یې په سترګوو وینې او نه یو داسې غږ دی چې په غوږونو یې واورې....دا انځور هلته لیدلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپې چې کله خپلې سترګې پټې کړې او دا د ښکلا سندره هلته اورېدلی شي چې کله خپل غوږونه په بشپړه توګه بند کړې.
ښکلا هغه نښان نه دی چې د ببړۍ له تېروېدو سره د اوبو په سر ښکاره شي او سمدستي رنګ شي او نه هغه وزر دی چې له پنجې سره نښتي وي...... بلکه دا خو تلپاتې باغ دی چې بېلا بېل ګلونه په کې زرغونېږي او د پرښتو یو سېل دی چې د هسك په پراخه څنډه پروازونه کوي.
ښکلا خو ژوند دی ...ژوند په داسې حال کې چې له خپل سپېڅلي مخ پرده پورته کړي.
مګر تاسې پخپله ژوند هم یاستئ او هغه پرده هم پخپله یئ چې د ژوند په مخ پرته ده.
ښکلا ابدیت دی چې خپل ګلالی مخ د ژوند په هنداره کې ګوري. خو ابدیت هم تاشو یئ او هنداره هم تاشو پخپله..

***

انسان د وخت غلام دی او همدې غلامۍ د انسان ورځې د کړاؤنو او بدبختیو په پرده کې پېچلې او د ده شپې یې د غم او څور په اوښکو لمبولې.
زما له لومړي پیدایښته تر اوسه دا دې اوه زره کلونه کیږي،چې زه یوازې همدا غلامان وینم چې د غلامۍ درنې زولنې یې په پښو دي او په ځان پسې یې راکاږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه د نړۍ له ختیځه تر لوېدیزه تللی یم،د ژوند په سیوري او رڼاګانو کې ګرځېدلی یم، قومونه او نسلونه مې له تورتم څخه د رڼا پر لور د خوځښت په حال کې لیدلي...خو په دې دومره وخت کې مې یوازې همدومره ولیدل چې د دوی تر غاړو د غلامۍ رسۍ راګرځېدلي، زورور خلك مې هم لیدلي چې غلامان دي او کمزوري هم وینم چې د ډېرو خدایانو ته سر په نامه ولاړ دي......زه له (بابلینه) تر قاهرې او له (بغداده) تر (پارسه) د انسانانو په دې قافله پسې تر شا ، شا را روان یم او د دښتو په شګو کې د دوی د دې زنځیرونو نښې پخپلو سترګو وینم....

ما د ناکراره نسلونو هغه چیغې پخپلو ګنهګارو غوږونو اورېدلې چې په غرونو او ځنګلونو کې انعکاس کوي.

زه کلیساؤ،جوماتونو،د قرباني ځایونو او ښایسته محلونو ته ننوتی یم،له پاچاهانو سره یو ځای کېناستی یم....ومې لیدل چې مزدور د خپل څښتن غلام دی...څښتن یې بیا د چارواکو مریي دی،چارواکي د خپل قومندان او قومندانان بیا د پاچا غلامان دي...پاچا د پادري غلام دی...او پادریان پخپله د بتانو غلامان دي...او بت خاوره ده چې شیطان پخپلو مردارو لاشونو خیشته کړې او بیا یې د انسانانو په کوپړیو ورتپلې.

زه د شتمنو ماڼیو او د بې وزله جونګړو ته ورغلی یم،لیدلي مې دي چې میندې خپلو ماشومانو ته له شیدو ورکولو سره د غلامۍ څاڅکي هم ورکوي او ماشومان آن په ښوونځیو کې د الف او ب له زده کولو سره یو ځای غاړه ایښودل هم زده

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي....ومې لیدل چې پېغلو د عاجزۍ او بندیز جامې اغوستې او ښځې د تن اینښودنې او محکومیت په کمبلو کې په داسې حال کې پرتې دي چې سترګې یې له ژړا سرې دي.

***

له نن نه سلګونه کاله پخوا په یوه کلي کې یو راهب اوسېده. هغه به په میاشت کې درې ورځې ښار ته راکوزېده ، په عمومي چوك کې به یې خلکو ته د سخا ، صدقې او له خلکو سره د مرستې په اړه وینا کوله.

د هغه په خبرو کې ډېر تاثیر و، تر ډېرو سیمو پورې یې نوم تللی ؤ او له لرې ځایونو به خلك د ده لیدو ته راتلل.

یوه ورځ درې ملګري د ده دربار ته راغلل.

له روغبړ وروسته یوه تن، راهب ته وویل:

»ښاغلیه ! تـه خلکـو تـه د سـخا او ورکـړې پـه اړه لارښـووني کوې...شـتمن دې تـه اړ کـوې چـې لـه بېوزلـو سـره مرسـته وکړي....په دې خبره کې هیڅ شك نشته چې خلکو له تاسره د ډېرې مینې او عقیدت له وجې ډېره مالي مرسته کړې....موږ ډېر بېوزله او مجبور یو...له ډېر لرې ځایه تاته راغلي یو....موږ ته د خدای په نامه یو څه راکړه.«!

راهب ځواب ورکړ:

»ګرانو وروڼو !! زه خو له دې یوې بسترې او کوزې پرته هیڅ نه لرم....کـه پـه دې ستاشـو کـار کیـږي، نـو لـه ځانـه سـره یـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوسئ...له دې پرته خو زه په کور کې نور سره او سپین نه لرم.«
درې واړه ځوانان ډېر په قهر شول، سمدستي له هغه ځایه روان شول، یوه یې په تلو تلو کې په ډېره غصه راهب ته وویل :
»ته دروغجن یې !! دهوکه باز یې!! ټګ یې!!
ته نورو ته د داسې نېکۍ لارښوونه کوې چې خپله پرې عمل نه شې کولی.«

***

کله چې عقل تا ته یو څه وایي نو کلك غوږ ورته ونیسه، له هره شره به په امان یې.

د عقل خبرې د زړه په غوږونو واوره او د وسلې او زور په نیت یې له خپل ځان سره سمبال وساته ځکه چې لوی څښتن ستا لپاره تر عقل بل کوم ښه لارښود او بل کوم ستر قوت نه دی پیدا کړی.

کوم وخت چې عقل ستا له زړه او ستا د اروا له ژورو سره خبرې کوي نو پوی شه چې تاته د نفس او هوا له فریبونو د ژغورلو لارښوونه کوي ځکه چې عقل یو هوښیار وزیر دی، یو وفادار لارښوونکی دی او یو ځیرك مشاور دی.

د قهر او جهل په تورو تیارو کې عقل د یوه روښان څراغ مقام لري نو هوښیار اوسه، هغه وخت چې جذبه شې او غصه شې، هڅه وکړه چې خپل عقل د لارې مشعل وګرځوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو يوه خبره بايد هر وخت په ذهن كې درسره وساتې، چې يوازې عقل هم بس نه دى كه چېرته له تا سره د علم او پوهې قوت ملګرى نه شي.له علم پرته عقل داسې دى لكه بې كوره ، بې اوره غريب سړى او علم هم له عقل پرته داسې دى لكه يو ښه كور چې پيره دار ونه لري. آن تر دې پورې كه عقل نه وي نو د مينې، انصاف او نېكۍ په څېر باارزښته او ګران بيه شيان هم خپل ارزښت له لاسه وركوي...

## بشپړه نړۍ :

اې زما د وركې اروا خدايه ! اى هغه ذاته، چې زماد خدايانو په منځ كې ورك شوى يې! زما غږ واوره ! اې هغه ارام برخليكه، چې زما د وركې او لېونۍ اروا لپاره شپې په ويښه تېروې! غږ مې واوره! ما له كمال او تكامل نه هېڅ برخه يو نه وړه، خو د بشپړو انسانانو په منځ كې ژوند كوم.

زه د انسانيت مين له هغه سرګردانه عناصرو نه يم، چې د كاملو جهانونو او داسې كسانو په ميځ كې، چې تكميل شوي او منظم قوانين لري؛ ګرځم.دوى ټول داسې كسان دي، چې خوبونه او خيالونه يې په كتابونو او ديوانونو كې ثبت شوي دي. خدايه! دغه كسان د خپلو ثوابونو اندازه اخلي او خپل ګناهونه هم په تله تلي او معلوموي. دوى دنېكيو، تېروتنو او عيبونو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې شماره دفترونو او فهرستونو لرونکې دي، پېژندل يې ګناه نه ده او ثبت يې هم ثواب نه لري.

دوی هلته ورځې په ډېر دقيق او مرتب ډول په فصلونو ويشي، هغه وخت هرکار د خپل وخت په حساب پای ته رشوي. خوړل، ښښل، ويده کېدل او اغوستل، د تن لوښوالی او چې بيا له خسته کېدلو وروسته هر څه په خپل ځای کې دويم ځلي تکرارېږي.

کارکول، لوبېدل، سندرې ويل او نڅېدل او کله يې چې وخت را ورسېږي، استراحت کول، فکر کول، احساس کول او وروسته بيا له دې دواړو نه لاس اخيستل، هغه وخت، چې د نېکبختۍ ستوري له ډېر لرې افق نه را وخېژي.

په خندانو او موسکوشونډو د ګاونډي له مال نه غلا او هغو کسانو ته د ډاليو بخښل، چې د قدردانۍ او ستايلو توقع لري، په ځيرکۍ سره ستايل، په احتياط سره جزا او وهل، په کلام سره د روح وژل، په مچکو سره تن سېزل او په شپو کې د لاشونو وينځل، داسې لکه هېڅ چې نه وي واقع شوي.

په دود او رسم سره عشق پالل، په ټاکل شوي دود سره تفريح، د خدايانو عبادت څرنګه، چې مناسب ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شیطانانو فریبونه او په کافرانو مکر کول او وروسته بیا د دې ټولو داسې هېرول، لکه دا چې د یوه مړه شوي خوب کومه خاطره وي.

له انګېزې سره غوښتنه او یوې موخې لپاره تصور کول، په دقت سره شوچ کول، په خبرتیا او ستونزو ګاللو سره ښاد پدل او وروسته بیا د هیلو د جام خالي کول، هغه هم په دې هیله، چې شاید ورځې به یې بېرته ډك کړي.

خدایه ! دا ټول په پخوانیو شوچونو سره د نطفې غوندې ګوري او له ارادې نه زېږي، دقت روزنه ورکوي، نظم او قانون هغه اسانوي.

عقل یې لار ښوونه کوي او په حرکت یې راولي، هغه وخت وژل کېږي او د تاکلې دستور سره یم په روح کې خښېږي، چې خاموش ګورونه یې د انسانانو په روحونو کې نغښتي. تاکلې نښه او نښان لري او دا زموږ لپاره یو پندی دی!.

هو! دغه نړۍ یوه کامله نړۍ ده، چې له معجزو او اندیښنو نه د اوچ تر سرحده مالامال ده. هو! دا نړۍ د خدای د جنت تر ټولو رسېدلې مېوه او د هستۍ د شوچونو شهکار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو اې خدایه! زه د څه لپاره دلته یم، دا زه یم که د نارس او شهوت ناتمامه مېوه! زه هغه ویرانوونکی توپان یم، چې نه لوديځ ته ځي او نه هم ختيځ ته! زه د يوه قهرجن او شوزېدلي ستوري ورکه شوې او سرګردانه زره يم؛ نو بيا د څه لپاره دلته يم؟ ای دورکې شوې اروا خدايه! ای هغه خدايه، چې د خدايانو په منځ کې ورك شوی يې...

***

له ښاره يوه نجلۍ يوه باندې ار ته لاړه.

جينۍ ډېره ښايسته وه.

څېره يې يوه ښايسته تازه ګلاب ته ورته وه.

د هغې په ګلالۍ څېره کې د کايناتو ټولې ښکلاوې راټولې شوې وې.

په زلفو کې يې د شفق په زړه پورې منظره وه او د سرو شونډو موسکا يې د لمرخاته په څېر ښکلې ننداري ته ورته وه.

د ځوانانو سترګې چې څنګه په دې نابلده جينۍ ولګېدې، سمدستې پسې شول او ګرد ترې راګرځېدل.

يوه هڅه کوله چې ورسره وناځي او بل يې بيا غوښتل چې د دې په درناوي کې يو کيك پرې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو ځوانانو غوښتل چې د دې اننګي ښکل کړي.......ځکه چې یو بانډار و او په داسې ځایونو کې د هر چا زړه همدا غواړي.
خو جینۍ د ځوانانو دې چلند ډېر وارخطا کړه، طبیعت یې خراب شو.

جینۍ ځوانانو ته ډېره غصه شوه او آن یو دوو ته خو یې په مخ ښه تېزه څپېړه هم ورکړه.

آخر مجبوره شوه او له هغه ځایه په منډه ووته.
دې د خپل کور په لور چټك چټك ګامونه اخیستل او په زړه کې یې ویل:

»زه له دې سړیو کرکه کوم !! اُففف ! دا سړي څومره بې اخلاقه او بې حیا وي ! د دوی له بې اخلاقه حرکاتو زما د صبر کاسه نوره ډکه شوه.«

تر یوه کال پورې دې ښکلې جینۍ د هغه سړیو او بانډار په اړه فکر کاوه.

څه موده پس دا جینۍ یو ځل بیا بانډار ته راغله.هغه ښکلې جینۍ چې آننګي یې ګلاب ته ورته و، په زلفو کې یې دشفق ننداري وې او د سرو شونډو په خوږه مسکا کې یې د لمر ختلو منظرو جلوې کولې.

خو دا وار ځوانانو دې ته هیڅ پام ونه کړ ! د هر یوه چې به په دې سترګې ولګېدې نو بلې خوا ته به یې لاره چپه کړه.
دا ځل دا ټوله ورځ ګوښې وګرځېده او هیچا ورته چندان اهمیت ورنه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماښام چې بېرته بيا د خپل کور په خوا چټکه روانه وه، په زړه کې يې ويل:
»زه له دې سړيو کرکه کوم !! اُففف ! دا سړي څومره بې اخلاقه او بې حيا وي ! د دوی له بې اخلاقه حرکاتو زما د صبر کاسه نوره ډکه شوه.«

***

اې شپې...
اې شپې...... نيمې شپې!
د مينـــانو، شـــاعرانو او هنرمنـــدانو د يوازيتـــوب ملګـــرې،
شــــپې ! د خيـــالونو او خوبونـــو او ارواوو انځـــورګرې،
اې شـــپې ! زمـــوږ د يـــادونو، اميـــدونو او هيلـــو زانګـــو!
ته د يوه ډېب په څېر يې چې د ماښام د تورو وريځو د ټوټو په څېر کوچنی او د سهار تر وړانګو ستر وې،
د وېرې توره دې په لاس ده، د سپوږمۍ زرين تاج دې په سر ايښی او د خاموشۍ قبا دې په تن ده،
د مځکې او اسمان تر منځ ولاړه يې، په زرګونو سترګو د ژوند ژورو او رېښو ته ګورې او په زر غوږه د مرګ او فناه زګېروي ته غوږ يې.
ستا د تاريکۍ په برکت موږ د اسمانونو رڼاګانې وينو ځکه چې د ورځې رڼا خو موږ د مځکې په تيارو کې زنداني کړي يو.
اې شپې ! تـه يـې چې د بقـا د سترې وېرې پـه وړانـدې زمـوږ سترګې راخلاصوې، ډاډګېرنه راکوې او اميد مو پيدا کوې خو ورځ زموږ سترګې راتړلې او د زمان او مکان په معاملو يې تېر ايستيلي يو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته يوه بشپړه خاموشي يې چې د وينښو اروااوو رمزونه تر هسكه رشوي خو ورځ بيا يوه پارونكې غوغا ده چې ارواوې په كې د هوس او حيرانتيا تر كوړمو لاندې تربت وي.
اې شپې ته هغه مهربانه يې چې ستړي خلك د يو څه وخت لپاره د ارام په كښتۍ كې د خوبونو هغه جزيرې ته وړې چې دوی په كې بې غمه وي ، هر څه يې له ياده وځي او عزم يې قوي كيږي.
شپې ! ته د يوه زړه شواند پاچا په څېر يې، د مينې او شوق په پستو ګوتو د بېوزلو ستركې ورپټوې او د هغو زړونه يوې داسې دنياګۍ ته انتقالوې چې تر دې زياته ارامه او ښه وي.
د مينانو ستړې اراوې ستا تر شنه پلو لاندې ارام مومي او بې كسه ستا په شبنم لړليو قدمونو كې خپلې اوښكې تويوي.

اې شپې ! ستا د ملكوتي لاشونو په ورغوو كې د سمشورو درو د شنو باغونو د راز،راز مېوو بوی او خوند پروت دی او د ژوند په لاره ستړي لارويان په كې استراحت كوي او ژوند ته يې بيا هيلې پيدا كيږي.
ته د مينانو ملګرې يې، زړه تنګو ته ډاډ وركوې، د مسافرو او يوازې كسانو لپاره كوربانه يې.
ستا په ژورو سايو كې د شاعر احساسات دېره دي او ستا له خاموشې فضا الهام اخلي، په لمن كې دې د پيغبرانو زړونه وينښ دي، او پوهان هم ستا له ذاته سرچينه اخلې، ځكه چې ته د شاعر لپاره تخيل او الهام يې،د پيغمبرانو لپاره د وحې استازې يې او همدا راز د پوهانو لارښوده يې.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

# موري

مور...له ازله تر ننه د انسان په ژبه تر ګردو خوږ، سپېڅلی او ښایسته لفظ دی او »موري !« تر ټولو خوږ، ستر او مینه ناك غږ دی.

مور... د زړه له ژورو راپورته شوی هغه خوږ غږ دی چې له مینې، خلوص، مهربانۍ او شفقت څخه ډك دی.

مور هر څه ده.

مور د غم په تکه توره شپه کې د خوښۍ زرینه وړانګه ده. مور..د تکلیف په وخت کې د ارام او سکون څپه ده. مور..د کمزورۍ په وخت کې د حوصلې او قوت ښښونکې ملکه ده.

مور د محبت، سکون، اخلاص، ښښنې، زړه شوي او خواخوږي یو سمبول دی چې د کایناتو ستر څښتن پورته له هسکه انسان ته د یوه ستر نعمت په توګه دې نړۍ ته رالېږلې. د دې کایناتو هر یو شی د مور پر ستروالي او هستۍ باندې دلالت کوي.

لمر د دې مځکې مور ده، د خپل وجود رڼا او حرارت مځکې ته وربښي.

لمر ټوله ورځ له مځکې سره وي، هغه یوازې نه پرېږدي مګر چې ماښام یې کرار، کرار په داسې حال کې ویده ویده کړي کې چې د سمندر د څپو، د مارغانو د نغمو او د ویالود زمزمو په ژبه شوکه شوکه ا للو،للو ورته وایې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مځکه بیا د ونو او ګلانو مور ده.هغوی ته پخپله غېږه کې ځای او وده ورکوي، د هغوی پالنه کوي، هغوی ته غذا ورکوي، هغوی ته ښکلا وربښي تر هغه چې هغوی د انسانانو په څېر د مځکې پر مخ زرغون شي.

دا ګلونه او دا ونې بیا د خپلو تخمونو او مېوو مهربانې میندې دي چې پخپلو پستو غېږو کې یې پالي.

مورې!

د دنیا د دې ټولو رازونو سرچینه ستا سپېڅلې ذات دی. ددې دنیا ټوله ښکلا، ټوله مینه، ټول اخلاص ستا له ذاته سرچینه اخلي.

مورې...ته یو ستر، بې پایانه، ابدي ذات یې.

***

## بې ژبې حیوان

د یوې ښایسته ورځې له تېرېدو پس، چې د شفق لمنې سرې وې او لمر د ډوبېدو په حال کې و، احساسات او خیالات مې په عقل زورور شول، د باندې ووتم، د ښار په خالي کوڅو کې روان شوم. د ښار له تنګو اوختېنو کوڅو تېر شوم، د یوه زاړه او رنګ کور مخې ته راورسېدم چې یوازې یې خاورې او لوټې پرتې وې او داسې برېښېده چې کلونه وړاندې ترې انسانانو کډه وړې. لږ چې نور ورنږدې شوم نو په یوه سپي مې سترګې ولږېدې چې په لوټو او ایرو کې پروت ؤ. ټول بدن یې زخمونو اخیستی و او په بې سیکه وجود کې یې هډوکي د باندې راوتلي وو. په

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګو کې یې ذلت او بېوزلي دواړه ښکارېدل او په ډېره مایوسۍ یې د ډوبېدونکي لمر خوا ته کتل.

شوکه د سپي په لورې ور روان شوم، له ځانه سره مې فکر وکړ چې کاشکې د حیواناتو په ژبه پوهېدلی نو اوس به مې دې خوار ته تسلي ورکړې وای او خپله خواخوږي به مې ورته بیان کړې وای خو هغه له ما څخه وډار شو، هڅه یې وکړه چې پخپلو ګوزڼ وهلو پښو پورته شي او له هغه ځایه لاړ شي خو ونه توانېد .څو واري پورته شو خو بېرته به په مځکه ولوېد ، وروسته یې په ډېره عاجزۍ زما خوا ته راوکتل، په سترګو کې یې کرکه او د زړه شوي غوښتنه دواړه ښکارېدل.

د هغه په شوي نظر کې د سړي تر خبرو زیات فصاحت او د ښځې تر اوښکو زیات اثر ؤ،ځکه خو زه د ده په احساساتو پوی شوم او د انساني لفظونو بڼه مې ورکړه، چې ویل یې:

»زه د انسان د وحشت او ځورونې له لاسه دې خوار حالت ته رارسېدلی یم.زه ستاسې د ظلم له وجې دې ځای ته راغلی یم او دلته په دې کنډوالو او ایرو کې مې پناه اخیستې......دا ویجاړې ماته د انسان تر زړه یو څه مهربانه ښکارېږي....اوس له تا هیله کوم چې له دې ځایه لاړ شه او ما پرېږده چې دلته یو څو شېبې له انسانانو لرې په کرار تېرې کړم .....ورځه ،لرې شه ته هم د هغو بې نیاوه او بې رحمه مخلوق له دنیا نه راغلی یې!

- زه یو بې چاره حیوان یم چې تل مې په ډېره ایمانداري سره د ادم د زوی خدمت کړی دی، هر وخت مې له هغه سره وفا کړې، د هغه وفادار ملګری پاتې شوم او شپه، ورځ مې د څوکیوالۍ په څېر د هغه له کوره ساتنه کړې....د هغه په نه شتون کې مې دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاد کړی او پسې خواشینی شوی یم او په راتګ سره یې له حده تېر خوښ شوی یم او مخې ته مې ورمنډې کړې..ما د هغه له سترخوانه په پاتې اتامونو ( د ډوډۍ ورې ټوټې : ژ) باندې قناعت کړی او په هغو هډوکو مې ګوزاره کړې او د ستر نعمت په سترګه مې ورته کتلي چې ده شکولي او ماته یې راچولي.....خو کله چې زه زوړ شوم او له ځواکه ولوېدم نو ده له کوره پسې راشړلی یم، په خوار حالت کې یې د کوڅه ډبو هلکانو په لاس ورکړی یم چې دا دې اوس مې دا خراب حال ته هم ګورې.

-اې د ادم اولاده ! زه یو کمزوری حیوان یم خو په ما او تا کې یو څه ورته والی شته ....انسان هم چې کله ځواکمن وي نو هر څه د ده په واك کې وي خو چې له پښو ولوېږي بیا د یوې ګولې ډوډۍ شوال ته ودرېږي.

زه د هغه سرتېري په څېر یم چې ټول عمر د خپل وطن لپاره جنګېږي، په یخو سنګرونو کې شپې سبا کوي، وطن ته شوکالي راولي خو چې اندامونه یې د وطن لپاره غوڅ شي، له کاره ولوېږي بیا یې څوك د پوښتنې نه وي او له هر چا څخه هېر شي.

-بل ورته والی زما او انسان تر منځ......ښځه هغه وخت چې پېغله وي او ښایسته وي نو بیا سړي خپل زړونه د دې په قدمونو کې غورځوي، په ډېرو هڅو او زاریو یې مېرمن کړي، دا هم خپل ژوند شپه او ورځ د خپل خاوند په چوپړ کې تېره کړي، د اولادونو مور شي، تر سهاره له خپلو اولادونو سره په وینښه تېره کړي خو چې بوډۍ شي او د ځواني موسم یې تېر شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا د هر چا له پامه وغورځېږي او په کور کې د یوه زیات او اضافه شي په سترګه ورته کتل کېږي.......

آه انسانه ! ته څومره سخت زړی او ظالم یې« !!
سپي د خاموشۍ په ژبه خبرې راته کولې او زما زړه په نېغې نوتلې.......له یوې خوا به مې پرې زړه وشوځېد، له بلې خوا به مې سترګو ته د خپلو انسانانو زېږ تصویر مخې ته ودرېد. له لږ ځنډ وروسته د سپي سترګې سره ورغلې، زه شوکه له هغه ځایه وخوځېدم، نه مې غوښتل چې له خوبه یې وباسم.

## وروستی شوغات

د اته ویشتمې شپې تکې ژېړې سپوږمۍ په اوښلنو سترګو او چوپه خوله د مځکې لور ته کتل، کټ مټ د هغه مریض په څېر چې نور له خپل ژونده ستړی وي او هر اشوېلی یې لکه د دېوالې ګړۍ ټک ټک مرګ ته شېبې شماري.

پیکه رڼا به یې کله کله د نارنج د ونې په شنو پاڼو ولګېده، نژدې د یوه بلبل له شوزه ډک غږ به د شپې چوپتیا ماته کړه،له فریاده ډک غږ به یې ازانګې وکړې او فضا به نوره هم وېرونکې شوه، خو د فطرت په منګولو کې زنداني سپوږمۍ بې وسه وه او د پنډو وریځو د سپینو ټوټو په منځ کې داسې ښکارېده لکه په سپین کفن کې د کوم ځوانیمرګ پېچلی جسد !

ځلېدونکو ستورو هم په ډېره مایوسۍ خپل ملګري ته کتل ؛ له سپوږمۍ سره له یوې میاشتې ساتېري او وخت تېرولو وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس د هغې فراق ته اند ېښمن وو او په يوه ژور چرت کې لاس تر زنې ناست وو.

له بلې خوا سپوږمۍ چې له ډېره غمه په ځان نه پوهېده ،شوکه شوکه د اسمان په شنو څنډو کې پناه کېده، د هغه وريځې په څېر چې له ورېدو وروسته رو،رو په فضا کې ورکيږي. ټول کاينات د يوې هيبت ناکې خاموشۍ په ټيکري کې نغښتی و، د سپېدار ونې يوې او بلې خوا ته ښورېدې ته وا له ډېره غمه لاشونه مرېي او د بدن ستړيا لرې کوي، اوږده سيوري يې د شيشکو په څېر وېرونکي ښکارېدل، کله نا کله به په اسمان کې يوه پيکه ستوری د وچ ګلاف غوندې ترسترګو شو او د سپوږمې زګېروو به په هوا کې ازانګې وکړې.

شپه ورو،ورو په ختمېدو وه او د اسماني څراغ روښانه شغله شوکه،شوکه مخ په مړه کېدو وه.

په دې وخت کې يو دم يوه ځلېدونکي ستوري په اسمان کې لاندې د مځکې په لور منډه کړه او د مځکې په بې پايانه ژورو کې ورك شو. ماته دا ننداره داسې ښکاره شوه لکه له ژوند سره د تل لپاره د خداى پاماني اخيستونکي مسافر وروستی شوغات........... پلې ملګرې مځکې ته د انډيوالۍ وروستۍ نښته....د سپوږمۍ له اند ېښمنو ډکو سترګو څخه څڅېدلې اوښکه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لېونتون

د لېونتــون پــه بــڼ کــې لــه یــوه ځــوان ســره مــخ شــوم.
څېره یې تکه ژېړه..... خو ښایسته او له یوې ژورې حیرانۍ ډکه وه
نـژدې ورغلـم، پـه خـوا کـې پـه څـوکۍ ورسـره کېناسـتم!
تـرې ومـې پوښـتل : «څنګـه دې لېونتـون تـه راغلـی یـې ؟.«
ځوان په ډېره حیرانۍ زما په لور سترګې راپورته کړې، ویې ویل :
که څه هم شوال دې ناوړه او غیرمعقول دی، خو بیا به هم ځواب درکړم.

«دا خو داسې وه چې زما پلار غوښتل ما د خپل ځان په څېر ستر کړي او همدا راز زما تره همدا غوښتل چې زه د ده په څېر شم.

مور مې هم فکر کاوه چې زه د دې د خاوند په څېر شم، او ویل یې باید د هغه په پله لاړ شم او یو کشتۍ وان شم، ورور مې بیا غوښـتل چـې زه د ده پـه څېـر شـم یعنـي یـو ښـه لوبغـاړی شـم!
زمـا د فلسـفې ښـوونکي....د موسـیقۍ اسـتاد...د منطقـو ښـوونکي..........لنډه دا چـې هـره یـوه غوښـتل چـې زه پـه راتلونکې کې د دوی په څېر شم ،
هر یوه غوښتل چې زه د دوی د شخصیت هنداره شم.
نو ځکه ماته دا ځای مناسب ښکاره شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کم تر کمه دلته زه په خپل واك کې یم او پخپله خوښه لکه څنګه چې یم ،هغسې اوسېدلی شم

بیا یې نابېره زما په خوا مخ راوګرځاوه، ویې ویل : ښه دا راته ووایه ، چې ته هم دلته د ورته مشکل له کبله راغلی یې ،غواړې یو څه زده کړې او مشوري تر لاسه کړې، که نه د کوم بل څه دپاره راغلی یې ؟!

ما ځواب ورکړ : نه ! زه یوازې دلته د معاینې دپاره راغلی یم ، غواړم دا ځای وګورم.

ځوان راته وویل : ښه ! ښه ! پوی شوم ! نو ته د دې لېونتون له دېوالونو اخوا په دې بل لېونتون کې اوسېږې!

## دوه لوستي کسان

د پرمختکې د «افکار» په لرغوني ښار کې دوه لوستي کسان اوسېدل.

دوی دواړو له یوه بل سره کینه لرله او د یو بل پوهې ته یې په سپك نظر کتل.

دوی د دوو بېلو مفکورو خاوندان وو.

یوه یې د خدایانو او دیوتاوو پر شتون ایمان درلود خو دا بل بیا د دیوتاوو له وجوده منکر ؤ.

یوه ورځ چې پیروان یې هم ورسره وو،دواړه په بازار کې سره مخ شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوارړو هلته د خدايانو او ديوتاوو د شتون او نه شتون په اړه مناظره پيل کړه او هر لوري خپل دليل وړاندې کاوه.

له څو ساعته مناظرې او مناقشې وروسته دوی له يو بل څخه بېل شول.

په هم هغه ماښام هغه يو يې چې دخدايانو له وجوده منکر ؤ، کليسا ته لاړ، په منبر کې په سجده پرېوت، خدايانو ته يې زارۍ کولې چې د هغه غلطې عقيدې ښښنه ورته وکړي چې ده پخوا لرله.

ويل کيږي چې په همدې ساعت کې هغه دويم کس چې د خدايانو په وجود يې ايمان درلود، خپلو ټولو سپېڅلو کتابونو ته اور واچاؤه ځکه چې د ده عقيده اوښتې وه او دخدايانو له وجوده منکر شوی ؤ.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوه ماشومان

د شاهي ماڼۍ تر مخ زرګونه خلك راټول شوي وو. په ډېره ناكرارۍ يې پاس د برنډې خوا ته كتل.

د ټولو په شونډو يوه مرموزه موسكا خوره وه او په څېرو كې يې د يوې سترې خوښۍ نښې له ورايه ښكارېدې.

په برنډه كې څوكيداران يوې خوا ته شول، پرده يې كش كړه، پاچا راووت، لاندې فضا د (پاچا زنده باد) نارو په سر واخيسته، پاچا راوړاندې شو،ل اندې يې خلكو ته وكتل، موسكى شو او د لاس په خوځولو يې له ټولو مننه وكړه.

ټول خلك غلي شول، يوه ژوره خاموشي شوه، پاچا وويل:

»ډېره مننه ښاغلو!

ـ اجازه راكړئ چې تاسې ته او د دې ايالت ټول بختور اولس ته د نوي شهزاده د پيدايښت په موخه د زړه له كومې مباركي وړاندې كړم. زه پوره ډاډه لرم چې دا نوى زېږېدلى شهزاده به زموږ د درنې كورنۍ او د دې ټول هېواد نوم په نړۍ كې روښانه كړي او انشاالله تاسې ټول به په ده باندې وياړئ.

هغه به د دې ستر سلطنت نوى وارث وي او همدا راز د دې سلطنت يوه روښانه راتلونكى او پرمختګ په هغه پورې اړه لري او د دې ايالت كاميابي د هغه په لاس كې ده.

زه خپلې خبرې په همدې ځاى پاى ته رشوم.

تاسې خوشاله اوسئ او ښه ساتېرى ولرئ.«

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاچا بېرته شاهي ماڼۍ ته ننوت.

ټولو خلکو لاشونه وپرقول، له خوشالۍ يې چيغې او غالمغال پيل کړ، سندرې يې شروع کړې او مستۍ يې ټوله فضا په سر واخيسته.

خو په اصل کې دوی د يوه مستبد واکمن لپاره نڅاګانې او خوشالۍ کولې .

هغه څوك چې په راتلونکې کې به په دوی واك چلوي او د دوی په غاړو کې به د ظلم زنځيرونه ور اچوي.

په کمزورو به نور هم ژوند راتنګ کړي ، د هغوی له بېوزلۍ څخه به ناوړه استفاده واخلي او په بدنونو کې به يې ارواوې ووژني.

دې ساده خلکو د ځان لپاره د همداسې يوه سرنوښت په ټاکلو خپل نوي امير ته سندرې ويلې، نڅېدل او مستۍ يې کولې. بالکل په همدې وخت کې چې په شاهي ماڼۍ کې نوی شهزاده وزېږېد ، د ايالت په بله څنډه کې يو ماشوم هم دې نړۍ ته سترګې خلاصې کړې. په داسې حال کې چې خلکو د خپل راتلونکي مستبد په خوښۍ کې مستۍ او نڅاګانې کولې او پرښتو د دوی په کم عقلۍ او بېوزلۍ وير کاوه، هلته لرې په يوه کوچنۍ، تياره او ړنګه جونګړه کې يوه ناروغه او کمزورې ښځه په يوه کلك او پيوند توشك ناسته وه، سترګې يې له اوښکو ډکې وې او په ډېره مايوسۍ يې خپل نوي زېږېدلي ماشوم ته کتل او هغه يې په خپله سينه پورې يې ټينګ نيولی ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لـه څـو ورځـو راهیسـې دا ورې ښـځه ټـول انسـانیت لـه پامـه غورځولې وه. خاوند یې د پاچا لخوا په زور د جنګ ډګر ته لیږل شوی ؤ او هلته د مرګ خوني خپړو د تل لپاره له خپلې میرمن څخه بېل کړ. اوس خدای یو وړوکی ملګری ورته راولیږه چې ستر شي او د دې لپاره یوه ګوله ډوډۍ پیدا کړي.

کله چې ټول خلك د خپلو کورونو په خوا تیت او پرك شول او په ټولـه سیمه د یـوې ژورې خاموشـۍ څـادر وغوړېـده.. بـدمرغې ښځې خپـل ماشوم زوی پخپـل ورانـه څملاوه، هغـه تـه یـې سیخ سیخ کتل، بیا یې یـو دم لـه سترګو پنډ اوښکې پـه وچو آننګو راورغړېـدې، چـې د ماشـوم پـه تنکـي بـدن لګېـدې او داسـې ښـکارېده لکـه دا چـې پخپلـو د ې اوښـکو سـره خپـل ماشـوم لمبوي.

پـه ډېـر بـې سـېکه او کمـزورې غـږ یـې ماشـوم زوی تـه وویـل:
»ولـې دې خپلـه معنـوي نـړۍ پرېښـوده او زمـا پـه دې خـوار او بدبختــــه ژونـــد کـــې دې ځـــان راســـره ګـــډ کـــړ !..
ولې د پرښتو له نړۍ او د هسك له سپېڅلي کوره د انسـانانو دې بدبختـه کـور تـه راغلې چې پرتـه لـه کرکې،زحمتونو،ظلمونـو او ژړاګانو په کې هیڅ نشته !!..

داسې یو ځای چې هر څوك د خپل ځان غم اخیسـتي او هیڅوك د بل په کیسه کې نه دي.....

زه له دې اوښکو پرته هیڅ نه لرم چې تاتـه یـې درکـړم ، آیـا تـه دا خوښوې چې د شیدو پر ځای دې په دې اوښکو رالـوی کـړم !؟ زه د ورېښـمو تـاوده کـالي نـه لـرم چې تاتـه یـې درواغونـدم، زمـا دا نـري،وچ کلـك او لـوڅ مړوندونـه بـه تـا لـه یخنـۍ وژغـوري !!

(c) ketabton.com: The Digital Library

آه...څاروي هم ټوله ورځ په وښيانو کې وڅري، ماښام بېرته خپلو کورونو ته ډك نس راستانه شي، مارغان هم په دانو ځان موړ کړي او پخپلو ځالو کې ښه بې غمه ويده شي خو....... زما ګرانه !! زما د زړه ټوټې!!

ته له يوې مينه ناکې، کمزورې اوعاجزې مور پرته په دې نړۍ کې هيڅ نه لرې، زه يوازې تاته مينه درکولی شم، نور له ما سره هيڅ نشته.«

بيا يې په سلګو،سلګو وژړل.... ماشوم يې ورپورته کړ....خپل نري مړوندونه يې ترې تاؤ کړل او په سينه پورې يې کلك ونيو، داسې ښکارېده لکه خپل ماشوم چې بېرته له خپل وجود سره يو کول غواړي او د خپل وجود يوه حصه يې ګرځوي لکه لړه شېبه وړاندې چې ؤ.

خپلې سرې او اوښلنې سترګې يې د آسمان په لور پورته کړې، ويې ويل:

»خدايه پاکه !! زما د وطن په دې بدمرغه اولس ورحمېږې.«

په دې وخت کې توره وربځ د سپوږمۍ له مخې لرې شوه ، زرينې وړانګې يې د يوې ويجاړې کوټې له کړکۍ راننوتې او د دوو غاړه غړې جسدونو پر مخونو ولګېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی نظر

دا هغه شېبه ده چې د ژوند خمار له وېښتوبه جلا کوي .
دا لومړۍ شغله ده چې د زړه کور پرې رڼا کېږي.
دا لومړنۍ جادويي نغمه ده چې د زړه په زرينو تارونو کې پيدا کېږي .

دا هغه لنډه لمحه ده چې په کې د روح په مخ د زماني ټول رازونه سپړل کېږي، سترګې د شپې ټول رنګونه او رمزونه ويني او د وجدان بوختياوې له نژدې څاري.

دا هغه وخت دی چې د ابديت له رازونو ټولې پردې پورته کېږي.
دا هغه تخم دی چې د مينې ستر ديوتا يې پخپلو مبارکو لاشونو توږي، د محبوب لېمې يې د مينې په کرونده کې کري ، د مينې او ميلان په ارامه فضا کې وده کوي او په پای کې يې اروا پخپلو نازکو ګوتو رېبي.

د محبوب د سترګو لومړی نظر د هغې اروا په څېر دی، چې د بې پايانه سمندر د څپو په سر يې پروازونه کول، هغه وخت چې خدای پاك وويل

«کن» او دا مځکې او سمانونه منځ ته راغلل.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د واك تږي

يو ځل مې په يوه جزيره كې يو غټ دېو وليد چې سر يې د انسان ؤ او د اوسپنې پښې يې وې.

هغه درګرده لګيا ؤ، ژر ژر يې په يوه لاس د سمندر اوبه څښلې او په بل لاس يې د مځكې خاورې خوړلې.

زه تر ډېره په چرت كې ورته ولاړ وم، وروسته ورغلم، ترې ومې پوښتل:

ـ آيا ته لا نه يې موړ شوى!

له دومره خوراك او څښاك وروسته هم ستا تنده او لوږه نه ده ختمه شوې او ته نه يې مطمين !؟.

زما خواته يې راوكتل، ويې ويل:

ـ ولې نه ! له ډېره څښاكه او خوراكه زياتې ستړى يم، زړه مې هم راډكيږي خو له ما سره دا وېره ده چې سبا به بيا د څښلو لپاره اوبه او د خوراك لپاره مځكه نه وي.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د قبرونو کړيکې

اوس هم د ليکوال يوه په زړه شهکاري لنډه کيسه:

امير د انصاف په کرسۍ ناست و، ښي او کيڼي خواته يې د سلطنت يوه کسانو ډډې وهلې وې، د پخو عمرونو څېرو څخه يې د علم او پوهې نور وربېده، شا او خوا يې پوځيانو توري پرقولې او نيزې او چتې نيولې وې، مخامخ د ليدونکو ګڼه ګوڼه وه، ځنې داسې وه چې د ليدو هيلې راکش کړي وو او ځينې بيا د پرېکړو په انتظار و، سرونه زوړند، سترګې ټيټې او ساده نيولې وه، داسې تابه وې د امير په سترګو کې کوم قوت دی چې هغوی باندې يې وېره او ډار حاکم کړی او زړونو کې د هغه خواته د مېلان تخم او د پرېکړو ساعت رانږدې شو، امير لاس پورته کړ او په لوړ غږ يې وويل( مجرمان يو، يو زما مخې ته ودروئ او ووايئ! د هغوی جرم او ګناه څه ده؟)

د جېل دروازه پرانيستل شوه، تور د يوالونه داسې ښکارېدل لکه د يوه خونړي ځناور ستونی! څلورو خواوته زنځيرونو او زولنو د شرنګار سره د بنديانو د وير او ماتم غږونه پورته شول خلکو سترګې پورته کړې، ورمېږونه يې يوې بلې خوا واړول تا به وی چې د قبرونو څخه مرګ د ښکار د ليدو په خاطر راوتلی او د قانون څخه مخکې کېدل غواړي، لږ ځنډ وروسته دوه پوځيان د يوه ځوان سره د عدالت کوټې ته دا دننه شول، د مجرم څېره د متانت او صبر هنداره وه، د مجرمينو ځای يې ورته‌ښېل واهه او پوځيان دوه ګامه شاته شول، امير څو دقيقې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګې پکې ښخې کړې او ویې پوښتل( ...ددې ځوان ګناه څه ده؟)

زما مخې ته داسې په لوړ سر ولاړ دی ته به وایې د عدالت کوټه کې نه، د ویاړ کوم ځای کې ولاړ دی!).

د سلطنت د ارکانو ځینې یوه ځواب ورکړ( دا قاتل دی، پرون ده د حکومت یو مشوول پوځي هغه وخت وواژه چې د کلو په دوره وتلی، هغه یې ځمکې باندې غورځولی و، سینې لاندې کړی واو بیا یې وژلی و او په کوم وخت کې چې ونیول شو په وینو ککړه توره یې لاس کې وه).

امیر له زیاتې غوسې ولړزېده د غضب او قهر غشي یې له سترګو په وربدو شول او په عوصه یې وویل( دی ببرته هماغه تورتم ته بوځئ، په زنځیرونو یې وتړئ او سبا یې پخپله توره سر غوڅ کړئ، جسد یې ځنګل کې وغورځوئ!

تر ځو غوښه یې د مارغانو خواړه شي او باد یې د خوسا جسد بوی خپلوانو او دوستانو ته ورشوي!

ځوان یې د جېل خواته بوته د خلکو سترګو تعقیب کړ او فضا د سړو اشوېلو څخه ډکه شوه، راشه! ای د مضبوط جسم او ښایسته ځېرې پېغلې!

پوځیانو یوه نازك اندامه او ښایسته ښځه راونیوله او رامخکې شول، د هغې په ځېرې کې د خپګان او نا امیدینښې وې، سترګې یې له اوښکو ډکې وې او ولو باندې د پښېمانتیا بار پروت و، امیر چې ولیده ویې پوښتل( او ددې بدې ښځې جرم

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه دی؟ زما مخې ته داسې درېدلې لکه د حقیقت تر څنګ سیوری!...)

یوه پوځي خواب ورکړ (( دا یوه بدکاره ښځه ده، پرون شپه یې د ملګري غېږ تودوله، مېړه ولیده پولیس ته یې وسپارله او ملګری یې تښتېدلی...)).

امیر په غور د هغې خواته ولیدل، د قهر او غصې څخه یې غاښونه وچیچل او امر یې وکړ(( داد جېل تورو کوټو ته دننه کړئ! از غو باندې یې وغورځوئ تر څو خپل پالنګ ورپه یاد شي کوم چې دې ناپاك کړ، په شاتو کې ورته د مرغوني اوبه ګډوئ او پرې څکئ یې! تر څو د هغو ښکلولو خوږوالی ور په یاد شي چې د خاوند پرته بل سره مذهب او قانون دواړو کې حرام دی او سبا سهار یې لوڅه کړئ، ښارته یې وباسئ ا وبیا یې سنګسار کړئ، جسد یې همالته پرېږدیتر څو غوښې یې لېوان وخوري او هډوکي یې چینجي شوري شوري کړي)).

ښځه د جېل په تیارو کې ورکه شوه پدې وخت کې لیدونکو د امیر پر عدالت او انصاف حیرانوونکې خوښي هم څرګندوله او د ښځې پر غم ځیلې خبرې او له درده ډکو لیدو افشوس هم...!

پوځي یو کمزوری بوډا رامخې ته کړ، هغه لړزېدونکو پښو باندې راروان په عاجزي یې ځلور خواته وکتل، له درده ډکو سترګو څخه یې خپګان ، محتاجي او بدبختي وربېده، امیر چې د هغه خواته وکتل په حقارته ډکې لهجې یې پوښتنه وکړه(( ... او ددې ناپاك کس ګناه څه ده؟ داسې درېدلی لکه په ژوندیو کې مړی!)).

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه پوځي ځواب ورکړ(( دا غل دی، پرون شپه یې لکه کلیسا غلا کړې خو معصومو راهبانو نیولی، د پلټنلو په دوران کې د کلیسا لوښی هم ورڅخه پیدا شوي...))

امیر دهغه خواته داسې وکتل لکه وږی تپوس چې د وزرماتې مرغۍ خواته ګوري، په لوړ غږ یې وویل( ... دی د جېل تنګو او تیارو ځمکتلیو ته ورواچوئ، په فولادي زنځیرونو یې وتړئ او سبا سهار یې یوې لوړې ونې ځوړند کړئ، غاړه کې وریښمین پړی واچوئ او چې ساه یې وختله بیا یې هم مړی ځوړند پریږدې تر څو چینجي یې بند ، بند او تس نس کړي او بیا یې په هوا کړي)).

غل یې زندان ته بوته او خلکو پخپلو مینځو کې ګنګوسې پیل کړل، دې بې ایمانه بوډا د مقدسې کلیسا د لوښو د غلا کولو جرئت څنګه کړی؟)).

امیر د انصاف له کرسۍ راښکته او د پوځیانو مینځ ، مینځ کې روان شو، د سلطنت غړی هم شاته وریسې په حرکت شول، لیدونکی ورو ورو خواره شول او د بندیانو بې هیلې اشوېلې او کړیکې فضا کې داسې تاوېدې لکه د د پوالونو سیوری!

څه چې باید شوی وي وشول خو زه همالته درېدلی پاتې شوم، د هغې هنداري په بڼه چې د متحرك شي مخې ته اېښودل شوي وي، ما هغو قوانینو باندې فکر کاوه کوم چې انسان د انسان لپاره جوړ کړی او هغه حماقت ته مې زړه پرسېدلی وه چې نړۍ ورته عدل او انصاف وایي، د ژوند د اسرارو پته مې لګوله، تر دې چې ماغزه مې خراب شول د فکر نیلی مې داسې وشلېده

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه چې شفق وربځو کې پټ شي، له هغه ځایه لاړم زړه کې مې ویل:(( واخښه د ځمکې عنصرونه زېږېږي، پشونه او وزې واښه پښو لاندې کوي او خوري، لېوان بیا پشونه او وزي ښکار کوي او ګرګدن بیا لېوه وژني، زمری بیا ګرګدن څېرې کوي او مرګ زمری له مینځه وړي...

ایا کوم ځوک شته چې د ژوند دا ټول اجزا ځان سره ونغاړي؟ په خدا او خوښۍ یې ولوبوي او ځان ته یې جذبوي! ایا داسې کوم قوت شته؟ چې قاتل او مقتول ، زنا کار او ملګرې غل او د کلیسا هغه پادریان چې مال یې غلا شوی داسې عدالت کې ودروي چې د امیر لدې عدالت څخه ډېر لوړ او غوره وي...)).

په دوېمه ورځ زه ایله ښار څخه وتلی، شنو سیمو ته لاړم، چې سیمې ته نژدې شوم ومې لیدل، چې د یوه نارینه جسد ونه کړې ځوړند دی، د یوې ښځې لوڅ جسد هغو تیږو مینځ کې پروت دی کومو باندې چې دا سنګساره شوې او د یوه ځوان تنه خاورو او وینو کې لیت پیت پرته ده او سر یې تر څنګ ګوښې غورځېدلی، ودرېدم ددې صحنې وېرې زما پر سترګو پرده وغورځوله، سترګې مې پورته کړې وینو کې ککړو جسدونو مینځ کې مې د مرګ د سیورې پرته، څه ونه لیدل...

غوږ شوم د انساني قانون ښکار باندې مې د کارغانو د کاغ ... کاغ او د نېستۍ د کړیکې پرته څه وانه ورېدل، د زړه ټوټې! چې تر پرونه د ژوند غېږې کې وې، نن د مرګ منګلولو ته لوېدلې!

... درې کسان! چې په عامه اصطلاح یې د قانون څخه سرغړولې و او ړانده قانون په ډېرې بې دردۍ سزا ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دريې هستې! چې جهالت مجرم وبلل... ځکه چې هغوی کمزوري و او قانون د مرګ غېږې ته وسپارل، ځکه هغه قوي و.
يوه کس بل وواژه، نړۍ وويل(( ... دا ظالم قاتل دی)) خو چې امير بيا هغه وواژه بيا يې وويل : ((داغل دی)) خو چې امير ژوند ترې واخيست همدې خلکو ويل: ((امير د احترام وړ دی)).
يوې ښځې د مېړه امانت کې خيانت وکړ هر واړه زاړه وويل: (( دا رنډۍ ده)) خو امير چې بربنډه کړه، لوڅه يې بازارونو او کوڅو کې وګرځوله او د ټولو وړاندې سنګساره کړه خلکو وويل: (( امير د شرافت ټوټه ده)).
خو د ژوند څخه د انسان محروموول چا د عظمت سبب او ښه ګرځولې، ښځه چې د مېړه امانت کې خيانت وکړي بدکاره ده، خو د هغې لوڅول چا ښه کار بللی؟ موږ د بدۍ مقابله د هغې څخه لوی بدۍ سره کوو او وايو دا قانون دی، موږ فساد په فساد ګډوو او چغې وهو!! دا ناموس دی، موږ پر جرم د غالب کېدو په خاطر نوی جرم کوو او ونعرې وهو! دا انصاف دی.
ايا امير کله د خپل دښمن سر په توره نه ده غوڅ کړی؟ ايا هغه کله د لاس لاندې کس ځمکې په زور ندي قبضه کړې؟ ايا کله کومې ښايسته ښځې دهغه شهواني جذبو کې پوتان نه دی راپورته کړی؟ ايا ټول ژوند کې يې ځان لدې ګناهونو ساتلی چې د هغه لپاره د قاتل وژل، د غله دار ته خېجول او زناکار سنګسارول جايز ګرځېدلي؟ دا ځوك و چې د اعدام په خاطر يې غل ونې پورې ځوړند کړ؟ ايا پرېښتې راټيټې شوې وې، يا هم خلك و چې څه په لاس ورځي د مور د شېدو په شان يې خوري،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا څوك وه چې د قاتل سر يې غوڅ كړ؟ يا هم هماغه پوځي و چې خلك وژني او وينې يې د اوبو په څېر څكې، دا څوك و چې زنا كاره يې سنګسار ه كړه؟ ايا ټوله شپه په عبادت بوخت كسان راوتلي و؟ ياهم هماغه كسان و چې تل ګناهونو كې ډوب وي او دشپې په تيارو كې لوبېږي.
قانون... قانون څه دی؟

كوم وخت كې پرښتو انسانانو ته ويلې چې (( كمزوري له ژوند څخه محروم كړي! ګنهګار ووژني او خطا كاران له پښو وغورځوي!)) ماغزه مې همدې شوچونو سره لاس كرېوان و او جذبې مې دې افكار و په مخه كړې وې، په همدې وخت كې مې د چا د پښو غږ واورېد ، ورو ورو رانږدې كېده ومې ليدل يوه ځوانه ښځه دوېرې څلورو خواووته ګوري، د ونو له ځنګل څخه راووځي او جسدونو ته ځان ورشوي.
چې د ځوان غوڅ شوی سر يې وليد د زياتې غصې څخه په لړزې شوه، مخكې ورغله او هغه يې په لړزېدلو لاشونو را اوچت كړ، له سترګو يې اوښكې روانې شوې، د هغه ګډوډ وېښته يې لاس كې ونيول او داسې له درده ډكه ژړا يې پيل كړه چې د زړه له تل څخه يې راوتله، چې د ژړا او كړيكو او نا امېدۍ د يرغل مقابل كې مغلوبه شوه سمدستي يې په لاشونو د قبر كندل پيل كړل.
ديوه اوږده قبر تر جوړولو وروسته يې د ځوان جسد كش كړ او وويې غورځاوه په ډېره سختې يې سر راواخيست او دهغه د دواړو ولو مينځ كې يې كېښود. قبر باندې خاورې وغورځولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

او توره يې قبر باندې ودروله، کله يې چې غوښتل روانه شي ور مخې ته شوم، زما په ليدويې ټکان وخوړ، د زياتې وېرې داسې ولړزېده چې پر ځمکې ولوېده، ګرمې ګرمې اوښکې له سترګو د باران په شان ورېدې شوړ اشوېلې وايست او ويې ويل: (( که ته غواړې امير ته زما شکايت کولای شې! زما لپاره دا ښه ده چې مړ شم او هغه چاسره يو ځای شم چې زه يې د بدنامۍ له منګولو خلاصه کړم، ولې د هغه جسد سپيو او وحشي ځناورو ته پرېږدم ...))

ما وويل : (( معصيب ځپلې خورې! ما ستا راتګ وړاندې پردې ځوان وير کاوه، له مامه وېرېږه! ماته ووايه! ده څنګه د بدنامۍ له منګولو ژغورلې يې؟

له زيات درد څخه په سلګو شوه او ويې ويل: (( ... امير زمونږ کلي ته يو مامور د مالي راټولولو په خاطر رالېږلی و، کله چې هغه وليدم يوه وېروونکې خوشي او ځلا يې سترګو کې پيدا شوه، زما پر پلار يې ډېره درنه ماليه کېښوده، دومره درنه چې خان هم نه شو ورکولای ، د ماليې د نه پوره کېدو په بدل کې هغه زه راونيولم تر څو د امير محل ته مې ورشوي، ما په ژړا تر ې د ترحم غوښتنه وکړه خو ويې نه منله، د پلار سپين ږيري توب مې ورته واسطه کړ خو زړه يې نرم نه شو، مجبوره شوم چيغې مې کړې.

او د کلي له خلکو مې مرسته وغوښتنه، د اځوان چې زما نامزاد هم و راغی ا و زه يې د هغه ظالم له منګولو خلاصه کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امیر د مامور غصه له حده زیاته شوه او غوښتل یې هغه ووژني خو ځوان یې ور دمخه شو مخامخ دېوال کې ځوړنده توره یې راواخیسته، مامور یې پرځمکه وغورځاوه او په یوه لاس یې هغه له مینځه یوړو، مېړانې هغه تېښتې ته اړ نه ایست، د عامو مجرمانو او قاتلانو دا کار وي چې تېښته کوي خو دا د مېړانې او زړورتیا پیکر همالته درېدلی و تردې چې پوځي راغلی او ویې نیوه...)).

زما خواته یې داسې راولیدل چې زما د زړه تونې یې وا لوزولې او سینې کې د غم د اور لمبو ته لمن ووهله، ګړندي ګامونه یې واخیستل او له هغه ځایه لاړه، په فضا کې د هغې له دردہ ډک غږ او کړیکې چورلېدې.

د لږ ځنډ وروسته ما ولیدل یو ځوان چې په لستوڼي یې څېره پټه کړې، دې خواته را روان دی د ښځې جسد ته چې راورسېد خپل کوټ یې وایست او د هغې پر بربنډ وجود یې وروا چاوه بیا یې په توره قبر وکنه، ورو یې جسد پورته کړ او هلته یې خښ کړ پداسې حال کې چې له سترګو یې اوښکې لکه باران ورېدې او ځان یې نشو کنټرولولی، پر قبر یې خاورې را انبار کړی او شا او خوا بوټو څخه یې ګلان را وښکول یوه ګېډۍ یې ترې جوړه کړه او قبر باندې کېښوده، چې د تګ اراده یې وکړه ما ودراوه او ورته ومې ویل: (( د امیر د حکم څخه دې سرغړونه وکړه او تر کاڼو لاندې شوی جسد دی د ښکاري مرغیو له خوراك نه وژغوره...))

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما خواته یې ولیدل، سترګې داسې درد او غم څخه درنې اوسرې وې چې پخپله یې د غم کینه بیانوله. ژوره ساه یې واخیسته او په درده ډك غږ یې وویل: «... زه هماغه بد نصیب انسان یم، د چا له وجې چې دا سنګساره شوه، مونږ د هغې ورځې راهیسې یو بل غوښتل، چې ور کوټې و او کورونو کې مو لوبې کولې، د عمر سره یو ځای زمونږ مینه هم پخېده تردې چې دا زما ملکه و ګرځېده.

او خدمت یې ما خپل ایمان باله، مینې د هغې خواته کش کولم او چې ومې لیدل دارواهر مې ته وقت شوی سینې کې مې ځان ورکړ، یوه ورځ د ښار څخه بهر وتلی وم په همدې ورځ یې پلار هغه په زور داسې یو چاته نامزد کړی و.

چې دې کرکه ترې درلوده کله چې بېرته راغلم نو له دې پېښې خبر شوم ورځې مې تورو شپو باندې بدلې شوې او ژوند مې یوه بدبختي او عذاب وګرځېد کوښښ مې وکړ خپل جذبات ساړه او د زړه غوښتنې ووژنم خو مینه راباندې غالبه شوه او زه یې غلی او په پټه توګه داسې هغې ته وروستم کله یو بینا چې ړوند چېرته بیا یې، د نیکه بخته ماته د هغې د نوره ډکه سترګو او له نغمو ډك غږ و اورېدو موقع په لاس راغله، ما ولیدل چې هغه یوازې ناسته ده او خپل قسمت باندې ژاړي، خپلې هغې مینې باندې ژاړي چې د شوکاله کېدو وړاندې ټولنیزو جهالتونو له مینځه یوړه لږ لرې ترې کېناستم، چوپتیا زمونږ خبرې وې او سپېڅلتیا زمونږ ساتونکی، خو افشوس! یو ساعت نه و تېر شوی چې یې راغی، زما په لیدو د هغه د دښمنۍ جذبه راویښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوه، په وحشي لاشونو یې د نازك ورمېږ څخه ونیوله او مخکې یې روانه کړه، چیغې کړې:

((... ای خلکو! راشئ!! رنډۍ او ملګری یې وګورئ!...))

ګاونډیان یې راورسېدل او ددوی تر خبرېدو وروسته پولیشو هم ځان راورساوه، ظالم مېړه د بې رحمه پولیشو منګولو ته ور وسپارله او هغوی په زور داسې بد حالت کې کش کړه چې دې ویښته شکول او کالي یې څېرې کول پاتې شوم زه، زما نیول خو پرځای پرېږده، چا د اونه پوښتل چې ((ته څوك یې؟))

ځوان پر خپلو کالیو څېره پټه کړه او د ښار خواته ببرته روان شو او زه پخپل ځای کې درېدلی وم په غورمې د ا حالت لیده او ساړه اشوېلي مې ایستل، کله به د هوا په څپو کې حرکت پیدا شو، ونې کې ځوړند ځوان به یې وخوراوه داسې تا به وی فضا کې موجود و، ارواو څخه غواړي چې له دار څخه مې را کوز کړي او د غیرت او مینې د شهیدانو تر څنګ مې ویده کړي یو ساعت وروسته شلېدلو کالیو کې یوه زړه ښځه راښکاره شوه ځوړند مړي ته چې راورسېده، ودرېده چیغې یې کړې او ټټر یې واهه، ونې ته وختله او پړی په خپلو غاښونو وشکاوه، جسد ځمکې ته راوغورځېد ، داسې لکه چې اوبو ته یوه ناولې ټوټه راوغوځي، ښځه له ونې راکوزه شوه او د هغو دوه قبرونو تر څنګ یې نوی قبر وکېنده جسد یې خښ کړ.

او تر خاورو ور اچولو وروسته یې دوه لرګي راوړل، صلیب یې ترې جوړ کړ او د قبر سرکې وټومبه، کله یې چې د تګ په نیت مخ واړاوه ما ورولـه او تـرې ومې پوښتل: ((څه مصیبت دربانـدې نازل شوی چې د یوه غله د خښولو په خاطر دلته راغلې))

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اوښکو ډکو سترګو چې د زيات درد او ژړا څخه پړسېدلې وې زما خواته ولیدل او ويې ويل: (( دا زما سپېڅلې او ګران مېړه دی، تر پرونه زما د غمونو ملګری او اولادونو غمخور و... د هغو اولادونو پلار چې مشر يې داوو کالو، کشر يې ترې پورې دی او همدا اوس د لوږې چيغې وهي...

د اغل ندی بزګر دی او د کليسا ځمکې يې قولبه کولې، ددې کار په بدل کې به پادري دومره ورکول چې د ماښام به وشول او سهار ته به يوه ګولۍ مړی هم نه پاتې کېده هغه ټوله ځواني د کليسا ځمکو کې تېره کړه، د خپلو وينو او متو په زور يې د کليساښو شنه وساتل او حاصل ته يې برابر کړل خو ددې ردانه کار بدل او ګټه ده ته داوه چې کله سپين ږيرى شو ډېر لږ کار به يې کاوه، نو ر و ناروغيو حملې پرې وکړې او چې هغوى وليدل کمزورى شوى له کليسا يې وايسته((... ځه ! کليسا اوس تاته ضرورت نلري، که زوى دې ځوان شو موږ ته يې راولېږه ستا دنده به وروسپارو...))

پادريانو ته يې زياتې زارۍ وکړې خو چې ويې ليدل هغوى باندې اغېزه نه کوي زه يې ورولېږم، ورغلم دعيسى (ع) په نوم مې قسم ورکړ او د ترحم غوښتنه مې ترې وکړه، په پرښتو او د الله (ج) نېکو بنده ګانو باندې مې ورته قسم ورکړ خو هغوى نه پر موږ رحم وکړ، نه هم زموږ پر ماشومانو، مېړه مې مجبور شو د مزدورۍ په نيت د ښار خواته لاړشي، له هغه ځايه هم مايوسه راستون شو ځکه چې په ښکلو ماڼيو کې اوسېدونکې هم د خدمت لپاره ځوانان په کارو کله چې د څلورو خواوو څخه مايوسه او نا امېده شو د خيرات ټولول يې پيل کړل خلکو هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخیرات قابل هم ونه باله هر یوه به همدا ویل (( د تا په شان تنبل او حرام خورته خیرات ورکول جایز ندی)).
یوه شپه بیا داسې راغله چې لوږې او غریبۍ بېخي بې وسې کړو، ماشومانو د لوږې له لاسه ځانونه په ځمکه وهل، تی خوری ماشوم به مې تیونه رول خو چې شیدې به یې پکې پیدا نکړې بیا به یې وغ... وغ ژړل ددې صحنې په لیدو ددې صحنې په لیدو زما د خاوند رنګ بدل شو او دشپې په چوپتیا کې یې د کلیسا هغې ته ځان وغورځاوه کومې کې چې پادري د شرابو او غلی ذخیرې جوړې کړې وې، یوه بورۍ وړه یې په شا کړه او غوښتل یې راووځي چې پادري پاځېد او هغه یې ونیوه ښه یې وواهه او کنځلې یې ورته وکړې چې سهار شو پولیشو ته یې وسپاره او ورته ویې ویل: (( د اغل دی، د کلیسا د سروزرو لوښی یې غلا کړ ی و)) پولیشو ونیوه او امیر د خپل حکم له مخې په دار وځړاوه تر څو تېوسان یې په غوښه خېټې مړی کړی یوازې په دې ګناه چې ده غوښتل هغې غلې باندې د ماشومانو خېټه مړه کړي کومه یې چې کلیسا کې د نوکرۍ په وخت را غونډه کړې وه.
غریبه ښځه لاړه، د هغې ګوډې خبرې یو تصویر وګرځېد او داسې هرې خواته خو شو تا به وي چې د وریځو له چت سره هوا لوبې کوي.
د قبرونو مینځ ته لاړم، د هغه لړزېدنکې مجرم پشان چې د زړه درد یې خوله بنده کړې وي، له سترګو یې یو څاڅکی پر غمبورې راوڅاڅي او د هغه د ټولو جذبو ترجمان شي، ما څه باندې فکر کول غوښتل خو ما غزه مې ورته چمتو نشول، زه ولاړوم او د قبرونو له خاورو د مظلومیت کړیکه پورته کېده او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل غږ راورشولو په خاطر مې تر غوږ ګرځي راګرځي... غلی ودرېدلی وم...
او ساړه اشوېلي مې ایستل ... که زما د ساړو اشوېلو شغلې پر شا او خوا ونو لګېدې نو لړزېدلی به وي، ریښې به یې غوځې شوي وي، په حرکت به راغلی وي، پخپلو څانګو به یې امیر او د هغه د پوځ مقابله کړې او پخپلو تنو سره به یې د کلیسا دېوالونه پر پادریانه راغورځولي وي.
ودرېدم او ومې لیدل زما لیدو سره د هغه باندې د شفقت او مهربانۍ خوره او د غم خپګان تریخوالی ودرېد... د یوه ځوان پر قبر چې دیوه کمزوري او بې مرستې کوونکې پېغلې عزت یې وساته او هغه یې د لېوانو له منګولو خلاصه کړه، خو ددې شرافت او مېړانې په بدل کې یې سر غوڅ شو، پېغلې پدې خاطر توره پر قبر کې ښکته کړه چې د ظالم او جاهل حکومت په دوران کې د مېړانې د پایلې انجام د یوه داستان په بڼه خلکو ته یادګار پاتې شو...
د یوې ځوانې ښځې پر قبر، چې د جسماني غوښتنو تر راوېښېدو وړاندې روحاني محبت او مینه یې خپله کړه او سنګسار شوه یوازې پدې خاطر چې زړه کې یې د مرګ تر وخته مینې امانت ساتلو پرته هر څه مسترد کړي.
مین یې پدې خاطر پر قبر د ګلانو ګېډۍ کېښوده، چې تر مړینې وړاندې د هغه هستوي باندې رڼا واچوي د کومو مینې چې دې قوم ته سپېڅلتیا او امتیاز ورکړي او د مادیت ړانده او جهالت باندې اخته کړل.
د هغه غم ځپلي غریب پر قبر چې په خپلو متو یې د کلیسا د ځمکو او بڼونو خدمت کړی وه، دده په ځای له نورو قوي متو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کار اخیست، مجبور شو او غوښتل يې مزدوري وکړي او خپلو ماشومانو ته روزي وګټي خو چا له هغه کار اخيستل هم غوره ونه بلل، بيا يې ځان خيرات اخيستلو ته مجبور کړ خو دالله ج يو بنده هم خيرات ورنکړ، چې له هرې خوا مايوسه شو، کوښښ يې وکړ د هغې غلې څخه چې د زړه په وينو يې راټوله کړې وه يو څه ځانته راوباسي، د کليسا د پادريانو ونيو او امير د دار تختې ته وخېژاوه، مېرمن يې ځمکه پر قبر صليب جوړ کړ چې د شپې په چوپتيا کې ستوري دی پادريانو پر ضد شاهدان ونيسي.

لمر د شفقت په پردو کې پټ شوی وه، داسې تا به وې چې انسان د مصيبتونو په ليدو ستړی شو او زياتو ظلمونو او تېريو له هرڅه غورځولی، ماښام د تيارې او چوپتيا د يوه درونډ ځادر پشان را روان و، ما د اسمان خواته وليدل د قبرونو او د هغوی د اسرارو او رمزونو خواته مې لاس پورته کړ او په لوړ غږ مې وويل:

(( ای زړورتيا او مېړانې ! د استا توره ده چې خاوره کې ښکته شو!))

((ای مينې! دا ستا ګل دی چې د اور شغلې سره رانغاړي!!))

(( اوی ای مسيح ناصري! دا ستا صليب دی چې د شپې تياور پټ کړی!!))

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زهر او اوبه

## (لنډه کیسه)

د منی په یوه زرین دور چې نظرونه یې تېر ایستل د شمالي لبنان د (تولا) اوسېدونکي چې یو سهار د کلیسا په خواکې راټول شوي وو، د (فارس) په نابېره تري تم کېدو اند ېښنمن وو.

دې خبرې ته ټول حیران وو چې هغه ښکلې او ځوانه مېرمن چې ایله شپږ میاشتې یې کېدې چې په ښه زور او شور کې یې واده کړی وه، پرېښوده!

،،فارس،، په نابېره د خپلې قبیلې سردار او سرداري ورته په میراث پاتې وه. اوس خو ایله د ۲۹ کلونو و، خو د هغه شخصیت په ټول پوره و، ځکه خو یې درناوي او احترام ته قبیلې خلك اړ وو.

د پسرلي په موسم کې یې چې ،،شوسان،، سره واده وکړ، نو د هرچا په خوله به دا خبره وه:،، ځومره بختور دی، د دېرش کلنۍ له عمر نه دمخه ورته هغه نیکمرغي په برخه شوه چې د مادي ژوند پورې اړه لري.،،

خو ددې ورځې په سهار چې د ،، تولا،، اوسېدونکي له خوارږه خوبه راویښ شول نو په دې حیران وو چې ،،فارس،، له خپلوانو او دوستانو پرته ځنګه او چېرته لاړ؟ د دوی په زړونو کې شکونه پیدا شول او په دې لټه کې شول چې دا راز مالوم کړي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه په بنا ,,فارس،، خپله ځوانه اوښکې مېرمن ، کور، کلي، شتمني او دقبيلې خلك پرېښي وو.
د شمالي لبنان د ټولني طرز د نورو نظامونو په پرتله اشتراکي نظام ته نږدې دی، ټول د ژوند په استراحت او ستونزو کې يو له بل سره په خلاص مټ لاس کوي او دا ددې خلکو په فطرت کې اخښل شوي دي.
د همدغه ټولنيز مزاج پر بنسټ د ,, تولا،، اوسېدونکې د خپل کار څخه بې پروا د ,,تولا،، د کليسا په خواکې راغونډ شوي او په نابېره تلو يې خبرې او اټکلونه کول. د خلکو تر منځ ګونګوسی وه چې پادري راورسېد . په څېره کې يې اند ېښنې ښکارېدې.
خلك په پادري راټول شول او د ,,فارس،، په باره کې يې راز راز پوښتنې پيل کړې، خو پادري هېڅ ځواب نه ورکاوه، غلی ولاړ و، لږه شېبه وروسته يې وويل:,, هېڅ پوښتنه مه کوئ زما بچو! له ما نه هېڅ پوښتنه مه کوئ!.
يوازې دومره راته مالومه ده چې له سحر نه لږ د مخه ,,فارس،، زما دروازه وټکوله، ورمې ببرته کړ، ومې ليدل چې هغه د خپل آس سره زما دروازې ته ولاړ و او په څېره کې يې غم او اند ېښنې برېښېدې، ما په حيرانتيا پوښتنه ځنې وکړه ويې ويل:,, ستا نه د رخصت اخيستو لپاره راغلی يم، زه بل ملك ته ځم، اراده مې ده چې ژوند به ببرته نه راګرځم.
دايې وويل او ماته يې د يو دوست (نجيب) په نوم يو ليك راکړ او تاکيد يې وکړ چې لاس په لاس به يې ور رشوم، په اس سپور

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو او د سترګو په رپ کې مې له نظره تری تم شو. ماته یې دومره وخت هم رانه کړ چې ددې د تلو وجه مالومه کړم، په څه چې زه خبر وم تاسې مې پرې خبر کړئ! نور له دې نه زيات له ما څخه په دې هلکه هېڅ پوښتنه مه کوئ.

د غوندې څخه يو تن وویل :،، نجیب په قبیله کې له هر چا ده ته نیږدې دوست و، ښایي هغه ته یې د ملك د پرېښودو ټول حال په لیك کې لیکلی وي. بل پوښتنه وکړه: ،، تاسې د هغه مېرمن لیدلې ده؟،،

پادري ځواب ورکړ: هو، په همدغه سهار له عبادت نه وروسته د کړکۍ په خوا کې ناسته وه او په ځیر ځیر یې چېرته لرې کتل او داسې ښکارېده چې په خود نه وه. د ،،فارس،، په باره کې مې ترې پوښتنه وکړه ، مخ یې راواړاوه او ځواب یې راکړ: ماته هېڅ نه دي مالوم او په هېڅ هم نه پوهېږم . د ايې وويل او د ماشومانو غوندې په سلګو سلګو په ژړا شوه. د پادري خبرې لا خلاصې نه وې چې د قبیلې له ختیځ اړخه د ټوپك له ډز سره د یوې ښځې ژړا او چیغې واورېدل شوې.

دې حیرانونکې ډز او ژړا او ژړا ټوله فضا هیجاني کړه، خلك د لرې شیبې لپاره حیران او غلي ولاړ وو. خو یو دم ټول د غره په لور په منډه شول، کله چې د فارس د بنګلې د باغ مخې ته ورسېدل، د هرچا په زړه کې وېره خوره شوه، زړونه یې ودرېدل او په رنګونو کې یې وینو ځغل سست شو.

هغوی ولیدل چې نجیب په وینو کې ککړ پروت دی او تر خوا یې د فارس ښځه شوسان په چیغو چیغو له خپل سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

وېښتان شکول جامې یې ټوټې ټوټې کړې وې او په دردناك اواز یې ویل:،، دې ځان وواژه، خپله سینه یې په ګولۍ شوري کړه، خلك په داسې حیرت کې ولاړ وو، لکه هر یو یې چې د مرګ د پرښتې ګوتې په خپل روح محشوشولي، پادري مړي ته نیږدې شو، ویې لیدل چې د مړي په کیڼ لاس کې هغه لیك و چې سهار وختي ورته ده دفارس له غوښتنې سره سم په خپل لاس ورکړی و، مړي لیك دومره کلك نیولی و، لکه د هغه د ګوتو یوه برخه.

پادري د مړي له ګوتو په داسې ډول لیك راواخیست او جېب کې یې کېښود چې هېڅوك یې ونه ویني دوه درې ګامه وړاندې لاړ، خلکو د نجیب مړی د هغه کور ته ورساوه، د نجیب مور چې خپل یوازینی زوی په وینو کې ډوب ولید، بې خوده شوه او پرځمکه راپرېوته.

ځینې ښځو وار له مخه د نجیب د مرګ تور د فارس په مېرمن شوسان ولګاوه، پادري خپل کور ته راغی، د کور دروازه یې وتړه، له جېب نه یې هغه لیك را و ایسته چې د نجیب له لاسه یې اخیستی و، په لړزېدلي غږ یې د لیك په لوستو پیل وکړ:،، نجیبه وروره! زه خپل وطن پرېږدم ، ځکه چې زما وجود نه یوازې دا چې ستا او د شوسان له پاره، بلکې زما له پاره هم یوه لویه بدمرغي ده.

ته ډېر شریف سړی یې، تا د خپل دوست چې ستا ګاونډی هم دی، په امانت کې هېڅکله هم خیانت نه دی کړی. دا هم ماته مالومه ده چې زما د مېرمنې شوسان په سپینه لمن تور داغ نه شته. خو له دې سره سره په دې هم پوهېږم چې کومه مینه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا او د شوسان زړه یې یو کړی دی ستا او د شوسان له وسې وتلې خبره ده.
تابه ډېر کوښښ کړی وي چې د شوسان مینه له زړه نه وباسې، نو بریالی شوی به نه یې، زه پوهېږم چې د سیندونو اوبو ته د شګو بند نه تړل کېږي. نجیبه، ته زما د کوچنیوالي راهیسې دوست یې، اوس هم ماته هغه وختونه په زړه کېږي، چې ما او تا به په باغونو، پټیو او د کلیسا په انګړ کې ګرځېدو.
زه په پاك خدای شوګند خورم چې اوس هم ته زما هم هغه شان دوست یې لکه څرنګه چې وې. زما هیله ده چې ته به هم ماته په هماغې نظر ګورې لکه څنګه چې مو تل یو بل ته لیدلي دي.
که نن یا سبا دې شوسان ولیده، نو ورته ووایه چې زه په هغې هېڅ بد ګمانه نه یم، زه اوس هم د هغې پاکیزه ګۍ سره مینه کوم او د مهربانۍ وړه یې ګڼم او چې ژوندی یم نو په زړه کې ورته درنښت لرم.
دا هم ورته ووایه کله چې زه په نیمه شپه کې بیدار شوم، ومې لیده چې د حضرت عیسی د تمثال مخته ناسته ده او په ژړا او فریاد یې د زړه د سکون د عا کوله او زما زړه د همدردۍ له جذبې څخه ویلي ویلي شو. په دنیا کې داسې مثال نه شته چې د یوې ښځې د داسې یوې ربړې سره یې پرتله کړو چې یو خواته مین وي او بلې خواته یې مینه، شوسان غریبه په کشمکش کې اخته وه...
هغې غوښتل چې د ښځېتوب سپېڅلي فریضه په ښه توګه سرته ورشوي، خو دا یې هم نه شو کولای چې د خپلو جذبو ساه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپله وباسي، نو په دې خاطر زه ډېر لرې ځای ته په دې نيت ځم چې بيا به هېڅکله را ونه ګرځم. زه نه غواړم چې ستاسې پروړاندې د کاڼو ديوال جوړ شم.

په اخر کې زه هيله کوم چې ته به دمينې دا اړيکه له شوسان سره د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې کلکه وساتې او دهغې ساتنه به کوې، هغې ستا له پاره خپل هرڅه قربان کړي دي، له دې کبله هغه ستا د هر ډول زړه شوي او مهربانۍ وړ ده او هر سړی يې بايد له داسې يوې ښځې سره وکړي.

نجيبه! خدای دې وکړي چې ستا زړه تل پاک وي او پراخ زغم ولرې، خدای دې تاسې تل په خپل امان کې وساتي. ستا ورور فارس ليک له لوستلو وروسته پادري په جېب کې کېښود د کړکۍ په خوا کې کېناست، لرې يې د غره پر لور کتل، يوه شيبه به لاتېره نه وه چې يو دم ودرېد ، داسې ښکارېده چې هغه د خپلو فکرونو په راز پوه شوی وي.

هغه دقيق راز چې ظاهره په پردو کې پټ و، هغه وويل: فارسه! ته څومره چالاکه يې، زه پوه شوم ، تا غوښتل چې څنګه نجيب مړ کړم او بيا څنګه د هغې جرم نه برات واخلم، تاته د زهرو په بدل کې شات ورسېدل، تا نجيب ته توره په ورېښمو کې لېږلې وه تا نجيب ته د ليك په ډول د اجل پرښته لېږلې وه.

هغه چې ځان واژه نو اراده يې ستا په لاس کې وه، هئ فارسه! ته څومره عيار يې پادري بېرته په چوکۍ کېناست، وار په وار يې سر ښوراو او په خپلو ګوتو يې خپله ږيره راښکله او په شونډو يې مانا خير زه تبسم خورېده لږه شيبه وروسته يې له الماری نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د (افـرم سـراني) كتـاب راواخيسـت او د هغـه پـاك شـعرونه يـې زمرمه كول او كله ناكله به يې د مړي دكـور نـه د ژړا او فريـاد پـه لور سترګې له كتاب نه پورته كولې''.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لنډه کیسه

یوسف فخري دېرش کلن ؤ چې لـه دنیـا او مـا فیهـا یـې لاس واخست تنها، خاموش او د زاهدانه ژوند تېرولو لپاره یې هغه ویرانه خانقا آباده کړه چې د شمالي لبنان د درې قادیشا په ځنډه کې موقعیت لري. نژدې کلیوالو د هغه په اړه بېل بېل فکرونه درلودل چا به ویل:

( هغه د یوه شتمن او شریف ټبر وګړی دی، د یوې ښځې سره یې مینه درلوده د هغې د بې وفايي له کبله یې زړه مات شو، ښار یې پرېښودلو د هغې د هېرولو په خاطر یې یوازیتوب غوره کړو).

چا به ویل: (هغه د خیالونو د نړۍ اوسېدونکی یو شاعر دی چې خپلو خیالونو او جذباتو ته د شعر او نظم رخت رغولو لپاره د ټولنیزو هنګامو یې لمن را ټوله کړې ده).

چابه دا ډول اټکلوله: (هغه یو عبادت کوونکی صوفي دی چې له دنیا او دنیاوي چارو یې مخ اړولی دین یې قناعت بللی دی.

او چا به په غوڅه توګه ویل ( هغه لېوني دی) لاکن زه؟ زه په دا پېښه کې یو مخیزه خاموش وم ولې چې زه پوهېدم په اروا کې څه دا ډول نازك رازونه هم مېشت وي چې اظهارول یې د اټکلونو تروس تېر وي. خو بیا هم د دې عجیب و غریب انسان سره د لیدلو او مجلس کولو مې زښت آرزو درلوده – ځکه مې دوه ځلي دا هڅه وکړه چې د هغه سره ووینم، حقیقت یې ځان ته معلوم کړم، مقصد او مدعایې درك کړم لاکن رډ، رډ، کاتو او د ځینو داسې ټکو پرته چې د هغه سنګدلي، شوږ هر کلی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

بزرګي ورځني جوتېدله، نور هيڅ بريامې په برخه نه شوه. لومړی ځل چې مې هغه وليدلو نو يې د صنوبر د ګڼوونو سره په خوا کې قدم وهلو. په ډيره خوا خوږې او ښايستګي مې سلام ور واچولو لاکن هغه بې د سر له خو ځښته بل کوم ځواب رانکړو او بيرته له هغه ځايه رهي شو.

په دويم ځل چې زه او هغه سره مخامخ شو د هغه د خالقاه سره په خوا کې د انګورود باغيچې په منځ کې ولاړ وو، زه يې خوا ته نژدې شوم ورځني و مې پوښتل (پرون د يوه چا د خولې خبر شوم چې دا خانقاه کوم سرياني عابد په ځوارلسمه پېړۍ کې و دانه کړې وه! ولې په دې اړه تاشو و ماته کوم معلومات راکولای شئ؟)

هغه زښت په ستوغه لحجه راته وويل. (زه نه پوهېږم چې دا خانقاه به چا ودانه کړې وي او نه ورباندي پوهيدل غواړم!) دا چې يې راته وويل شايې راباندي راوګرځوله په طنزيه لهجه يې راته وويل: (ته دي له خپلي انا ولې په دې اړه پوښتنه نه کوې؟ تر ټولو په عمر هم هغه مشره ده او د دې درو تاريخ هم تر بل هر چا ښه ورمعلوم دی!) زه پر دا خپل طفلانه حرکت پښيمان او پريشان بيرته راستون شوم. دوه کاله خو دغه ډول راباندي تير شول چې دا د اسرارو ډك سړی مې پر خيال او تصور غوړېدلی و.

﴿۲﴾

د خزان د موسم کبسه ده:– زه د يوسف فخري د خانقاه سره خوا کې نژدې غرونو په درو کې ګرځيدم چې توپان را باندي راغئ، باد شو، باران شو، تر ما دا ډول تاو شول لکه څه ډول چې يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مست سمندر تر هغه کښتۍ تاو سي چې پارو يې ورمات کړئ وي او بادبان يې توندې سيلۍ ورڅېرلی وي. په داسې حال کې مې د خانقاه لار ونيوله د خپل زړه سره مې وويل. دا د خلکو بېزاره سړي سره دليدلو په زړه پورې موقعه ده. توپان او لاتده کالي مې د زړه شوي لپاره غنيمت وباله. ځان مې هم دا ډول د زړ شوي په حالت کې خانقاه ته ور ورشولو، لامې د دروازې ځنځير اوس ورشرنګولی نه وو. چې هغه سړی مې تر سترګو شو چې د يوې مودې يې ما د ليدلو تمنا په خپل زړه کې ساتلې وه. د هغه په لاس کې يو مرغه و چې سر يې زښت ژوبل شوئ او وزر يې مات و، مرغه دا ډول چونېدی لکه چې د خپل ژوند وروستي ساعتونه شمېري، د سلام وروسته مې ورته وويل. (و بخښه چې په داسې يو حالت کې تاشو ته راغلم. لاکن څه مې کړي و، نا وسه شوم، توپان خورا توند دياو کلئ له دا ځايه زښت آزاد دی)، هغه په خپل تندي ګونځي وغوړولې،په ځير، ځير يې راته وکتل د حقارت په ډکه لهجه يې راته وويل.

(دلته يو شمېر سمځي شته، که دي زړه وای پناه دي پکې اخستئ شوه).

دا چې يې راته وويل د مرغه پر سر يې دا ډول مېنه ناك لاس را تېر کړو چې تر دې وړاندي مې هيڅ داسې ليدلي نه و. دا توپير منه ډوله رحم او سنګدلي چې مې وليدلی بيخي هېښ پاته شوم. زما لپاره زياته حيرانونکې پېښه دا وه چې هغه راسره دومره بې قدري ولي روا ساتي؟. هغه اوس په پوښتونکو سترګو راته وکتل لکه چې زما ذهني اضطراب يې درك کړو راته و يې ويل. توپان کله هم تروه غوښه خپل خوراك نه ګرځوي بيا ته ولي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځني ډاريږې چې په تاخت يې؟ په ځواب کې مې ورته وويل. دا سمه ده چې توپان له تر شګې سره اړيکې نه ساتي لاکن ساړه او تازه شيان يې خوښ دي نو ځکه زه په دې باور يم که يې ببرته په دام کېو تم نو يوه خوندوره ګوله به مې کړي تر ستوني به يې تېر کړي دا چې يې واورېدل خيره يې يو څه خنده رويه غوندي شوه راته ويې ويل. (توپان که چېرې تا د خونده ډکه ګوله و پاموي او تر ستوني دي شيوه کړي دا به ستا لپاره د دومره لوئ عزت باعث سي د کوم چې ته هيڅ حقداره نه يې) ما په ځواب کې ورته وويل. (دا ځکه له توپانه په تاخت دلته راغلم چې هغه عزت زما په برخه نه سي چې زه يې هيڅ حقداره نه يم.) د خپلې نرۍ مسکا پتهولو په خاطر چې د هغه پر شونډو بې اختياره وغوړېده، اوس يې و ماته شا راوګرځوله و يوې چوکۍ ته يې اشاره وکړه چې د يوې سرې انګيتهۍ په څنګ کې پرته وه. راته ويې ويل (پر دا چوکۍ کېنه او خپل کالي وچ کړه!). ما ورځني مننه وکړه دواړه کېنستو زه پر هغه لرګينه چوکۍ کېنستم چې اور ته ور څرمه وه په منځ کې تورېلې غرنۍ ډبره پرته وه هغه په يوه خاورينه پياله چې تېل ورپکې وو ګوتي ډوبي کړې د مرغه په ژوبلو وزرونو او خوږمن سر باندې ومورېلې. بيا يې را ته وويل (باد او غبار دا خوار مرغه ښکېل کړو خوار په نيم ژاله حالت کې په غرونو را پرېوتو). ما په ځواب کې ورته وويل (دغه ډول زه هم باد او غبار ستا پر در راپريستلم، په دې تر اوسه نه پوهېږم چې زما يې لاشونه رامات کړي دي او که يې سر راله مات کړئ دئ؟

هغه زما خبرې ته په ځير، ځيرکاتو وروستې وويل (څومره به جالبه واى که د انسان فطرت د مرغانو پشان واى. نوره به جالبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وای چې توپان د انسان لاشونه او سر ور ماتولای شوای لاکن بزدلي د انسان په رګونو کې پرته ده توپان يې لا پخپل موج کې ليدلی نه وي چې په سمڅو او کونجونو بېړنی ننوزي).

د خبرو د غځولو په اراده مې ورته وويل. مرغانو ته هغه شرف حاصل ديچې انسانان ورځنې بې برخې دي، انسانان د هغه قانون او دود په شوري کې ژوند تېروي چې يې خپل ځان ته ټاکلي دي لاکن مرغان د دې عام او پراخ قانون سره سم ژوند تېروي د کوم له رويه چې ځمکه تر لمر ګرده چورلي). اوس د هغه په سترګو کې رڼا ښکاره او ځيره يې روښانه شوه. لکه زه چې يې خپل ځيرك شاګرد  وموندلم. هغه راته وويل (ډېر ښه! ژوندی اوسې دا کوم څه چې ته وايې او دغه دي عقيده هم وي نو انسانان پرېږده. د هغو ضعيف دودونه او ناکاره قوانين پرېږده د مرغانو په څېر په يوه داسې ځای کې ژوند تېر کړه چې د ناموس الهئی پرته د هره څه بې برخي پاته وي). ما يې په ځواب کې وويل (زه چې دا څه وايم هم وربانديې اعتقاد ساتم) هغه اوس خپل لاشونه وغوړول په ډېره ستوغه لهجه يې راته وويل. (اعتقاد بېل شی دی او عمل ور باندې کول بېل شی دئ. داسې ډېر خلك شته چې خبري خو د سمندر پشاني کوي لاکن ژوند  يې د باراني اوبو تر ډنډ پراخ نه وي. خپل سرونه د غرونو تر څوکو هم هسك پاموي لاکن ارواوي يې د سمڅو په تيارو کې بيدې پاته وي). دا چې يې وويل هيڅ د خبري مو قعه يې رانکړه را څخه ولاړ شو، شاوخوا پرتې خاشې يې سره راغونډې کړې په اوردان کې اچولو مهالل يې راته وويل: (بوټان دي وکاږه، پښې وچې کړه نودبل(رطوبت) انسان ته  ضرر رشوي خپل کالي دي ښه وچ کړه او هيڅ ډول خجالت مکوه). زه يو څه نور اور ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورننژدې شوم، تر لندو کاليو مې توښ ولاړيدو او هغه د خانقاه په وره کې ولاړ غضب ناکه فضا يې په ژور تيا سره څارله، يو ګړی وروسته مې ورځني وپوښتل. دې خانقاه ته مې ډيره موده وشوه چې راغلي ياست؟ هغه بې د کومې پاملرني راته وويل (دې خانقاه ته زه هغه وخت راغلی وم څه مهال چې مځکه سپېره او ويرانه پرته وه. په سمندرونو تيارې غوړېدلي وې.

او روحونه د اوبو پر سرو رپېدل). زه نور پتېه خوله شوم له ځان سره مې وويل څومره عجيب و غريب ديدا سړی او څومره تريخ ديحقيقت ته يې رسېدل په کار دي لاکن له ده سره خبري کول او د ده د روح اسرار ته رسېدل زښت اړينه ده نو ځکه صبر دځان توښه کومه، آن تر دا چې د ده ستوغه ورځ او غضب په لطف او کرم اړوم.

﴿۳﴾

شپې خپل تور څادر پر درو باندي غوړولئ و. باد او باران دومره په زور وو چې په زړه کې مې دا راوګرځيده توپان د ژوند و ډرولو او مځکه د خس او خاشاکه مېنځلو ته بيرته په جوش راغلئ دئ. د يوسف فخري له ما بيزاري اوس نوره په مېنه او خوا خوږي بدله شوې وه. ګويا د اصل اجزاو پاروني د هغه په روح کې هغه اطمېنان اخښلئ و چې ځني وختونه د عکس العمل په توګه را څرګنديږي.

هغه جګ شو دوې ډيوې يې بلي کړې، بيا يې زما په وړاندې د شرابو ډك منګی او يو پتنوس کېښودلو چې ډوډۍ، کورت، د زيتون تېل او څه وچه مېوه پکې پراته وو. هغه اوس مخامخ راته کېښنستو، زښت د لطف او مهربانۍ په انداز يې راته وويل. (له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما سره چې څه د خوړلو او څښلو اسباب پروت وو ټول ستا په وړاندي دي راځه راسره شریك سه. (موږ دواړو د ماښام ډوډۍ په چوپتیا کې سره وخوړله. دباد سرېی، د باران شرنګی مې اوریدلو ما چې به هره ګوله راپورته کوله د یوسف فخري څیرې ته به مې وکتل چې د ده د خد و خال څخه د ده ذهني حالت او وجداني تلوسې او آرزو ګاني یې درك کړم. د دسترخوان تر ټولولو وروسته یې د اور دان ترڅنګ د پیتلو یوه چای جوشه را واخیستله، په دوو پیالو کې خورا خوندوري شنې چای واچولې. بیا یې د سګرېټو پیکټ پرانستلو په خورا نرم غږ یې را ته وویل (در واخله. سګرېټ وڅکوه!!). ما یو سګرېټ ځني را واخیستلو، په دا بل لاس کې مې د شنو چایو پیاله وه، دا مهال چې مې سترګو کوم څه لیدلو هیڅ باور مې نه وربانډي راتلو. زما د سګریټ د بلولو او د شنو چایو د درو، څلورو کوټونو کولو پس هغه خپل سر وخوځولو، لکه چې زما په افکارو پوهېدلی وي راته ویې ویل. (و تاته په دې خانقاه کې د شراب، سګریټ او شنو چایو په شتوالي حیرانتیا دریږي تش دانه د خوراك پر شیانو او بستره باندي هم حیرانتیا اخستئ یې، تازه هیڅ نه ګرموم. ته هم د دا ډیرو خلکو د ډلي یو یې چې د خلکو څخه د ګوشه توب په خاطر د ژوند او ژوند له ټولو فطري خوندو نو او عادي خوشالیو ګوشه توب یو لازمې سبب اټکلوي). ما په ځواب کې ورته وویل. ( وو! دا عقیده په غوڅه توګه زموږ په ذهن کې غوړیدلې ده چې د خدایٔ د عبادت لپاره له دنیا مخ اړول دا مانا لري چې یوازي او پرئیز ګارانه ژوند دي تېر سي او د دنیا هر خوند او خوشالي دي پرېښودل سي، تش او به او په وښودي ګُزاره وسي) هغه راته وویل. (د خدایٔ د مخلوق

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره په استوګنه کې هم د خدائ عبادت کولای شو نو ځکه عبادت لپاره یوازیتوب او ګوښه توب اړینه نه ده. ما د خدائ موندلو لپاره دنیا پرېښې نه ده، خدائ خو مې تش د خپل مور او پلار په کور کې نه هر ځای مې لیدلو. له خلکو مې ګوښه توب ځکه اختیار کړو چې زما اخلاق د دوئ له اخلاقو بېل و او افکار مې د دوئ له افکارو تو پیر من وو. د خلکو سره مې ټولنیزي اړیکې ځکه غوڅي کړې چې د خپلي روح کېنې اړخ ته اوښتونکې څرخونو کې مې ښي اړخ ته تاویدونکې څرخونه ولیدلو. تمدن مې ځکه پرېښود او زما په اند هغه یوه زړه بې فایدې قوي او ډارونکې و نه وه چې جرړي یې د مځکې په تیارو کې غوړېدلي او ښاخونه یې آسمان ته رسیدلي و لاکن لالچ بد اخلاقي جرم او ګناه یې ګلونه و مېوه یې بدبختي، فکر او اندیښني وې.

ځینو هڅه وکړه چې پیوند یې کړي، د دې ونې طبیعت تغیر کړي لاکن هیڅ بری یې په برخه نه شو دا ډول هغوی د ناهیلۍ، ناوسۍ، او ناکامۍ په حالت کې مړه شول) هغه اوس چوکۍ ته ملا ایله کړه غږ یې نور هم جګ شو ګویا د کلام له تاثیر یې یو خوند هڅېدلو. د خبرو لړۍ یې وغځوله و یې ویل.

)نا! ما د ر هبانیت او عبادت لپاره یوازیتوب نه دیخوښ کړئ په دې خاطر چې عبادت د زړونو سپېځلي ترانه ده په ناشمېره ساندو کې ګیر پاته د دې باوجود تر خدایه رسي. او رهبانیت چې دویم نوم یې پر بدن جبر کول او آرزوګاني یې وژل دي. یوه ستونځه سته چې زما په مذهب کې کوم ځانګړی ځای نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدائ پاك بدن د روح عبادت ځای ګرځولئ دياو زموږ مشوليت جوړيږي چې موږ يې ساتنه وکړو چې دا ډول روڼ، سپېڅلي او هڅاند هم د هاغه (الوهيت) قابل وګرځي کوم چې پکې استوګن پاتيږي.

نا!زما ملګريه! ! ما د زهد او عبادت لپاره ګوښه توب خوښ کړئ نه ديپه دې خاطر مې خوښ کړو چې ماله خلکو د هغو له قوانينو د هغو له زده کړو، د رسم او رواجه، د هغو له اندونو، کړاوونو د هغو له رش او له کشه مې ځان ګوښه کېدل غوره و بلل ما يوازيتوب ځکه مهم و پامولو چې د دغو خلکو ناولي مخونه نور ونه وينم چې خپل روحونه و پلوري په بيه يې دا ډول شيان رانيسي چې په ارزښت او بيه کې څو چنده تر هغو پست پاته وي. ګوشه توب مې په دې خاطر مهم وپامولو چې نور هيڅ له دا ډول مېرمنو سره ليدل نه غواړم چې په هسکه غاړه سترګي رغړوي، په شونډو کې يې ناشمېري خنداوي ناڅي لاکن په زړونو کې يې هم تش يو غرض.!

ما يوازيتوب ځکه غوره وبللو چې د هغه نيمګړو فلسفيانو د ملګرتيا ځان په ډ ډه کړم چې په خوب د علم سيوري ويني او په دا باور سي چې د معرفت په عالم کې ارزښت هم هغه ديکوم چې په دايره کې نقطې ته حاصل دياو چې کله په وينښه د حقيقت سيورئ ويني په دې عقيده سي چې د دوئ د حقيقت واړه او کامل جوهر پخپله ولکه کې کړو. خلوت نشيني مې په دې خاطر مناسب وبلله چې نور د هغه ناپوهانو د تاوده هرکلي ډاريدلئ وم چې مهرباني د اړتيا ، تېر او بېر د بزدلي،او غرورد عظمت يوه بڼه نوموي. مجرد توب مې ځکه ژوند وګرځولو چې روح مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې دولت لرونکو سره په اوسېدلو،اوسېدلو نوره ستومانه وه چې په دا خيال دې لمر، ستوري او سپوږمۍ د دوئ له خزانو راخيژي او د دوئ په جيبونو کې پر يوزي. د هغه رهبرانو مې نور زړه را ډك شو کوم چې د قوم دآرزوګانو سره لوبيږي سترګې يې په طلايي غبارونو او غوړونه يې په مترنم ټکو ور ډکوي د هغو پادريانو زښت تنګ شوئ وم، کوم چې خلکو ته نصيحتونه کوي خپله هيڅ وخت عمل نه وربانديې کوي او له هغو د داسې شيانو د غوښتلو هيله څرګندوي چې د خپل نفس څخه يې هيڅ وخت طلبو لاۍ نه سي.

يوازيتوب مې ځکه د خپل ژوندون مرکز و پامولو چې تر ننه د انسان د لاسه و ماته داسې يو شی رارسيدلئ نه ديچې قيمت دې ما پخپله خوښه ادا کړئ نه وي ما ګوشه توب په دې خاطر خپل مقصد و پامولو چې د دې لوئ پراخ او ډارونکې تعمېره مې نوره کرکه راپاريدلې وه کوم چې دنيا يې (تهذيب او حضارت) نوموي هاغه تعمېر چې د صنعت او نقاشۍ د کمالاتو آينه او د انساني کوپړيو پر کوړه ودان شوئ ديد يوازيتوب تلوسه ځکه راپکې وزبږېده چې په يوازيتوب کې د روح او فکر زړه او بدن لپاره ژوند دئ. ما په دې ويرانو ځنګلونو کې ځان ته کور ځکه خوښ کړو چې د لمرښا ، د ګلو وږمې او د ويالو سندرې لري.

ما دا غرونه ځکه خپل استوګن ځايونه وګرځول چې دلته د سپرلي بې دردې د ګرمۍ ليوالتيا د خزان ترنم نوازي او د مېنې اراده پرته ده. دا نړيدلې خانقاه مې په دې هيله ودانه کړه چې د مځکې له پټو رازونو سره بلدتيا او د خدائ له يادګارونو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشنايي مې موخه وه اوس هغه چوپ شو، ساه يې لنډېدله، لکه يو درونـد بـار چې يې د سره ايسته شوی وي. اوس د هغـه پـه سترګو کې عجيب و غريب جادوګري ځلاوي ځلېدلې او پر څېره يې د عزت نفس، ارادې او قوت موجونه په نڅاشول. ما تـر ډېره د يوې ځانګړې خوشحالۍ په غېږ کې د هغه څېرې تـه کتـل. زه په دې نور هم خوشحاله وم د کومو پټو خبرو د معلوموولو آرزو چې مې د يوې مودې په زړه کې ځنګوله، اوس هغه ټول پر ځای او حق دي ولـي تـه نـه پـوهېږې د ټـولنيزو نـا خوالـو چـې کـوم تشخيص تاشو وړاندې کړلو راته دا ډول څرګنده شوه چـې تاشـو بشـپړه طبيب يا ست او د يوه طبيب سره هيڅ نـه ښايي چې د رنځـور تـر روغتيـا يـا مـرګ نـه وړانـدې د رنځـور د علاجـه منکر سي، دنيا ستا غوندې خلکو ته زياته اړتيا لري، دا بـه د انصافه وتلې وي چې ته ټولنې ته د ګټې رشولو استعداد لرې او بيا هم لمن ورځني ژغورې؟. هغه اوس ښه تر ډېره و ماته پـه ځير، ځير وکتل بيا يې د نا هيلۍ او خواشنۍ په ډکه لهجه راتـه وويل.

د خپـل زېږون دپيلـه د طبيبـانو دا خـواهش پاتـه شوی دی چـې رنځور له رنځه وژغوري دا ځکه ځينو پکې نشتر او ځينو پکـې دارو راوړل لاکن درېغه ټول در ټوله بې د کـوم امېد او بـري پرتـه مړه شول. کـاش! د زمانې د ګردشونو دا رنځېدلی رنځور خپـل لړليځ بستر ټينګ نيولۍ. او پخپلو زړو زخمونو يې قناعت کـړی وای خوداسې نه ده هغه د خپل څادره لاس راباسي هر هغـه څـوك تر غاړه ونيسي چې د رنځـور پوښتنې تـه راغلي وي لاکـن کومـه خبره چې مې زيات لېونی کوي او وينې مې پـه رګونو کې خـوړ کـوي هغـه دا ده چې دا خبيث رنځـور يـوار خو طبيب ووژنـي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته پښېماني ورباندي څرګندوي خپلي سترګي پټي کړي د زړه سره و واي. رښتيا هم دا کامل طبيب و.)نا؟ وروره! په دنيا کې څوك هم د انسان سره هيڅ ښيګړه کولئ نسي څه ډول چې يو بزګر، هغه که هر څومره ماهر او عقلمند هم وي. په مني کې کرونده ريبلی نسي) ما په ځواب کې ورته وويل.
ښاغلې! د دنيا د خزان موسم په وتو ديورپسې ښکلئ زړه وړونکئ سپرلی را روان ديچې ګلونه به پکې وغوړيږي، په باغونو کې به رنګونه ونځيږي او ويالې به په درو کې سندري زمزمه کړي) .
هغه اوس يو شوږ اشويلی واخيستو، تندی يې ګونځي کړو په غمګينه لهجه يې راته وويل کاش! چې و ماته دا څرګند والی چې څه خدائ پاك د انسان ژوندون (موخه مې زمانه) د خپل واړه تعلقات سره. په دغه موسمونو کې وېشلي دي، چې د خپل رفتاراو تسلسل لکبله د عادي موسمونو سره مشابهت لري؟ ولي زرونو کلونو پس پر مځکه باندي داسې يو انسان جماعت را څرګنديدلئ سي چې د روح او رښتينتوب د اصولو سره سم ژوند تېروي به؟ څه داسې وخت به هم راسي چې د انسان به عزت او بزرګي پکې په برخه سي د ورځې د رڼا د شپې د اطمېنانه برخمن د ژوندون په ښي اړخ کې به کېني؟څه دا خوب به يې تعبير ومومې. ولې دا خوب به هغه مهال خپل تعبير ته رسيږي چې کوم ګړی مځکه د انسانانو په غوښو خپله لوږه او د هغه په وينو خپله تنده سړه کړي؟ اوس هغه ولاړ شو خپل ښی لاس يې آسمان ته جګ کړو. لکه د دې عالم سيواد يوه بل عالم په لور چې اشاره کوي هغه راته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

(دا دنیا د لېوني خوب دیاو دا خانقاه د داسې خوبونو ځای نه دیولي چې زه یې د انګڼ هم یې د کونجانو د هر یوه، یوه شي سره په یقیني توګه بلد یم یوازي دانه د دې غرونود هریو کاڼي سره عادي یم زه دا حقیقت د یقین تر بریده تسلیموم چې زه موجود یم او د وجود په ژورتیا کې لوږه هم تنده لرم. دا حق لرم چې د ژوند په خوراك او څښاك کې هغه لوښی وکاروم چې په خپل لاس مې رغولۍ دئ. هم دا یې علت و چې د خلکو مېلمستاو او غوړېدلو دسترخوانوته مې شاکړله. او اوس به تل هم دلته مېشت یم).

اوس هغه د کوټې په منځ کې قدم وهلو او ما دا مهال د هغه د خبرو د هغه د اسبابواو علتونو په اړه خپل د فکر نیلی ځغلولو کومو چې د ده په وړاندي د انساني ټولني دا رنګ عکس را کښلۍ و. چې کرې ورې کرښي یې درلودلې یا یې تور داغونه درلودل آخر چې مې دا ورته وویل هغه نور ودرېدلو. (زه ستا د خیالونو هم دي مقصدونو ډېر زیات احترام لرم لاکن زما په علم کې ده او علم د افشوس پیلامه ده. چې ستا د ګوشه توب له کبله، دې قسمت رټلي قوم یو داسې وګړی د لاسه ورکړو چې قوم ته یې د ګټهي رشولو او ویښولو توان درلودلو) اوس هغه خپل سر خوځولو، راته ویې ویل.

دا قوم هم د نورو قومونو پشان دی ولي چې ټول خلك د یوه فطرته زیږېدلي دي تر منځ که یې کوم توپیر سته هم هغه یې تش د خارجي منظرونو توپیر دیکوم چې هیڅ حقیقت نه لري. په دغه اساس د مشرقي قومونو بدبختي په اصل کې د ټولي نړۍ بدبختي ده، کوم شی چی ته د مغربي ودي سره تعبیروې هغه د بې پایانه غرور یو پراخ سیورۍ دی اوبس!. فرېبجن به تل

(c) ketabton.com: The Digital Library

فـرېبجن پاتـه وي د يـوه حال ويـونکي کـه نوکـان و کـارې کـه يـې خولـه ور وګنډې حال ويـونکۍ بـه وي د وريښـمو جوړ لبـاس کـه واغوندي، په محلونو او حرم سرايونو کې که مېشت سي دروا‌غ رښتيا نومېدلای نه سي. په اورګاډو کې کېني او که پـه الوتکو کې والوزي خيانت په امانت اوړېدلای نه سي.

غلامې. د ژوند غلامې، د ماضي غلامې، د اصـولو، خصلتونو او د لباس غلامې، د مړو غلامې، غلامې بـه غلامې پاتـه وي، پرته بې له دې که يې څېره ورنګوې يا يې لباس ورله تغير کړې! غلامـې بـه غلامـې پاتـه وي څـه وشـوه کـه خپـل ځـان پـه ازادي نوموي هم.

نا! زما ملګرې! مغرب تر مشرق زښت ترقي يافتـه دينـه مشـرق تر مغرب زيات زوال خوړلۍ دی پـه دواړو کـې هـيڅ تـوپير نسـته پرته بې له دې چې د يوه ليوه يا کوم بل ځناور تر منځ شتون لـري مـا د ټـولني ځـانګړې منظرونـه وليـدل تـر هغـو وډر مـې ازلـي انصاف خوښونکۍ ناموس تر سترګو شو چې بدبختي، غلامـې او جهالت په يوه درجه کې ځاري، يوه قوم ته پر بـل قـوم فضـيلت نه وربخښي، دا چې يو ټبرپرېږدي پر بل ظلم نه کوي.) د التبـاس تربريده په حيرانتيا سره مې ورتـه وويـل. (وو! باطـل دی دا تمـدن هم يې واړه منظرونه باطل دي دا واړه ايجادات او اختراعات څـه دي؟ پرتـه بـې لـه دې نقاصـو چـې عقلونـو تـه يـو دروغجنـه تسـلا ورځني رسيږي حالاتکې هغـه پـه اضـطراب او پريشـانۍ کـې ګـير پاتـه وي او دا د واټنونـو غفلـت، د غرونـو او درو همـواري او پـر فضـا بانـدي غلبـه د څـه ده ؟.پرتـه لـه هغـو لګېـدلو مېـوو چـې سـترګي پـه ډکېـږي او نـه زړه پـه مړېـدلای سـي، نـه اروا اوج تـه رشـولای سـي پاتـه شـوې هغـه معمـاوي او کېسـۍ کـوم چـې پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

علومو او هنرونو سره تعبيريږي ګويا زرين تناوونه دي چې انسانان يې په ځلاو او شرنګي هوسيږي پخپلو پښو کې ګرځوي، بلکې دا هغه پنجرې دي چې انسان د عالم زيږون په پيل کې د کېشوانو او غينګو څخه ودانول راپيل کړي و په دې هيڅ نه پوهېدلو چې د دې واړه کاريګرۍ حاصل به بې تش دا وي چې خپلي موټي به په دا پنجرو کې بنديواني ګوري. وو!د انسان دا ټولي کارګزارياني، واړه موخي، برياوي، ټولي جنګ جګړې او دا واړه آرزوګاني دروغجنې دي.

وو! د دنيا هر يو شي دروغجن دياو د ژوند په واړه چټلياتو کښې د يوه شي پرته هيڅ بل يو شي د روح د رغبت، مېنې، شوق او ليوالتيا وړ نه دی. دلته تش يو شي دئ) ما ورځني پوښتنه وکړه ښاغلي هغه کوم يو شي دئ؟.

هغه يو ګړی پټه خوله وو. وروسته يې لاس په ټټر باندې کېښودلو، سترګي يې پټي کړې په څېره کې يې ځلا او تازګي وغوړېده، په ريږدونکې او خواږه غږ يې راته وويل (هغه د روح وينوالی دی، هغه يو تصور دی چې د بې هوښۍ او ناخبرۍ په ساعتونو کې د انسان پر احساساتو ناڅا په يرغل وروړي د سترګو بصيرت يې ور رڼوي او ژوند د انسان لپاره په سندرو کې نغښتئ په رنګينو حلقو کې را ايسار د مځکې او پراخي فضا تر منځ د يوه نوراني ځلي په څير و لاړ ښَکاري هغه ضمېر دی چې د وجود د لمبو يوه لمبه ده ناڅاپه په روح کې وبليږي هغه خس او خاشاك ايرې کړي چې روح يې له څلورو اطرافو ګير ساتلې وي سرپې يې سي پراخه فضا کې لاهو سي. هغه يوه جذبه ده چې د انسان پر زړه باندې نازليږي او هغه حيرانتيا او هېښتيا اخستئ ودريږي هر هغه شي بې حقيقته ورته وايسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د ده په خلاف وي. د هر هغه شي ځخه بد وړي چې د ده سره ملګرتیا نکوي او د هر هغه چا په ضد د بغاوت ناره پورته کوي چې د ده په رموز او اسرار نه پوهیږي هغه یو پټ لاس دیچا چې زماله سترګو پرده پورته کړه، ما خو د خپلو عزیزانو دوستانو او هیواد والو سره یو ځای ګډ ژوند تېرولو چې یوه ورځ مې د خپله زړه ځخه د حیرانتیا او پریشانۍ په حالت کې وپوښتل(دا خلك څوك دي چې راګوري او زما لور ته د راکتونکو حیثیت کوم دی؟

زه دوئ څه ډول پېژنم او دوئ مې چېري لیدلي دي؟ زه په دوئ کې څه دپاره استوګن یم او له دوئ سره ناسته پاسته مې څه دپاره ده. په څه خاطر له دوئ سره غرېږم؟ زه په دوئ کې پردی یم او که دوئ په دې کلي کې نابلده دي. کوم چې ژوند زما لپاره ترتیب کړ او کېلۍ یې و ماته راوسپارلې.) هغه اوس د څه ساعت لپاره پټه خوله شو لکه چې د تیرو وختونو یادونو یې په حافظه کې هاغه تصویرونه او نیم کښه انځورونه تازه کړل چې اظهارول یې دی نه خوښوي، بیا یې خپل لاشونه وغوړول قرار یې وویل. (دا دیهغه کېفیت چې څو کلونه وړاندې رابانـدي غوړېدلۍ و، دنیا مې خوشي کړه بدخوابي تېرول د فکر جذبې او چوپتیا ځخه خوند اخستلو لپاره دې ویران ځنګل ته راغلم،داچې یې راته وویل د شپې ژوري تیارې ځارلو ته د خانقاه وره ته رهي شو وره ته چې نژدې شو. هغه چیغي کړې لکه توپان ته چې مخاطب وي. دا یوه تلوسه چې د روح په تل کې رازیږي کوم څوك چې یې پیژني هغه یې د خبرو په وسیله اظهارولای نه سي او چې څوك یې پېژني نه هغه یې تر قیامته په رازونو پوهېدلای نه سي).!

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۴﴾

یو ښه ګړی د فکر په تال او د توپان د چپغو، نارو سره یې تېر شو. یوسف فخري به کله په کوټه کې قدم وهلو او کله به په وره کې ودرېدلو غضبنا کې فضا ته یې په ځیرسره کتل لاکن زه پټه خوله ناست وم د هغه روحاني ځپې مې هڅولې او د هغه قولونه مې په حافظه کې ځنګول دا مهال مې دفکر موضوع د هغه ژوند او د یوازیتوب هغه خوندونه او کړاوونه چې د ده په ژوند کې نغښتي پراته وو شپه چې نیمه تېره شوه هغه مې څنګ ته ودرېدلو او تر ډېره یې راته کتل لکه چې په حافظه کې د هغه چا خدو خال خوندي کول غواړي. چې ده وربانددي د خپل یوازیتوب او ګوښه توب راز څرګند کړئ دئ. اخر یې د سکون په ډکه لهجه راته وویل (زه دا مهال په توپان کې ګرځیدوته بیرون ځم دا مې یو عادت ګرځولی دیچې په دوبي هم په منې خوند ورځني اخلم دا ونیسه! سګریټ او د چایو چای جوشه که دي شرابو ته زړه و نو په دا منګي کې پراته دي. ګوره! تلتك او بستره په هغه کونج کې پراته دي که چېري خوب درغلو قراربیده سه) دا یې راته وویل یو خیرن تور کوټ یې په غاړه کړو، په خندا یې راته وویل (زه هیلمن یم سهار د تګ مهال به ور وتړې ولې چې بیا به زه تهوله ورځ د صنوبر د ګڼو ونو په منځ کې تېروم). هغه اوس د وره په لور رهي شو، یوه اوږده همسا اخستلو مهال یې راته وویل که دي چېري د خانقاه په څنډو کې توپان بیا راګیر کړي ګوره چې دلته په راتګ کې هیڅ څنډ و نه کړې او زه دا هیله څرګندوم چې ته به له توپانه ډارېدل نه، مېنه کول به زده کړې. ښه ده، ښه شپه درته غواړم!). دا یې وویل بیرنی رهي شو. زه د خانقاه په وره کې ودرېدم تر ډېره مې پسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتل چې آخر ځي کوم لوري ته لاکن نور هغه تيارو زما له سترګو نهام کړو لاکن تر ډيره مې د هغه د پښو سکاسه اورېدله.

﴿۵﴾

سهار شو توپان دربدلی دی، وربځې ببرته شوي دي. د اطرافو غرونه او ډاګونه د لمر په رڼا کې لمبېدلو ما د خانقاه ور وتړلو او پخپله اروا کې مې د دغه معنوي ويښتيا يو ژور اغيز را اخستی راستون شوم، کوم چې يوسف فخري زښت په شدت سره د اظهار په وسيله راباندي څرګند کړی و لاکن کوم ګړی چې آبادۍ ته را نژدې شوم ټول خلك مې روان وليدل او د هغو غړونه چې مې واورېدل نو ودرېدم د خپل زړه سره مې وويل بې دشکه د روح ويښتيا د انسان لپاره زښت اړينه ده ولې چې هم هغه د هستۍ موخه ده نو بيا څه تمدن د خپلو بيلو لباشونو او بڼو له رويه د روح د ويښتيا پيلامه نشوه؟ موږ د موجوده حقائقو څه ډول انکاربدلی شو ولي چې وجود درلودل يې په کار د لوبدلو بشپړه دليل ديامکان لري چې موجوده تمدن يو نړېدونکۍ (عرض) وي لاکن ابدي ناموس (اعراض) يوه زينه ګرځولې ده چې پوړۍ (مطلق جوهر) ته ورسيږي تمامې سي تر دا وروسته مې بياکله هم د يوسف فخري سره ليدل نه دي شوي ولې چې د ژوند اړتياو زه د هغه خزان په موسم کې د شمالي لبنان څخه په يوه ګوښه هيواد کې مېشت کړم، چېري چې توپان بد رنګ او بد خونده ديلاکن هلته د تجرد د جنون يو ډول ستهٔ؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جبران؛ د لبنان ویاړ

واورین توپان خپل لاشونه وپړقول د ځمکې د شنو وښو پر کمبله واورین څادر وغوړیده ، د جوهز او د توت د ونو پاڼې له یخه ورژیدې په سپېڅلو سمڅو کې تیارو اتهونه واچول ، باد شپېلکې وهل ، د لبنان د غرونو د سپېڅلې درې ،، قادیسه ،، په څنډه کې پروت د ،، بشارئ ،، کلی تر اوسه د تړلو دروازو تر شا د باد نڅا او تماشا کتو ته ویښ پاته و ،، کاملې رحمت ،، خپل څلور واړه اولادونه تر ځان را تاو کړي و ، مشر یې ،، بطر وس ،، وریسې ،، جبران خلیل جبران ،، یې یو او بل څنګ ته پراته و ، ماشومه ،، ماریانه ،، په تاوده تلتك کې نغښتې پرته وه او ،، سلطانه ،، چې تر ټولو کشره وه د مور په غیږ کې پرته وه ، مور یې ډیره زغرده وپویدله چې په کینې اړخ کې څوك موجود نشته څلور کلن جبران اوس د خپلې بسترې غاهب و. ډیر فسادي دی بیا به د پلار په ځای کې پروت وي ، پریږده چې یې وترټې په ژړا به راسي ،، کاملې رحمت دا ډول د ځان سره وپتېله په غیږ کې پرتې سلطانې تې الاهو للو.للو پیل کړو چې ویده شي ، هم دا مهال یو قوي جګ تُند خویه سړی په ځنګیدو، ځنګیدو له پوري کوټې را ووتو ، له اسراره ډکې شنې سترګې یې د خطرونو د اور اورکو په څیر ځلیدلې ،، کامله ،، د وخت له دا جبر سره اوس عادي وه هم په دې باندې ښه پویدله خاوند چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې د شرابو روغ بوتل تش کړي بیا ناورین او نورو بدمرغیو ته
څــــــه ، څـــــــه ډول پیلامــــــــې لتهــــــوي.
,, د خوارلو لپاره څه شته ؟ خاوند یې په یو غضبناك انداز
ورځني وپوښتل ، هم دا اوس یې درته راوړم ته دلته کېنه !
کامله لاړه پخلنځي ته روانه شوه چې ناڅاپه جبران ور تر زړه شو
د ځان سره یې وویل هغه که د پلار سره وایي نو تر اوسه هلته څه
کوي هم د هغې کوټې پر لور ور وګرځیده چې دا اوس ، اوس یې
خاوند ورځني را بیروه شوی و، ګیلاس پر ځمکه نسکور پروت
و ، بوتل تش شوی و لاکن په کوټه کې جبران موجود نه و ، اوس
کاملې بیرون ته وځغاستل لوی ، لوی ناري یې جوړي کړې زما
جبران څه شو ، زما جبران څه شو !د تپوس لوري !ما درته څه
وویل چې ډوډۍ را وړه ته ناري وې ، کاملې ورته وویل ته یې
نګورې دا څه د قیامت توپان جوړ دی جبران نشته ، جبران څه
شو ؟ اوس یې خاوند په قهر او غضب ورته وویل ,, چیري به مړ
پروت وي ، ته وماته ډوډۍ را وړه ,, نور یې خاوند ورسره هغه
څه وکړل چې کاملې یې طمعه ځني درلوده ، کامله یې زښت
ورټله ، یو توپان دباندې په چیغو سر و بل توپان کور پر سر
اخستی و ، کاملې به اکثر د داسې توپانونو په وړاندې سر
ځوړند کړو لاکن هغه د یوې ژوبل شوي زمرۍ په څېر د کوره
بېرون ته په منډه شوه ، د انګړ ور پرانستی پاته و مطلب دا چې
جبران بېرون تللی دی ,, أف زما خدایه !مسیح دې ساتندوئ
شي په داسې توپان کې هغه دباندې تلی ولي ,, باد خپړې پر مخ
ورکولې کامله په وړاندې خوځیدله ، څوك او څه په مخه ورغلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هیڅ نه پوېدله ، تر پښو لاندې سپینه واوره او دا ور باندې رهي وه ,, جبرانه !،، د زړه له تله یې دا ناره وخاته ، ماشوم جبران په واوره کې بې سده پروت و کمیس یې د ګرېوان لخوا پداسې یو ترتیب څیرې شوئ و لکه څوك چې د قهر او غضب مهال د عقل او هوښ تراتې وباسي او د مور روح په چیغو او په ساندو شوه ماشوم یې په خپله غېږ کې را ټینګ کړو ، ماشوم غونډ ریږدېدلو لاکن مور په خندا ، خندا تر خپله کوره را ویستلو او په کور کې لویدلی توپان هم نور تهم شوی و، لاکن تر شا یې د بربادۍ زیاتې نخښې پریښې وې ، ماشومان ډاریدلي او لوښي شو پتو سره پراته و ، هر څه چې و کامله یې دا مهال د هیڅ تاوان په کیسه کې نه وه یوازې په جبران دم ګړې زیاته څوریدله چې له ډیره یخه یې ټول بدن شین اوښتی و ، په کور کې د الکحل څه کمی نه و ، د ماشوم جبران بدن یې په براندۍ ور غوږ کړو او تلتکان یې پرې واچول.

یو هغه وخت و چې د عثماني سلطنت تر ټولو ولایتونو لبنان زښت شیراز ، خوسال او عصریز و ، د بیلو نژادونو او مذهب منونکو عسیوي ، سني ، شعیه او یهودیان ټول په خوشالي او خپلوي سره اوسیدل هم دا تصوراتي چاپیریال تر ۱۸۴۰ ء کلونو پورې سلامت پاته و ، یورپې څواکنو د عثماني سلطنت د رنګولو په خاطر په لبنان کې د کورنۍ جګړې وحشي او جنونه ډکې لمبې بلې کړې ، د کال ۱۸۶۰ ء ډلیزه آخ و ډب په لبنان کې د اروا شوځوني تر بریده په غمومې توګه د مذهب په نوم وژنې پیل شوې تر شمیر تیر عسیویان یې په مقدس ځایونو (

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرجا ګهر ) کې حلال کړل ، تر ديريش زره زيات يې و وژل ، بې شميره د وطن په پرېښولو اړ شول ، د ،، ميروني ،، ډلي عسيويانو د بشارئ غرنۍ سيمې ته پناه يوړه کامله رحمت د ميروني ډلې د پادري لور وه په مذهبي چارو بوختـه کامله تر واده وړاندې د سينت ساهمن د ګرجا ګهر ساتونګې وه ډ د خپل د کاکا زوي حنا رحمت سره يې واده وشو مشر زوئ بطروس چې يې وزيږد حنا رحمت په حق ورسيدو ، وروسته د خليل جبران په يو سړي چې د بشارئ ماليه به يې ټولوله د کاملې د ښايست زښت ليواله و هم پخپله ډير ښايسته و ، د جوهزو باغ يې هم در لودلو ، د ښې اقتصادي وضعي لکبله د کاملې مور او پلار يې له ورکولو منکر نشو ، دا تر واده وروسته ور باندې ځرګنده شوه چې دا سړی د ډيرو شرابو څښلو او قمار لکبله له زياتو ستونځو سره مخامخ دئ ، يو داسې بلا سړی دئ چې د کاملې بې له ډاريدلو پرته بله هيڅ چاره ورځني نه وه ، د لبنان د غرونو په سيورو کې کاملې په ډير صبر او زغم د دې يوري بلا خاوند سره په ژوند تيرهولو اړه وه ، په کال ۱۸۸۳ ء کې يو ماشوم وزيږد ، د ماشوم نوم يې د پلار د نوم په نسبت جبران خليل جبران ور باندې کښيښود ، وريسې يې دوه هلکوان او دوې انجوني نور وشول ، د خاوند د ناوړه چلندونو لکبله يې ژوند يو عزاب ورتـه ګرځيدلی و لاکن کاملې په ډيره مردي سره د خپلو ماشومانو په روزنه کې زيار ګاللو ، د وخت په تيريدو سره يې د خاوند په شراب څښلو کې زياتونه پامولـه او څه چې به يې ګټل هغه به يې په قمار کې بايلل د ښه شوکاله ژوند لرلو باوجود يې په کور کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسکینۍ کړې اړولي وې ، د پلار وحشي او غضبناك طبعيت ماشومان ډاريدلي و خصوصًا جبران چې نوري يې خبري هم پريښي وې ، د اوسه بيا دومره حساس و چې د خپل کور چاپيريال ته به يې نظر کړو دننه ، دننه به په زړه کې سره خوړل کيدو ، د خپل ذات د اظهارولو په خاطر به يې په سپينو پاڼو کرښي راکښلي او څه مهال چې به واوره ولويده د واورو پر څپولو بې تر ډيره انځورونه رغول ؤ د نابيره غضبناك توپان په شپه به يې پر ځان کالي ځيري کړو له کوره به په تاخت ووتو ، د توپان په شپو کې د جبران ژغورنه د مور لپاره زښت بې خونده او ستړې ستونځه وه هر ګړی به يې څارولو او دې انديښنو به نوره هم ځوروله چې پای به د توپانونو د دې شهزاده مستقبل څه جوړيږي څه مهال چې يې د مور د انځورګرۍ و ليوالتيا ته ور پام شو ، د کور په يوه برخه کې يې ورته ځای ځانګړی کړو ، جبران هم د مور له دا لوريني په کالو کې نه ځايدو ، د کور دا ځانګړې برخه زياتې د ښايستو کاڼو او رنګينو پينسلانو دوکان ايسدلو او جبران به ټوله ورځ په دا دوکان کې مشغول پاته و په پنځو کلونو کې د کور ټول ديوالونه په سمو او ناسمو انځورونو وپوښل جبران د غرونو ، ويالو ، ابشارونو او ونو په منځ کې د ژوند خوندونه ميندل ، يوه ورځ مور او پلار د لومړي ځل لپاره جبران له ځان سره د سمندر ننداري ته بوتلو د شمالي لبنان په لور بهيدونکې دې سمندر په اړه به جبران د ډول ، ډول خيالونو سره لوبيدلو، تر دې وړاندې يې هيڅ سيند ليدلی نه و ، تر اوسمهاله د هسکو غرونو په ويړو لمنو کې را لوی شوئ و لاکن

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس يې د سترګو تر ديده ارت سيند غوړيدلی پروت و جبران يو نظر آسمان ته وکاتو آسمان او سيند يو رنګي و ، بې شمېره لوی ، لوی بيړې ګرځيدې چې د جبران لپاره يوه نوې او حيرانونکې دنيا وه ، د فطرت يو نوئ انځور د جبران په وړاندې ځليدو چې د ده و تصوراتي نړۍ ته يې پراختيا او ليوالتيا وروبخښله جبران چې بيرته بشارئ ته را ستون شو نو يې په سترګو کې بې پايانه سيند هم ورسره را وړلو او په سيند کې تاويدونکې بيړې يې د خپلو خوبونو برخې وګرځولې ، انځورګرۍ يې ناڅاپه تغير ومونډلو نور يې په اهځورونو کې د غرونو او ابشارونو ځای د سيند شنو اوبو ونيولو ، جبران د دې حيرانونکو منظرونو د خوبونو په تعبيرونو پسې لالهانده و چې يوه بله نوې دنيا ور باندې څرګنده شوه ، يوه ورځ يې پلار د محصولاتو تر را ټولولو پس کور ته راغی پر شونډو يې مسکا رغړيدله ، ويې ويل موږ به ټول بعلبك ته ځو !بعلبك يو مقدس زيارت دئ او دا ښار د لمرين ديوتا په نوم ياديږي ، لوی او پراخ کهنډرات د مقدس زيارت د پام وړ او حيرانونکې چوپتيا د دې ښار مهمه ځانګړتيا پاميږي څه مهال چې دوی بعلبك ته ورسيدلو پر لمرين ښار د سپوږمۍ نازکه سپينه پرده غوړيدلې وه ټول مخلوقات د چوپتيا په غيږ کې بيده پاته و جلالې کهنډرات دا ډول ايسيدل لکه ديب زاد مخلوقاتو چې خپل سرونه را هسك کړي او ښار ځاري ، دوئ ټول په يوه ځنګله کې ميشت شو چې په معبدونو او مقدشو سمځو کې ګير و ، د ځنګل تيارو او د اسرارو ډکو چوپتياو ماشومان ډارولې و لاکن

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جبـران لپـاره دا هـر څـه د زيـاتي خوښـۍ باعـث و لـه ونـو را څخيدونکو تيارو يې سترګو ته ځلا ورکوله تر نيمو شپو به د فطرت لـوڅې ننداري تـه ويښ پاتـه و ، څه ډول چې بـه سپيدې وچاودل شوي جبران به په تاخت پـه ټوپونـو د ځنګل پر لـور روان شو ، يو سهار يې د يوه زاړه معبد در څنګ يو سړی تر ستر ګو شو چې په يوه ويرانه څنډه کې ناست و ، سترګي يې پـه لويـديځ کې کنډلي وې جبـران ښـه تـر ډيـره پـه برنـدو سبرګو ورتـه کتـل وروسته يې پوښتنه ورځني وکړه دلتـه څه غـواړې هغـه سړي پـه ځواب کې ورتـه وويـل ،، د ژونـد پـه اړه فکـر کـوم ،، جبـران ورتـه وويل ،، بس فقط هم دا قدر ؟ هغه سړي په زغـرده ورتـه وويـل ،، ولـي دا قـدر کـافي نـه ده ؟ د دې سړي پـه خبـرو کـې څـه عجبـه غونـدي کشـش و جبـران هښـي سترګي ورتـه پاتـه شـو لکـه چې جبران هم د ژونـد پـه اړه فکـر کـوي او دا وربانـدې پـه لـومړي ځـل روښـانه شـوه چـې د ژونـد پـه اړه هـم فکـر کيـدلی سي جبـران تـر ځلورو شـپو د خپـل ټبـر سـره پـه دې ځنګـل کـې ميشـت و هغـه کهنډراتو ته بې کتل چې يو وخت روغ رمټ او سلامت پاتـه و او اوس يې تش يو څه نخښې پاته وې جبران لـه ځان سره وويـل هـم دا به ژوند وي ، جبران تـه يـوه ورځ پـه زړه کـې ور وګرځيـده ،، د ژونـد پـه اړه د فکـر يـوه لاره دا هـم ده چـې دا ټول منظرونـه دي د کاغذ پر پاڼو انځور سي ،، په دا بل سهار جبران خپل ارزښتناک پينسلونه او د سکارو ټوټې لـه ځان سره واخستې د کـور سـره نژدې د غـره پـه لمـن کـې جوړې خانقـاه (مارسـارکس ) تـه ورغلـو جبران دا ډول وپامولـه ي دا بـه هـم هغـه خانقـاه وي چې پـه پنځمـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیړۍ کې سینټ میرون د خپلو عباداتو ګلونه پکې شیندلي و
هم دلته د شام لومړیو عیشویانو د سینټ میرون شاګردي قبوله
کړه هم له دا ځایه میروبي ډلي وجود وموندلو جبران پخپله د
دې ډلي يو غړی و جبران د میروني ډلي زیاتي کیسې د خپلي
موره وریدلي وې دا ځکه جبران پخپله يو صوفي ایسدلو هغه
هم ۹ کلن نابلده صوفي ، په خانقاه کې په ساعتونو ، ساعتونو
په انځورګرۍ کې بوخت پاتیدل یې اوس ورځنی معمول
ګرځیدلی و ، د خانقاه خلوت ، د خانقاه تر دیوالونو را
څڅیدونکې وحشتونه او فطري منظرونه يې پخپله اروا کې
واخښل وروسته یې د انځوګرۍ په چارو کې ورور هم ور سره
انډیوال شو ، دواړه ورونه زښت پر یو او بل سره ګران او په
فکري کچه یوه او بل ته سره نږدې و ، د سهار له منظرې د خوند
اخستلو لره د لمر تر را خاتو د مخه به دواړو ځانونه خانقاه ته
ورشول ، جبران به په انځورګرۍ بوخت شو او نرور به یې ورته
ګرځیدلو ، یوه ورځ یې ورور ورته وویل درځه چې غره ته ولاړ
شو د غره تر څوکې د وړي څنډي ننداره به وکړو ، جبران په
ځواب کې ورته وویل دا غر څومره هسك دئ ؟ ورور یې ورته
وویل نو څه وشو د غره تر څوکې چې د کومې دنیا ننداره کوو ،
ته راته ووایه هغه کومه بعیه لري ؟ جبران ورته وویل ته سم وایې
لاکن خطر پکې دو چنده دئ ! ورور یې ورته وویل ,, څه عجبه
غوندي خبري کوې ته هم له خطره ډاریږې '' ورور دا وروستۍ
خبره په داسې خارجن انداز ورته وکړه چې د جبران غیرت یې را
وخوړ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د شاعر ژوند

شپه پخه شوې وه او واورې ټول ښار ته سپينې جامې اغوستې وې، تردې يخنۍ وه چې ښاريان د ځان ساتنې په خاطر د کورونو په لور تښتېدلي وو.
د هوا غبړ ساندو ته ورته برېښېده، لکه کوم غمګين چې د قبرونو په مينځ کې د خپل ګران ملګري پر مرګ... لکه د زمري پنجو چې د ژوند له خوندونو څخه بې برخې کړي وي... سلګۍ وهي.
د ښار په يوه څنډه کې وړوکی غونډې کور و چې د کبړو ستنو او پرچت د پرتې واورې له زوره را ټيټ شوی و، چې ګواکې اوس به راپرېوځي د کور په يوه ځنډه کې پر يوې زړې بسترې مرګ ته نږدې يو کس پروت و، نظر يې په يو زوړ څراغ تړلی و چې هره شېبه يې په تيارو باندې د بريالیتوب غوښتنه کوله، خوله ناکامۍ سره به مخ کېده، يو ځوان... پوهېده چې د ژوند له جګړو څخه د خلاصون وخت رانږدې شوی دی د هغه زېړبخنې څېرې د هيلو ځلا او په وچو شونډو يې خپه موسکاښکارېده.
يو نېك انسان ... چې په ژوند کې يې د خوښيو د لاس ته راوړلو لپاره د الهي برکتونو زېرى راوړي و، مخکې لدې چې انسانيت پرې وخاندي، له نړۍ څخه رخصتېده، د هغه اخرنۍ ساه په يو ډول کشمکش کې ليدل کېده، خواکې يې هېڅوك نه وو، پرته

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه زوړ ځراغه چې له یوازېوالي سره یې مینه وه او هغه، پاڼې چې پکې یې خپل نرم او روحاني خیانت راخیستي وو.
دغه مرګ ته نږدې ځوان خپل هغه زور چې دده په غېږ کې بې وسه پروت ور او چت کړ، د هسك په لور یې خپل نظرونه ویوړ او خپل نیم ژواندي باڼه یې داسې وخوځول لکه د ستورو د دیدن لپاره چې د خپل نظر له لارې د جونکړې چت څیروي.

ای ښکلیه!
راشه، زما روح تاته اړ دی، ماته نږدې شه او دا مادي ځنځیرونه مات کړه، زه نور لدې محدودې سلسلې څخه زړه تورن شوی یم.
ای خوږه مرګه!
راشه، څنګ ته مې راشه، ځکه چې دنیا زما له خیاله وتې ده.
یوازې په دې یې هېر کړی یم چې د هغوی پشان د مال او دولت درناوی نه کوم او نه له ځانه کمزوري خلك د ځان غلامان کرځوم.
ای زړه ته راتېره!
راشه، راشه او ماله ځانه سره یوسه! ځکه چې له ما څخه وروسته خلك اوس ماته اړتیا نه لري، راشه او ما خپلې مینه یې غېږ کې ونیسه، زما هغو وچو شونډو ته مچې ورکړه چې کله یې هم د مور د میني خوند څکلی نه دی، چې کله یې هم څېره رایاده شوې نه ده او چاچې تر اوسه د خپل محبوب څېره ښکل کړې نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما مینه ګرکې مرګیه! راشه، زر راشه او ما ازاد کړه.
د مړه کېدونکې تر څنګ يو ښځينه سيوری راپيدا شو، چې د واورو په څېر سپينې جامې يې پر تن وې او په لاشونو کې يې د جنتي ګلانو تاج و.
سيوری راتاو شو د هغه پر غاړه ولګېده او د هغه شونډو ته يې مچې ورکړه... د مينې هغه مچې چې پر شونډو يې تلپاتې موسکا پرېښوده.
اوس پدې کور کې د خاورو يو ډېرې او د هغو پاڼو څخه چې په تياره کې اخوا دېخوا پرتې وې، نور څه نه وو، کلونه تېر شول او ددې ښار اوسېدونکې د بې پروايۍ او سکون په خوب ويده وو.کله چې راوېښ شول او سترګې يې د سهار په نور روښانه شوې نو په عام ډګر کې يې د هغه شاعر بت ودراوه او هر کال يې ورته تلين نمانځه.
اه! د انسان ناپوهي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قانون

له نن نه څو زره کاله مخکې يو پاچا پر يو ملك حکومت کوه، باچا انصاف خوښوونکی و، ډېر زيات پوه او مهربان وه، هغه د خپل ملت لپاره د يو ښه قانون جوړولو په تکل کې و.

د همدې لپاره يې د خپل ملك زر تنه پوهان را وغوښتل چې په پلازمېنه کې راغونډ شي او قانون جوړ کړي، راغوښتل شوي پوهان په پلازمېنه کې د قانون جوړونې لپاره راغونډ شول، کله چې د غو زرو تنو پوهانو زر نسخې قانونونه جوړ کړل او باچا ته يې وړاندې کړل نو باچا يې له لوستلو څخه وروسته خپه شو.

هغه په خپل زړه کې ډېر وژړل، ځکه چې هغه لا په دې نه پوهېده، چې په ملك کې يې زر ډوله جرمونه کېږي، بيا يې خپل ليکونکی راوغوښت او په ډېر اعتماد يې پرې له خپله ځانه اووه ماديېز قانون وليکه.

د پاچا په دې کار باندې پوهان خپه شول او د خپلو جوړو شويو قانونونو سره خپلو قبيلو ته بېرته لاړل او هرې قبيلې د خپل مشر د جوړ شوي قانون پر بنسټ ژوند پيل کړ، تر نننه پورې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

همغـو قبیلـو کـې هماغـه زر قانونـه چلېـږي دا يـو ډېـر لـوی ملـك دی.

پدې کـې زندانونـه دي او پکـې داسـې سـړي، ښـځې او ماشـومان پراته دي چې هره ورځ په زرګونو قوانین ماتوي، بې شـکه دا يـوه ډېر لـوی ملك دی، دا ډېـر زيـات لـوی ملـك دی او ددې ابـادي د هغو کسانو قانون جوړوونکو د اولادونو له امله ده، په کومو کـې چې يوازې يو پوه با چا و.

(۱، م **۵۳**)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انصاف

یوه شپه په پاچاهي ماڼۍ کې مېلمستیا جوړه شوې وه، یوکس مېلمستون ته راننوت او د باچا مخې ته ودرېده، ټولو مېلمنو د هغه لورته وکتل وې لیدل چې دهغه یوه سترګه راوتې ده او له خالي ځای څخه يې وینې رابهېږي.

**پاچا وپوښتل:**(( دا په کوم غم اوښتی یې؟))

**هغه کس وویل:** (( ښاغلیه! زه یو غل یم، یو نن شپه په داسې حال کې چې سپوږمۍ راختلې نه وه، د یو مالدار کورته د غلا کولو په نیت ووتم، خو غلط شوم او د ګنډونکي کورته ننوتم، څنګه چې زه په کړکۍ ورواوښتم نو سر مې د ګنډلو پر ماشین ولګېد او سترګه مې ووته.

ښاغلیه!

زه ددې ګنډونکي پر وړاندې د انصاف غوښتنه کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاچا چې ددغه کس وړاندیز واورېد ، ګنډونکی یې راوغوښت او امر یې وکړ چې یوه سترګه دې یې وویستل شي.

ګنډونکي وویل: (( عزتمند پاچا! ستا پرېکړه سمه ده، چې زما سترګه دې وویستل شي خو پاچا صیب، زه پدې کار کې دواړه سترګو ته اړتیا لرم چې د ګنډلو پر وخت د جامو دواړه لوري وګورم، البته زما په ګاونډ کې یو موچي اوسېږي، د هغه دواړه سترګې روغې دي او هسې هم هغه دوه سترګو ته اړتیا نه لري.

ددې خبرې په اورېدو پاچا موچي راوغوښت او دهغه یوه سترګه یې وویسته پدې ډول د انصاف غوښتنه پوره شوه.

(۱، م ۶۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خپلواکي

ولې محکوم قومونه زړونه نه لري! او یا په زړونو کې د خپلواکۍ هیلې!

ایا په زهرجنه هوا کې ساه اخیستل ددوئ د تقدیر پر پاڼه کوم تحریك ته ورته کار دی او دیا دې نړۍ ته د راتلو په جرم باید ددوئ ژوند د سرو سکروټو په څېر وي.

چې نه، نو!

ای! ځان ته خپلواك ویونکو خلکو!

تاشو ولې د خپلې ازادۍ بې ځایه دعوې کوئ او دخه لپاره یې کوئ!

تر هغې چې یو ژوندی د ځمکې پر مخ د غلامۍ ښکار وي، تر هغې چې خزان د هغوئ جذبې له منځه وړي، هیلې یې زخمي کوي او په اشوېلیو یې بدلوي، تاشو تر دې وخته حق نه لرئ چې د خپلواکۍ ښکلې توري ځان پورې وتړئ او په دې خام خیال باندې مست او خوښ واوسئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې په تاشو کې داحساس جذبه پاتې نه شوه او د نورو په محکومولو ځان ته د حاکم نوم ورکوئ او د خوښئ احساس پرې کوئ، د خپلو غوښتنو د پوره کولو په خاطر درته د مظلومانو هیلې د هېڅ برابر دي، نو تاشو له غلامانو څخه څو واره بدتر یاست او د محکومو قومونو څخه پدې برخه کې ډېر مخکې شوي یاست.

تاشو د ازادۍ هېڅ حق نه لرئ او هېڅکله دا سپېڅلي توري د خپل نوم سره نشئ تړلی، چې سپېڅلتیا یې له منځه یوسئ او بیه یې راټیټه کړئ.

(۱، م ۶۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژوند او ښځه

ما خپل ملګري ته وویل: ته چې دا نن څنګه دده په مټو کې وینې، پرون همداسې هغه زما په مټو پرته ده.

زما ملګري ویل: او سبا به دا زما په مټو پرته وي.

ما ورته وویل: ته وګوره! دا څنګه د هغه په غېږ کې پرته ده، پرون همداسې زما په غېږ کې پرته وه.

زما ملګري وویل: هو بلکل؛ همداسې به هغه زما په غېږ کې پرته وي

ماوویل: لږ وګوره! د هغه پیالې سره یې څنګه خوله لګولې ده او همداسې یې پرون زما په پیاله باندې شونډې ایښې وې

هغه وویل: او سبا به یې زما پیاله کې ښښي

ما بیا وویل: ته ګوره هغه څومره په مینه ګوري، سترګو کې یې د ځان لوګي کولو اظهار دی...

او پرون یې بلکل همداسې ماته کتل

زما ملګري ویل: او سبا به په همدې نظر ماته ګوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماویل: ولې ته نه وینې چې دهغې په غوږونو کې د مینې سندرې وایي، بلکل هماغه سندره چې پرون یې زما په غوږونو کې زمزمه کوله.

زما ملګري ویل: او سبا به ماسره غېږ په غېږ وي

زه غصه شوم، دا څنګه ښځه ده دا؟

لیکن هغه ویل: هغه د ژوند په شان ده، په چاچې د ټولو قبضه ده او د مرګ په شان هغه هر یو ورانوي... او د تل لپاره هر یو په خپلې قبضې کې اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماخذونه


۱.احساس ذبیح الله(۱۳۸۷) ل دوه ښارونه، مومند خپرندویه ټولنه جلالکوټ

۲ . خزایل، ډاکتر حسن (۱۳۴۸) فرهنګ ادبیات جهان دویم ټوک، حیدري چاپخونه-تهران

۳. سالك، زینب (۱۳۸۴)ل، هیله مجله پنځلسمه ګڼه

۴. صدیقي عوض الدین(۱۳۷۶)ل، د جبران خلیل جبران شهکارې لنډې کیسې- پېښور خیبر پښتونخوا

۵.ګوهر، انعام الله(۱۳۹۲) ل، په هېندارو کې اروا وې، مومند خپرندویه ټولنه- جلال اباد

۶.رحماني، ګل رحمان(۱۳۹۲)ل، مړ سړی، ګودر خپرندویه ټولنه- جلال اباد

۷. دېوان، رحمت WWW.FACBOOK.COM/RAHMAT DEWAN

۸. زهیر، عصمت الله، تاند انټرنیټي وېبپاڼه www.taand.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریك یادښت

د افغانستان ملي تحریك د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریك دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحریك په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریك ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملی کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریك هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحریك له ټولو هغو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې د دې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانی ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک د هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (امیرخان یار) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له لیکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لیکوال چاپ شوي اثار:

ورزش

ننګیالی د زماني خوشال خټک یم

ما لا ګل بوی کړی نه و

ځوانان د انټرنېټ په زمانه کې

زهر او اوبه

د سېنګاپور داستان

## ناچاپ اثار:

د ماشوم اروپوهنه

د حافظې تقویت

نثر څنګه ولیکو

د خپرونو لړ: ۳۹

د افغانستان ملي تحریک

www.melitahrik.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**